

Ketabton.com

# ګټیالی

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

PROPERTY OF
ACKU
10809

لیکوال
سعدالدین شپون

۱۳۷۸ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کتاب پیژندنه :

☎: +۹۲-۹۱-۲۵۶۴۵۱۳

دکتاب نوم : ګټیالی

لیکوال : سعدالدین شپون

خپروونکی : دانش خپرندویه ټولنه

کمپوزر : محمدظاهر بابری

دچاپ ځای : دانش کتابتون ، پیښور

دچاپ کال : ۱۳۷۸ / ۱۹۹۹ م

دپښتی طرح : استاد حسن پاوند

# د خپرندوی یادښت

"ګټیالی" د پښتو ژبې د ځانګړي سبک څښتن لیکوال ښاغلی سعدالدین شپون دویم ناول دی، چې په خوږه او ځانګړې ولسي ژبه لیکل شوی دی.

شین ټاغی د شپون صاحب لومړی ناول و. چې خپراوي یې په زړونو کې هیلې راوټوکولې او دا دی ګټیالي په خپرېدا هغه راټوکېدلې هیلې لا پسې تاندې او وغوړېدې.

"دانش خپرندویه ټولنه" د هېواد د یوې خدمتګارې ټولنې په توګه د دې کتاب خپراوی د ځان لپاره ویاړ بولي او د ده د فکر و فن مینه والو ته یې په وړاندې کولو ځان سرلوړی کوي.

موږ د دې پرځای چې په کتوی کې پراته څه وارزوو، پرېږده چې ګران لوستوال یې پخپله د خپل قضاوت وېناو په تله کې واچوي.

د لیکوال د همداسې نورو لیکنو د خپرېدا په هیله

په درناوي
دانش خپرندویه ټولنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ:

ځوانیمرګ امان الله ساهو ته چې لمبرزماو
خوهغه وار ورومبی کړ.
زلمي هیوادمل ته چې داسې بیړه يې
راباندې کوله ته وا پوهيږي چې دامې
وروستی ناول دی . .

شپون

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

PROPERTY OF ACKU 10809

(۱)

# پیلا مه

دادکاپړ شی لانه و راغلی او هرشی هماغسې و چې پلرونو راپرینبي وو. غم ښادی، ټولې آشناوې هسې نه و چې دنیاګل وګلزار وه خو موږ ورسره روږدي وو. قادر او حاجی زر داد لاهم خپل سودونه خوړل ؛ شاه محمد دوکاندار لاهم چې مې تللې دړه یې وهله ؛ موږ هلکانو لاهم دګاونډو دهقانانو دپالیزنه خټکې غلا کول . کوډګرې او فالبینې لاهم خورجینې په شاکور په کور ګرځیدې ؛ دکلو ملایان لاهم دکونډو او هلکانو سره پرتوګ ښنګلي ګیر کیدل . خو هر څه په خپل ځای وو او که چا شکایت درلود نو دخپلې ټندې او تقدیر نه ورپیښه شوې وه . خو چې داناولی شی راغی دخلکو نه یې لوری لودن ورک کړ . یوه لسیزه ، کال و سر ، شپه ورځ ، دمیرپانو په شان ، یو یو ، دوه دوه له درو، له شیلو، دغرونو له دړې ، له اوبو ، دځنګلونو له مینځه ، له سمڅو وتلی ، له ونو راکوزشوي . امسا لګولې ، په منډو ، دزګیرویو سره ، په موټر ، په خره ، په شاتورې آس ، په بایسکل ، په جاله کې پنډونه په سر ، په شاپورې ترلې ، په ټیمی صندوقو باندې دلمر دځلا دپرق ، برقې په سر ، پړونی اچولې ، مخ لوڅې، سر تورې ، لنډ کمیسې ، کلو شې په ښنو ، جګ پوندې بوټان په پښو ، ښنې یبلې ، رنګن ماشومان په غیږ کې ، یویو دوه دوه بسته کورنی نالوستی ، فاکولته پاس ، ډاکتر، ماستر ، میرزا، دهقان ، ځاځکی ، لښتي ، وياله ، نهر اوبيا

داسې سیند چې اوبه یې مړې او خاموشه بهیږي . له بدخشانه ، له هزاره جاتو ، له هراته ، له اندرابه ، له تالقانه....

په دغه بهیر کې علم خان نومی تاجک هم و چې بیا یې ځان فیض زاد معرفي کړ اوویل یې چې یو وخت دپوهنې وزارت دقلم مخصوص مدیر و ، تخلص یې دخپل پلار ، افسقال فیض الله نه اخیستی و چې دچاه آب لوی خان و ، لکه چې دی پخپله کومه دوره دشورې وکیل هم پاتې شوی و . دده سره دعجم جان او حشم جان په نومانو دوه تنکي زامن وو . یوه یې دهغه آس جلو نیولی و چې مور او ماشومه خور یې پرې سپرې وې . علم خان یو دنګ پلن سړی و خو چې به په پیچومي وخوت خولې به پرې روانې وې او په هرو څو دقیقو کې به یې دشاته کتلو په بهانه دمه کوله . ځوانان دغره سرته ختلي وو . هلته یوه وړه چینه راخوټېده او کوزېه ګټو او شګو کې ورکېده . علم خان دغره په نیمایي کمر کې تقریباً په خاپوړو او دبوټو او ونوغنو په نیولو پاس روان و ، چې پاس وخوت دپستو لاسونو نه یې په نوکانو ازغي ایستل . نوروته یې خوږه ، شرمیندوکې موسکا وکړه او دساړه اسویلي سره یې وویل " ای وای جواني !"

ګوډ لاروي امسا لګوله او په هر قدم دی هم نیمه دایره ورسره تاویده . مازیګر لمر په غر غړو و چې ستمیدلی پاس وخوت . چاویل دپوهنتون استاد پوهاند اند خویی دی . خونه سوټ و ،نه بوټ ، خړې جامې ، خړ څادر ، زوی ورته په یوې پیالې کې څه یخې اوبه راوړې او ده څه تور درنجو په شان کوم شی پکې واچاوه ، دشهادت په ګوته یې ولړه او غوړپونه یې ترې وهل .بل زوی یې نورو ته ، دعذر په لهجه وویل ، " بابا په قهوې روږدی دی او چې دی مو . راوسته نو ویل یې که زما قهوه هم درسره وانخلئ خداکه درسره قدم هم واخلم . " خو دعذر غوښتلو ضرورت نه و ، ددې غره دپاسه چاپه چا قضاوت نه کاوه ، هر سړی ځانله تاپو و .

ما بیکه دخپلې وړې لور او خوارنجوکې میره سره پاس وختله . دانداراب دسیند نه دراپورې وتلو په وخت کې یې دلسو میاشتو زوی ، چې په ګل سیب تکری یې شا پورې تړلی و ، او بوترې وې ووړ . یوه دنګه کابلۍ وه چې دځینو

زړونه يې ليدو ته ليواله وو . ايله دګړو دپېچومني نه پس معلومه شوه چې نر خلقي دئ او دمجاهدينو دويرې يې چادري په سر کړې وه .
مړی يې په کټ کې پاس راوخيژاوه . چاپوښتنه کړه چې دامړی څونه دروسانو دښې و اونه دمجاهدينو ، داموولې بار کړی ؟ څلورو خرڅادرو چې کټ يې په اوږو روان کړی و . وويل : مريض و ، مور ډيرې هلې ځلې پرې وکړې خو ده بس همدا پارسي بدله تر مرګه ، تکراروله چې :

وطن آنجاست کازاری نباشد.
کسی را باکسی کاری نباشد.

يوغلی دڼگ زلمی دنورو نه لرې په يوه ګټه باندې ناست و ، دڅپلی شليدلې تسمې يې په يوې ريښکی چې پرتوګانښ ته ورته وه ، تړلې ، ده په يوه موشکش ، په دهنه غوري کې درې شپې خلقيان ايسار کړي وو ، اوس يې نوم موشکش قوماندان و ، د وسلو پسې روان و. يوه بل ګټ ته خيرن کوږ لرګی په لاس تېته کی يوه ځوان په ولاړو تکيه يې وهلې وه ، ديوه نوی ډنګر خرڅادری سره په تاوده بحث لګياو .
دغرونو په نريو ، کږو وږو لارو چې پخوا به يوازې بزې او ګوجر ورختلی شو، د شنو پسلونو له مينځه چې يوازې به يې دوږو سرونه ښوريدل اوتابه ويل خاروي دي چې پکې څري ، نور نه ښکاري ، يوازې ټانتې او وډښوري ، ددرو له سوږو سمبوږو ، دلښلو لام مخ دپېښور په هوارې ، په ګړو ور روان و .

## لومړی څپرکی

انور او ګلاجان وړاندې وروسته ، په يوه کلي او ديوال تر مينځ ګاونډ کې پيدا شوي وو اوپه پېښور کې هم دډبګری ديوه سرای دبام په کرايي کوټه کې ګډ اوسيدل : انور فاکولته پاس و ، ګلاجان ايله شپږم صنف پوره کړی و ، خودې تفاوت ددوی يارانه خرابه نه کړای شوه ، بلکه دادوه کاله په نا آشنا ملک کې اوسيدلو ، نور هم سره خواږه کړي وو . په کندوز کې هم داتور ټولګه کورنۍ لوستې او باسواده وه خو دګلاجان اووه پښته ناڅلوسته تير شوي وو او مور به يې ده ته ميرزا ويل .

دروسانو دیرغل په دویم کال پیښور ته په مهاجر کیدوکې ددوی سملاسي مطلب دعسکرۍ دجلب نه تیښته وه خو انور نور خو بونه لیدل او ګلاجان یې هم په ځان پسې قنجوغه دکندوز نه راوستی و .

انور دادبیاتو په پوهنځی کې یوځه انګریزي زده کړې وه ، اوس یې دآی . سي . آر ، سي په کوروسونو کې داخله اخیستې وه . ګلاجان ددې خبرونه و ، دورځې به یې د میوو او دانو ریړه ګرځوله ، دواړو به پرې ګوزاره کوله . انور پیښور ته د رسیدو سره سم دسفارتونو ددروازو ټکول ، عریضې لیکل او په تنظیمونو کې واسطه بازۍ شروع کړې : یوه نیمه مقاله او ترجمه یې په حزبي اخبارونو کې هم راووتله . دګلاجان برخه ریړه وه ، پخلی او دجامو پریولل وو ، چنداني یې سر هم نه خلاصیده چې انور ولې دومره زاره چاودون کوي ؟ دجمعې ورځ دواړو چوتی کوله او دبام په سر به دنورو مهاجرو په شان دخپلې کوټې په درشایي ناست وو او د جنګونو ، دتنظیمونو او دډبکرۍ دکاسیرو او دموټ معلومات به یې یو بل ته ورکول ، ځینو به خپلې جامې پیوندولې ، دځینو دپخلي داو جاغګي نه به د سکروشنې شغلې ختلې ، ځینو به په تغاروکې جامې پریوللې .

دډبکرۍ دتنګې او ناولې کوڅې دګنه ګونې نا آشنا خو تکراري آواز به و ، "کاکې والئ ، جامې والئ ، مامې والئ " بس همدغسې غږونه به راتلل چې مهاجر پرې نه پوهیدل . په غوږونو به یې ، دوطن په جوماتونو کې دماشومانو دګردان په شان " الف زر آ ، الف زیر اې ، الف پیښ او ، آ اې او " لګیده . ګلاجان ویل چې ایله یو کال پس پوه شوم چې والئ مانا واخلئ یوه ګریزي هزاره عسکر دبام یارانو ته د " آیته بله " کیسه کوله چې هلته دمحسني دفتر و او دی دشناخت پاس دپاره ورغلی و . انور ترې پوښتنه وکړه چې دا " آیته بله " دکوم ځای نوم دی که دمحسني لقب ، آیت الله ؟ هزاره په خندا وویل چې زه هم په اول کې تیر وتلی وم او په زړه کې مې ویل چې دادومره موټرې ټولې محسني صیب ته رواني دي . په پوښتنو ، په اټکلونو معلومه شوه چې هغه بس سرویس چې حیات آباد ته ځي ، کلینر یې غږ کوي ، " شابئ شابئ ، آیته بل له " مانا ژر شئ ، ژر شئ، حیات آباد ته . ځینې دغه کیسې ...وندورې وې . کله به خبره دمجاهدینو په میرانې وه . دوی به د مجاهدینو دبرې او ...اتو کیسې

داسې کولې ، لکه چې ټول جنګ دسپورټ مسابقه وي . هرې خوابه چې توره وکړه دوی به ورته چکچکې کولې . یوه ګریزي پنجشیري عسکر ویل ، " مادر بشینه ، ایته بچه بیاره ، قیربان .... مادرش شوم ، قت ایته بچه زاییدنش ." پنجشیري په سته کندو کې دخپل غونډ کیسه کوله چې دوو ځدرانو ځلمیانو ته تسلیم شوی و . ویل یې موږ به بار چلاوه خوپاس دغرو دیوه نامعلوم ځای نه به یو یو کاری ډز وشو او یو به یې راکې وویشت. منصبدار به په موږ چیغې وهلې ، " پدرنالت ، هدفه تشریح کو " خوچې پاس مو غره ته کتل ددښمن درکه لګیده . په اټکلي ډول به مو دهاوان ګولۍ ورشتۍ کړې او دغره نه به مو دورې وایستلې . خو چې موږ به سوکه شوو ، دغره دبلې ډډې نه به دکاروان په سر موټر ډزې وشوې او بل به یې راکې سټ کړ . دتیریدو لار یې راباندې بنده کړې وه خو دښمن چاپه سترګونه لیده . یو شواروز په دې اوتر حال کې تیر شو ، په آخر کې قوماندان سپین بیرغ اوچت کړ . شیبه پس ینو زلمی دغره دیوې ترې نه کوز را وښویید . پنجشیري ویل ، " امیته درخت خرما واری قیل ، بروتاش چنګ ، ریش چپه تراش ، از چشماش خون می بارید." قوماندان په "اوغاني " ورته څه وویل او خپله تومانچه یې دتسلیمۍ په علامه ور وړاندې کړه، خو ځدراڼ په خندا سروښوراوه ، څه یې ورته وویل . قوماندان په کاروان غږوکړ چې ټولې وسلې په زمکه کښیږدئ . بیا یې نو موږ دستې کندو په دره کې همداسې پلې روان کړو . پاس دغره په ډډه یو بل ځدراڼ لاس په ماشه زموږ سره غبرګ روان و . ډیر وروسته بل سبا ، په موږ کې چا غږ کړ . چې اې بیغیرتو ، همدغو دووتنو ځدرانو زموږ سره مقابله کوله . کله به یې دیوې او کله به دبلې خوکې نه په موږ ډزې کولې چې موږ فکر وکړو چې ډیر دي .

دډبګرۍ دسرای بام کوم خاص یابه زړه پورې ځای نه و ، لکه صوفیانو چې د اهل قبور او اهل صدور توپیر کاوه ، پیښور هم دوې بغرۍ و . په بنګلو ، دفترونو ، موټرونو ، او دشنو سرو په پیښور کې پخپله ځایي خلک او سیدل . جهادي تنظیمونو هم دعربو او امریکا دپیسو په برکت داصلي پیښوریانو سیالان وو، بلکه خینو خو دځایي خلکو نه هم پښې برې اړولې ، آرګاه بارګاه ، پجیروګانو ، دکمپلو دلیو او دخرما موټر بست کجاوو ، یې په ځایي خلکو کې دانګریز د وختونو دکمترۍ او تسلیمۍ احساس راپاراوه . حتی دډبګرۍ په

لاندې دوکانونو کې هم اصلي پيښوريان ، اهل صدور و . خو بيا د بامونو په سر، په سوړو سمبوړو کې ، په تورو تمبوانو ، په شاړو پټو ، پـه کنـډوالو او تشـو تـورو چارديواليو کې ، دمهاجرو ، دخړه کيو داهل قبـور ، ځالـه وه چـې دځنـځو او چينجو په شان پرله اوښتل او غونځيدل .

دوبکرۍ په بام باندې په دې ورځ انور هســې بـې علاقـې دنـورو سـره او دنورو شيانو په باب خبرې کولې ، اصلي زړه يې بل ځاى بند و . هـرې خواتـه يې دځان او ګلاجان په نامه عريضې استولې وې او حتى چې د ويزې په لاترۍ کې يې هم فورمې ډکې کړې وې . پوست باکس يې هـم اخيستى و چـې کـه دبخت باز راغى په غلطې ونې باندې کښيننى . انور او ګلاجان دواړه ښکلي او مزي زنګي وو ، دکندز پريمانۍ يې هډونه لوى کړي او شېرمسته وو . البته انـور چې دپلار پلاره لوستى او مـيزرا پـاتې شـوى و سـپين چکـى او ګلاجـان چـې دبزګرې کورنى ، بلکه پخپله هم دپلار سره پاسره کار و ، غنم رنـګى و اويـو څه دانور نه لوړ و . خو دواړو هماغه وحشي پښتني ښکلا لرله چې سترګو يې خوړل کول . ددوى تر مينځ بل توپير دا و چې ګلا جان کم خبرى ، دروند ، او انـور کړتن او تل په خوځيداو . هغه به تل په ګلاجان پورې ويل چې داسـې سست يي ، لکه ځنځه .ګلاجان به چې دانور نور تپ وتلاش ليده نو ويل به يې ، بيا درکې څه تور غاړي (چينجي) راغونځيدلي دي ؟

يوه ورځ دهرې ورځې په شان چې انور دپوست باکس زيارت نه نيمه خـوا د وبکرۍ بام ته راستون شو او خارج ته دخپل سفر خيال پولاويې ګلاجـان تـه بيا ناوه ، چې هلته څه ښايسته شين ســترګې ، څه پريمـاني او څه ډالـرې دي . ګلاجان ورته په موسکا وويل ، " موږ چې دپريمانۍ پسې وو نـو کنـدوز مـو ولـې پريښود . تير شه د خارج دسودا نه تير شه ." انور په بيصبرۍ ورته وويل " نوولـې ترې راتلو ؟" ګلاجان چې لاهم موښک و ، وويل " اول خــو دعسکرۍ ويـره وه چې بيا به مــو دکـاپرانـو دبـيرغ لانـدې خپـل وطنـداران وژل . بلـه دا چـې کارروايي يې ښولې ، که هسې قمار ، که دځوانۍ نيشه ، بس راغلو نـو . زمـا بـه پيښور ته سودا وه ، ماويلې په دې زيړو ميوو ، نارنجو ، مالټو او نيمبوانو به يې يو څه وخت چرچې وکړو. دا شيان په کټغن کې نشته . مـاويل دقـاق خربـوزې او کونځلو دتيلو نه به لږ رخصت واخلو . همدا خارج دى نو ، اوس مـو نـو انـور

جانه ، تورو اوبو ته مه ځراوه . "انور په ګیله منو سترګو ورته وکتل او ویې ویل، "دخره سرېې رانښکه ګلوته ، دېې رغښتلو ... ته . زه دې دښاپیرو ملک ته بیایم او ته بس ددیوانو تورو ځاګانو ته زور وهې . "

یوه ورځ ناځاپه انور دیوه پاکټ سره راغی ، دګلاجان دلاسه یې چاړه -چې پیاز یې پرې وړول - واخیسته او ایسته یې دبام نه کوزه ګوزاره کړه . دلاسه نیولی یې کوټې ته ننه ایست او هلته یې دپاکټ خط ورته ورپاوه . " خدای دې خوار کړه ، لاتري دې راوتلې ده ، بس امریکا ته روان یې " دګلاجان رنګ زیړ وتښتید " ته هم راسره یې ؟" انور په مایوسۍوویل ، " نه زه چیرته دومره طالع لرم !" ګلاجان ددلاسا پهلهجه وویل " زه بې هغې هم دخارج دتګ لیواله نه یم او نه وم او بې دتانه خو خداکه دپیښور نه بهر هم قدم واخلم . نو داسې به وکړو چې خدای وکړي . ته لاړ شه او زه به بیرته کندوز ته خپلې کرم . ابا یو وزری دی او د شو لو وخت راروان دی .

ډیره شیبه دواړه غلی وو . ګلاجان دکندوز دشولو او خټکو په چرت کې و . شولې خو دده دپلار مشغولا وه خو دخټکو کرل دګلاجان کار و . درست کال یې دنورو بزګرانو دښو خټکو تخمونه ټولول هرقسم زړې یې په بیل کدو کې ساتل ، په هر یو یې دهغې کیفیت لیکه . تور آسقلاني ، ژیړ اسقلاني ، قندک ، اله پوچاق ، اوږدوړې آبي ، ارکانی ، برګ‌نی .. ټولو به ورپورې خندل چې هلک خپله میرزایي ایله په خټکی ازمییې ، مګر کله به چې خټکی ورسیدل نو ده به دنورو بزګرانو سره دمسابقې مجلس جوړ کړ . هرچابه دخپل پالیز نه دخوښنې خټکی راووړ ، په لاړه ( لور) به یې ترازې ترازې کړ . او دکلی مشرانو به هر یو ځکه او قضاوت به یې پرې کاوه . ګلاجان تراوسه اول لمبر نه و راغلی خو خپل دویم مقام یې هر کال ساته . دکلي مشرانو به دقضاوت په وخت کې ویل ، " ګلاجانه ، تاهم ښه خواري کړې ده ، خټکي دې خواږه دي . کابلیان به دې تیر ایستی وو خو دکتغنی نه نه تیریږي ، کابلیان خو بس په خټکی کې یوازې خوږ والي ته ګوري او وایي شیرین است . ځکه نو کابلی تل زیړ خټکی اخلي ، هغه چې نور نو لکاړ شوې وي ، بس ګوروبی ترې جوړوي . که خټکی پیکه وخوت شکره پرې دوړوي . په دې نه پوهیږي چې خټکی ډیر نور صیپتونه هم لري . باید بې حده خوږ نه وي ، خرسنده او تازه وي او داسې وي

چې تالاچاړه ورښکاره کړې نه وي چې دی څو ځایه ترک وچوي، او بلځن نــه وي او چې ته یې خولې ته واچوې . داسې وچ وي ، لکه دقند ټوټې ، هماغلتــه په مدار مدار ویلې شي . بل دختکي عطر دی ، یو نری ، دپرخې غوندې تــازه عطـر او وږمــه چــې داصیـل ګلاب پـه شـان لګیـږي . ستا ختکـی خــوږ والی لري،خرسنده دی ، خو عطـر نـه لـري ." دکلـي ټوکمـار بـه ویـل ، " خیر دې ګلاجانه بل کال دنیال سینګی هندونه یو څه دلونـګو عطـر راوړه اوپـرې وَیـې څځوه ، ګوندې اول لمبر شي ." دګلاجان دختکـو سـره دومـره مینـه وه چــې دخپلو زبده ختکو تخمونه یې په یوه کدو کې دځانه سره ان پیـښور تـه راوړي وو . انور به ور پورې خندل خو ګلاجان به ویل ، په پیښور کــې بـه دچـا زمکـه اجاره کړو اوداسې ختکی به پکې وکرم چــې پیښوریـان ورتـه اریـان شـي ، پـه همدې به ګوزاره کوو .

دګلاجان بل شوق دآسونو و . دوزلوبې خوبونه یې لیدل چې دی ورغومـی په یوازې سر دحلال دایرې ته رسوي او نور چاپ اندازان ورته دآرمان غاښونه چیچي . مازیګر چې به چې دپادې نه غواوې رابیلې کړې دهلکـانو سره بـه یـې دخره په سپرلۍ بزکشي کوله . بس ټول به په شاتورو خرونو سپاره وو او یوه لویـه دلوخو رسۍ چې دوی ورته کبړ ویل ، دهغې یوه ټوټه به یې په زمکـه واچولـه اویا به کوم هلک خپله خولۍ په زمکه ګوزار کړه او دهغې په وچتولـو بـه انـدو خر جوړو . انور هم کله ناکله دا لوبه کوله خو ګلاجان استادو او ګلـه بـه لاپـه خره باندې ودرید . ده ته دخره هر ډول خینجکې معلومې وې او ځان بـه یـې ورسره کړاوه چې توله خرابه نشي . نورو به پیغورونه ورکول او ویل به یې چــې ستا پښې د کولمو په شان نرۍ او اوږدې دي او دخره نه یې چاپیره کړې کولې شې . خو داسې نه وه ، ګلاجان پوهیده چــې د خـره خیـته لویـه ده او دلکـی خواته چاربند یې نرۍ دی ، نو به یې ځان شاته وښویاوه ، او بیـا بـه یـې پـښې ترې راتاو او یوه په بلې کې کنجک کړې . خره به چې هر څه ټوپونـه وهـل او دکتغنیانو په ژبه بغل به یې خالي کاوه ، ګلاجان بیغمه سپور و . ده نورو ته ویل چې چل یې په تسمه کې دی ، سړی باید دخره په ماغزواو نیت پـوه وي چــې دکوم پلو ټوپ وار یې دی . هلکانو به ورپورې ملنډې وهلې چې دکونډ زوی اوس دخره نه هم ماغزه غواړي اوپه خره دلمانځه نیت کوي . ګلاجان په

غويي او سخوندر هم هيله نه کوله او دکلي تږکمار خو ورپسې جوړه کړې وه چې ښه دی چې چرګ دوه پښې لري او کنه ګلاجان به درسته ورځ سپور ګرځيده . دنورو هلکانو په شان دګلاجان هم نيم زړه آس ته نه و ، دهغې خوبونه يې ليدل مګرده آس نه درلود، بلکه په کلی کې هيچا آس نه درلود ، غير دميرزا ستار نه چې هغه يوه بګی اويو دکتغن په اصطلاح غورت ، آس يې درلودل . غورت دوی هغه خوارنجوکی آس ته ويل چې په هر قدم به يې دکولمو نه دغورت غږ و چت شو . دا آس هم يوه ورځ دبګی لاندې دسړک دپاسه ولويد او دتپوسانو مال شو . دګلاجان پلار دزوی په شوق خبرو ځو دومره پيسې يې نه لرلې چې اصيل آس واخلي او دوربشې وس يې هم په ځان کې نه ليده . په کور کې بس يو يابو و چې دآس په ډله کې نه راتـه د يوه غوايه او خره سره دتيلو ايستلو په جواز کې ترلی و او درسته ورځ يې دماشين آرټ تاواوه . پلاريې محمداجان هغه دخپل خره سره اليش کړی و . ګلاجان شاتوری پرې سپريده او هر مازيګر يې دغويانو دسمبالولو نه پس په سيند کې مينځه . ايله ددويم کال په منی کې ديابو دچاربند په هډوکو کې يوڅه غوښه پيدا شوې وه او ګلاجان ورسره من من غوښې اخيستې . وربشې يې هم ورکولې. دزين او قيضې پيسې نه وې ، نو دخره کته يې ورباندې ټينګوله او دبوې نه يې افسار ورله جوړ کړی و . په دريم کال يې شايو څه ښويه شوه او ګلاجان په للمه کې دپسرلی دوزلوبو په ميلو کې لر او بر ځغلاوه . په همدې وزلوبه کې وچې ګلاجان خپل اول نوم وګاټه . کيسه داسې وه چې دکندوز مشهور چاپ انداز ، توخته پهلوان ، چې وزه يې ميدان ته نږدې کړې وه، ناڅاپه له آس نه کوز پريووت . دانو يو نامی آس و او خلکو به ذات ګرګ باله . ويل يې چې په کوم ځنګله کې يو ځناور چې دوی کرګدن باله په يوې اسپې ختلی و او يو خاص قسم نادره آس ترې راپيدا شو چې دکارنامو افسانې يې په کتغن او بدخشان ان ترمزاره خپرې وې . ددې آس يو خاصيت داو چې غير دخپل خاونده يې بل سړی په شانه پرينښود . خلکو به ورپورې ويلې چې پلانکی داسې دی ، لکه دتوخته بای آس ، نه څوک پرې سپريدلی شي او نه په چا سپريدلی شي . دا ځکه چې ډيرو شوقيانو به خپلې اسپې ( ماديانې ) دنسل ګيرۍ په نيت دتوخته بای آس ته راوستې خو ده به د لغتو او کپ اچولو

لاندې په کونډو کړې . اونوربه هيڅ نه و . نوکله چې پهلوان توخته په هماغـه جمعه دبزکشی په وخت کې د ذات ګرګ نه راغوځار شو ، د خلکو غريو وخوت چې دا نامکنه پيښه چې توخته دې له خپله آسه را پريوزي ، څنګه پيښه شوه . اوزبک خو دچا خبره دآس په شا پيدا شوی او توخته خـو خلکـو ويلـې دمـوره دآس دشاپورې سرېښ و . بله بده په کې لا دا چې آس څنګه ياغی شو او ولـې دپخوا په شان رانغی او توخته ته يې زنګون ونه واهه . هيچا داخبره نـه منلی شوه.او چاچې دتوخته غوځاريدل په سترګو ليدل هغـوی سره دا پوښتنـه وه چې ولې؟داڅنګه کېدای شي ؟ اوزبک او دآس نه غوځاريدل ؟

دبزکشی ميدان دبنګي دسيند لر سرته خاورينه غونـډۍ وه چـې خلکـو بـه دوره بلله . توخته په ځای پاتې او آس لا په دوړو کې ورک و. دهمدې دوړو نـه څوک راوووت ،په اوږه يې دذات ګرګ زين و . ايله معلومه شوه چـې پـه اصل کې زين د آس نه پريوتی دی . چې دوړې يوڅه کښيناستـې ، هلتـه لـرې ذات ګرګ هرې خواته غـورځې کـاوه او څوځلـی چـې څونـورو پـهلوانانو ورپسـې وځغستل ، نيوی يې ور نه کړ . او حتی دتوخته زوی چې ورنژدې شـوی و هغـه ته يې هم لغته ورکړې وه . خلکو دتوخته زوی منع کړ او ورته ويې ويل ليونيه ، ذات ګرګ خو به دې پلار درته ويلی وي چې غير له ده نه بل هيچا يـې شـانه ده ليدلې . آس څو شيبې غرګي کول ، ششنيده ، غـاړه يـې دې خـوا هـا خـوا کړوله بيايې لکۍ ډانګ کړه او مخ په غره يې را پريښوې .

دلته و چې ګلاجان يو ليونی کار وکړ . په يابو سپور يې ورپسـې تـراټ کـړ . خلکو ورپسې کتل او خندل يې چې اوس به يابو ښه ذات ګرګ ونيسي! دتوخته بای له خولې چې وينې بهيدلې وې اوس وچې شوې وې ، په خپل زيـن يـې ډډه لګولې وه . چاچينه ورنه وښکله او بل يې موزې وايستلې ، دغره کـې سـره يو هلک ولاړ و ، په يوه نکلي ګيلاس کې يې دخيرنو واورو نه ډک يـو ګيـلا س اوبه ورته نيولې وې ، خو توخته کله بيسده کله په هوښ پروت و چې په هوښ به شو نو يوه کمزوري موسکا به يې خلکوته وکړه اوسربه يې وښوراوه . خلکو به هم سرونه ښورول چې دادچا جادو کوډې وې چې ددوی قهرمان يـې داسـې زبون کړ . چې دتوخته درکه يو څه غلې شوه بزکشي بيرته شروع شوه . دخلکـو پام په بله شو . دقمچينو شرقهار و چې يو بل يې سره وهل ، وينې وې چـې پـه

مخونو رواني وي . دمحب الله خان دجومات خطيب يــوه ورځ په وعـظ کـې دکوم پیغمبر دقوم نوم یاد کړی و چې دومره ګناه يې کړې وه چې خدای امر وکړ چې ددوی دنجات یکي یوه لار داده چې يو بل سره ووژني . خطیب ویل چې دخان آباد په خلکو همداسې حکم نازل شوی چې هره جمعه به ددې په ځای چې جومات ته راشي ، پاس د غونډۍ په سر خپلې ګناوې يو دبل په وینو پريولي .

ناځاپه خلکو وليدل چې له ورايه يو زلمی دتوخته په آس همداسې شاتوری سپور دی او تر شايې یو يابو قنجوغه کړی دی . ګلاجان آس راووست او توخته ته يې ودراوه . خلکو ده ته کتل ، بیا يې ذات ګرګ ته چـې مشهوره وه چـې بچک مې نه دی چې شاتوری څه چې زين کـړی دې لا وربـاندې څوک پـښه واړوي ـ کتل چې آرامه او تابع روان دی . له هغې ورځې وروسـته نـو ګلاجـان په نژدې لرې توابو کې د پهلوانچه ، مانــا کمکـی پـهلوان پـه نامـه يـاديده . کالونه کالونه خلک دتوخته دآس د یاغي کیدو دمعمـا دحـل پـه فکـر کـې و و. ګلاجان هم ، لکه همیش چوپه خوله .

دپینور په ډبګری کې به هم چې کله دجلا وطنی انديښنو پسې واخيسـت ، يا به انور کومه ناکاره خبر ورته وکړه نو ګلاجان به سر دکټ بازو ته تکيــه کـړ ، سترګې به يې پټې کړې او ایسته به دوطن دشولو په پټو کې اویا دآس ددوړو په مینځ کې ورک شو . او د " کاکې والې ، جــامې والـئ...... " یکنواختـه غـږ بـه داسې پرې لګيده ، لکه چې دبنګي سیند دبند لانـدې آبشار تـه ناسـت وي او دهغې هر غږ دده د تصور دخغل سره غبرګې سندرې وايي .

## دویم څپرکی

داځو ورځې کيدې چې انور ترور او وارخطا و ، لکه چې يې هم زړه کـښده او هم ساړه ، کله به يې دګلاجان دفوټوګانو پوښتنه کولـه او کلـه بـه يـې شـک ښکاره کړ چې که دی خپل نوم واړوي هم ، دګلاجان عکس چـې پـه امریکـا کې دمهاجرو ددفتر په کتاب کې قيد دی کله دده د جولې او قيافې سره سـمی کوي . دده سپین صفا مخ و دهغه ګرمو سيځلی سکاڼ . ګلاجـان بـه دلاسـا کاوه چې " مور ته شين سترګې ټول يو ترا ښکاري ، نو مور به هـم دوی تـه يـو

رنګی ښکارو ، ته ورځه خپل کار کوه . او که زما منې راځه دخارج دتګ دسودا نه تېر شه او دکوم تنظیم په دفتر کې ځان ته کـوم کـار وګوره ، انګریـزي دې هم زده ده او د خارجیانو هم په دفترونو کې وار نه دی . دکوم مشـر ترجمـان شه ." انور په ما یوسی ٍ وویل ، " ته څه وایې ، ګوندې مابه هر ور ، څو څوځلـې نه وي ټکولی ؟ نه رانه پیر پاتې شو نه حضرت ، نه ملا ، نه اخواني . دابه ومنـې چې یوه دفتر ته لاړم ، هلته دمشر ناظر ، کلاشنیکوف په غاړه ، د یوه منشـي پـه سر ولاړو او منشي ته یـې دتعویذاتـو دلیکلـو هدایـت ورکـاوه .ویـل یـې دهـر کلاشنیکوف سره دتبغ بندی یو تعویذ هم په کار دی . بس چې هر دفتر ته ځې نور څه نشته ،دمولویانو غومبر او امرونه ، هلکه کـوزه راوړه چـې اودس وکـړم، هلکو عرب راغلی دی چې هغه بل تنظیـم تـه درنـه لاړنشـي ،هلـۍ فرانسـوي عکاس راغلی ، دتلو بندو بست یې وکړئ ، دنابلده سړي سنه څوک نه پوښتـي " ګلاجان وویل ، " یوځلې به دې دجمعیت دفتر ته سرورښکاره کـړی و ، هغـوی خو زموږ دخواوو دي . ؟" انور وویل ، " اول خو داستاد دفتر ته لاړم ، خو چـې پوښتنه مې کوله په هغې کې هم ټول یادمشر خپلوان او یا یې کلیوال.دتالقـانو نه کوز سړی لا مـاپکـې ونـه لیـد، کنـدوز خـوځه کـوې .وروره ټول تنظیمونـه همداسې دي . مشر یې ځانتـه امیر وایـي او زوی یـې بیـا امیر زاده او دمشـر مرستیال دی ، که زوی یې دکار نه وي نو بیا وریرونه او که هغه نـه وي نـو بیـا نور یاران په دفتر قبضه لري . زما خو نور نمت نه و ، بس غوښتل مې چې که په کومه جوپه کې مې امریکا ته ولیږي ، خوځه سهمیې چې راځي هغه هـم ټولـې په همدغو خپلو خلکـو ویشـي . " ګلاجـان وویـل ،" دکنـدوز خوبـه هـم څوک قوماندان او معتبر سړی ور سره وي !" خو انور سـروښوراوه ، " نشـته او کـه وي هم ماونه پیژندل او که ما پیژندلای هم وای ، دوی مې نه پیژني ."

دمیاشتو داني به یوه په بلې پسې رغښتلې او ورسره دملـګرو تـر مینځ ، زړه بداوی نه ، سوړوالی هم نه ، یو قسم یو اړخیزه خاموشـي راغلـه . ګلاجـان بـه دانور سره غړیده ، دورځې حالات به یې ورته ویل چې څوک یې لیـدلی او څه شی یې خرڅ کړي دي . ده به ټل دریړې عایدات انور ته ورکـول ،ځکـه چـې هغه په حساب او دتګ وپوک په انتظام کې ښه و . مګر انور به غلی و او ګلاجـان نه پوهیده چې انور دده نه شرمیږي او که کومه پښه شوې چې انور یـې ګوښه

ګیري ته اړیستي دي . ګلاجان کندوز ته دستنېدو تابیه نیوله او بس دې ته منتظر و چې انور یو ځلې امریکا ته روان شي . ځکه دانور دپوښاک ، ښښاک لګښت همدې ریړې پوره کاوه او بې له ده ریړه نه چلېده . دګلاجان دغه دملګرتوب احساس انور لاهم ځوراوه او ځان ورته دده ځیره خور ښکاره کېده.

په همدې کې اوړی راغی او دشولو وخت ته دګلاجان درسېدو تمه لنډه شوه. دپېښور بېدرکه ګرمۍ دواړه په عذاب کړي وو. یوه شپه چې له بام نه دتناره تپ خوت او ورسره میاشو هم وربـاندې غـوتې کولـې ، دوی پـه کټونـو پراته وو ،ناڅاپه انور په خبرو راغی ، " کوریې وران کړې ، که کنـدوز کـې وای اوس به مې خویندو راته پشه خانه درولې وه ، یابه مې ایسته سیند ته وردانګلـې وای او خیشت څادر به مې په ځان غوړولی و . هلته خو دنیمې شپې نه پس هوا سړیده . دلته تیار دوزخ دی .ټوله ګناه زما ده ، تـه مـې هـم دځان سره لولپـه کړې .ماداسې غوټه کړې وه چې اوس به لادوخته امریکا کې وو . په تامې هـم خراپه کړه ، زه هم نشم تلی . " ګلاجان هیڅ ونه ویل ، انور هم غلـی شـو او تـر نژدې سهاره په خپلو کټونو کې سره اوښتل . ګلاجان دځانه سره ویل چې اوس کار دکاره تېر دی .که بېرته لاړشي نو پلار به وایي ، پېښور کې دې څه ګټه مـټه وکړه او که لالی مې مسـاپـر دی ... وړي ...: راوړي ؟ دځان سـره یـې دعـاوې کولې چې انور دده په ځای په همدې ویزې لاړشي نو دی بـه ریـړه تـر هغـې چلوي چې یو څو روپۍ پیدا کړي او دیو څه سودو سوغات سره کلی ته سـتون شي .

دبرسات دبارانونو سره دډېګرۍ دبام خواله او خوبونه ختم شول .اوبـه لـه درشایي کوټې ته اوښتې او هر څه ختن او نم بویه وو . مګر ریړه لا چلـېده او د اوجاغ په سردیګی لا هم هر ماښام خوټېده .

یوه ورځ ، بلکه یوه شپه داسې یوه پېښه وشـوه چـې انـور بیصبرۍ تـه مـلا وتړله، بلکه پرې وتړلی شوه . قضیه داسـې وه چـې یـوه ورځ چـې انـور دآی . سي. آر . سي د انګلیسي کورس نه راووت یو سړی چې ده ویل له سترګو یـې اور ورېده ، دده مخې ته راشین شو . جګ دنګ سړی و او رنګ کړې ریـره ینې تر نامه رسېده . سړی ور نه پوښتنه وکړه چې هلکه څنګه دکافرانو په جوس کې ولاړ یې ؟ انور خپل کتابونه وروښودل خوهغه کتابونو ته وهـم نـه کتـل او دده

داصلي او اوسنی ځای ځایګی پوښتنه یې ورنـه وکـړه .انـور چـې عسـکری نـه دتښتېدلو خبره ورته وکـړه هغـه پـه مرمـوزه موسـکا وویـل ، " سـم وواېـه چـې دمجاهدینو نه تښتېدلی یم . تا غونډې خلقیان نور هم ستاسره په ډېـګری کـې اوسي ." انور ډېر قسمونه وکړل خو هغه ترې روان شو اوپه همدې حال کې یې وویل ، " خبربه دې واخلم ." چې انور کورته راغی نو داکیسه یې دبـام پـه سـر نورو وطنداړانو ته تېره کړه . یوه سړی په انـور غـږ کـړ ، " خـان آبادیـه ، ددې سړی نه به لرې ګرځې ، دا دحزبیانو کله خور جلاد دی ، بس چې حزب سـړی وروښیي ، نو دی ورځي ، وژني یې . داوارستا لمبر دی ."

انور په ظاهره خو داخبر داری بابیزه واخیست ، خو درسته شپه یې په ویښه تېره کړه . دځانه سره یې وټیپله چې ګلاجان ته نـور انتظـار نشـي ایستلی ، .. سهار دوخته په ډار ډار قونسلګری ته ورغی او کښ په دروازهورننـووت ، دویـزې فورمه یې چې په خپل نامه ډکه کړې وه ، ورکړه . چې بېرته زاووت نو اول یـې هرې خواته وکتل او بیا یې نوراخپلې کړې .

په دې کې یوه میاشت تېره شوه او انور هره شپه له ویرې ناوخته کورته راته زیاتره وخت یې په کورس کې دکتابونو دلوستلو په بهانې تېراوه . چې بـه کـور ته راغی نو هره شپه دکله خوږ په انتظـار بوړنـېده . یـوه میاشـت پـس قونسـل وروغوښت . انور بېرته دراتګ سره ګلاجان ته غـاړه ورکـړه ، او بیـایې پـه آب و تاب کیسه وکړه چې " نوی نـوزی دفتر و او یـوې ښکلـې سـکرټرې راتـه ګوډ مارنینګ وویل .څه ډېره شېبه پس پخپله قونسل راووت او لاس نیولی یې دفتر ته بوتلم . فورمې یې امضا کړې . زما نو زړه درزېده چې پوه نشي . بیا نـو لاړ د الماری نه یـې یـوه دوسیه راوایستله او بېرتـه کښېناسـت . فورمـې یـې تـرې واخیستلې او ډېرې یې لرو بر کړې . کله یې ماته کتل او کله یې فورموتـه .یـوه شوم چې کار وران شوی دی .قونسل چې به فورمې ته کتل نو وچویلی به یـې تریو کړ او چې ماته یې کتل نو موسک به شو . زه سربداله وم ، دقیامت دورځې په شان ، کله ویره کله هیله . بیا یې نو دوسیه وتړلـه او ماتـه یـې دناسـتې سـت وکړ. دآی . سي. آر . سي . دکورسونو پوښتنه یې رانه وکړه او دکندوز پـه بـاب یې رانه وپوښتل . زما انګریزي یې ، لکـه چـې آزمیلـه . بیـایي نـو راتـه کـړه ، «ګلاجان اوته یوځای اوسیږئ ؟" ماوار دواره وویل " زه پخپله ګلاجـان یم " خـو

دی راته هماغسې موسک و . بیا نو جدي شو . " دا فورمه ښکاره ده چې ستانه ده ، لاتري دګلاجان ختلې اوته خدازده څه نومیږي . سم نوم دې راوښیه !" زیاتی نو زما وانی هم خطا وې نو رښتیا مې وویل " زما نوم محمد انور دی ." هغه راته وویل ،" نو دا فورمه دې یا غلاکړې ده اویا دې په پیسو اخیستې او که کو مه بله خبره ده ، حال وایه ." نو ما دځانه سره وویل، بې هغې هم برباد شوم چې اوس مې دپاکستان پولیسوته چې ددفتر نه بهر برچه پک ولاړو ورنه کړي چې بیا هماغلته په جیل کې ورستېږم . نومې اقرار وکړ چې نوم مې محمد انور دی ، ګلاجان مې دماشومتوب ملګری دی او اوس هم سره یو ځای اوسو . هغه بې له مانه خارج ته نه ځي نو فورمه یې ماته راکړه . اوس نو دخدای دپاره ماپاکستانی پولیسو ته په ګیر کې ورنه کړې . خبره وه ، وشوه ، بس نه زه ځم امریکا ته نه ګلاجان ." قونسل ډېره شیبه په چرت کې ډوب وپه همدې کې . تلفون ورته راغي او چې هغه مصروف شو نو زه پاڅېدم او دوتلو تابیه مې نیوله خو هغه په لاس راته دبیا ناستې اشاره وکړه . دتلفون نه پس نو قونسل ودرېد ، څپل ، ګوړاکو ، پایپ او د تماکو کڅوړه یې دیوه بشقاب نه را وچت کړل او خرا مانه دلوی میز نه زما لورې ته راغی . په ناز و نخرو یې اول دپایپ سرخانه په یوه مخصوص چاقو وتوږله تماکو یې پکې واچول ، دچاقو سره یوه بله بلا هم وه چې سر یې پلن و ، په هغې یې تماکو کوز کښېکاږل او بیایې دجیب نه یو لایټر راوایست او پایپ یې ولګاوه . ماته یې نه کتل ، ددفتر کړکۍ ته ځیر و او پایپ ته یې کشونه ورکول . وېرېدم چې ددې کړکۍ نه به بهر دپاکستاني پولیسو سره اشارې کوي چې راشئ او ویې نیسئ . خو دپایپ لوګي تاو راتاوېدل او دپولیسو درک نه و . یره زه وایم لس دولس دقیقې خوبه همدا حال و . وروسته نو په چټکۍ سره راغی او پخپلې چوکۍ کښیناست . اوله پوښتنه یې دپاسپورټ وه . ماویل چې موږ دواړه پاسپورټونه لرو . دمیزپه سر دزنګ تنۍ یې کښېکاږله او چې سکرتره راغله هغې ته یې په شفر کې یو څه وویل . بې هغې هم امریکایان زموږ سره سمې خبرې کوي چې موږ په پوه شو او پخپلو کې بل وړ ژبه کوي . سکر تره ووتله او دیو ګورت فورمو سره بېرته راغله .قونسل له دفتره ووت . زه او سکرتره سره کښیناستو او هغې رانه پوښتنې کولې اوپه فورمه کې یې داخلولې . پاسپورټونه یې رانه واخیستل لر او

برې کړل ، پوه شوه چې جعلي او مېداين ډبکرۍ دي . مايې سترکې خارلـې ، خو دتعجب کومه علامه مې په کې ونه ليـده . تقريباً نيـم سـاعت د فورمـو پـه ډکولو تېر شول . چې قونسل راغئ نو هغه يې لاسليک کړې او پـه هـرې يـوې باندې يې دقونسلګرۍ مهر ولګاوه ، ماسره فوټوګانې تيارې وې پـه دوو فورمـو يې زموږ عکسونه ولګول او هغه يې هم مهر کړل . بيـا نـو قونسـل پـاڅېد او پـه جديت يې راته وويل ، " واخله ، داستا ويزه او دادې دملګري : معمولاً موږ چې پخپله سړي نه وي موجود بل چاته دهغه ويزه نه ورکوو ، خو تاسو دومره سـره نږدې يئ چې نږدې دهغه په ځای ته تللئ وې ، نو دا فورمـه سـتا او دادې د ملګري . دصحي معايناتو فورمه به نانسي درکړي ، هغه په ډاکترانو ډکه کـړئ ، همدا ستاسو پاسپورټ دی ، ستاسو خپل پاسپورټ بېرته درسره واخلئ . " بيايې په موسکا سکرتېرې ته سترګه وټومبله " پربږده چې دغه پاسپورتونه چېرتـه خـرڅ کړي چې دلارې خرڅ يې پرې وشي . " بيا يې نو ماته لاس راکړ ، " امريکا ته پـه خير لاړشئ " چې رخصتېدم راپسې غږ يې کړ ، " ملـګرې تـه دې دخپـل بخـت ويزه ورکړه ، تاته يې انکل سام درکوي . هيله ده چې پخپل نوي هيـواد کـې خپل نوم بدل نه کړې . " مياشتې مياشتې وروسته انور پوه شو چـې انکـل سـام دامريکا بل نوم دی .

# دريم څپرکی

مهاجر دمچنو غږې کانې دي ، چې انور او ګلاجان يې امريکا ته راوويشـتل نو په نيويارک نه ، په کاليفورنيا نه ، بلکه ايسته دامريکـا پـه جنوبـي څنـډه کـې دغره ييز ايالت ، اريزونا په يوه کلي . بلکه دکلي نه بـهر دغـره پـه ډډه ديـوې کوډلې په درشايي پريوتل . دامريکا حکومت چې چاته دمهاجرت ويزه ورکړي نو په امريکا کې دهغه ځای معلوم نه وي . په هر ايالت کې چې کومـې خيريـه موسسې اويا شخص دهغوی دخسمانې ذمه وهله يا ددوی په ژبه سپانسر يې شـو نو هماغه ځای ته يې استوي . انـور وزمـه مـهاجر چـې زيـاترو يـې دکاليفورنيـا دپريمانۍ اوريدلي وې په دې اوم فکر کې وي چې همدا بـه کاليفورنيـا وي ، خوچې له الوتکې نه ستړی ستومانه او جـټ وهلـي ښکتـه شـي نـو دهـاليوود

فلمي ستوري ورته د سټرې مشې سترګکونه وهي اونه يې دافغان مجاهد زنـــده باد شعارونه بدرګه کوي . چار چاپېره ، يا دګمبيری ډاګ وي اويا دجوارو پټي .
انور دغوی په يوه وره دوه ماشينه الوتکه کې ، چې درې تنه نورې سپرلی هم ورسره وې ، دشيکاګو نه داريزونا دپيچ سپرنګز ( دشلتا لانو چينه ) نه بهر پـه ميدان کې ښکته شوه . يو ځګ قدی ، سپين روبی ، سړی چې پـه غـاړه يـې ديوه نري زيړ ځنځير نه داوسپنې لوی صليب ځړېده پـه درنـو قدمونـو ددوی خواته راغی . ځان يې معرفي کړ" فادر ګريګوری!" انور لاس ورکړ او خپل نـوم يې واخيست . يوه وړه ، زيړ سرې شين سترګې نجلی هم دپادري سره وه . هغه يې معرفي کړه "پالين " هغې دخپلې لمنې يوه پيڅکه ونيوله او پـه احـترام يـې زنګنونه يوڅه تيټ کړل ، " How do you do sir " ګلاجان لـرې ، ګنـګس ولاړ و . پـادری هغـه تـه لاړ او خپـل ځان يـې ورمعرفـی کـړ ، هغـه زړه نـازړه لاس ورکړ . نجلی چې ورته په احترام زنګنونه تيټ کړل نو ګلاجـان ورتـه پـه چـوپـه خوله موسک شو او دهماغې غوندې ده هم زنګنونه وښورول . نجلی کټ کـټ په خندا شوه ددوی دنه او نو سره سره . پـادري ددوی ، ميډ ايـن ډېـکري تيمی بکسونه په خپل لاس بهر موټر ته وچلـول . پـه هوايـي ميـدان کـې لـس پنځلس کسان وواوپه حيرانتيا يې دوی پسې کتل .
پادري انور ته دمخکينی سيټ اشـاره وکـره ، نجلـی دګلاجـان سـره شـاته کښيناسته . دسړک دواړو غاړوته تر څوسترګو کـار کـاوه ډاګ او اغـزي وو . دلتـه هلته يو نيم لوی عکس هم دسړک دواړو غاړو ته په لرګينو ستنو سرښن شـوی و ، دموټرو ، دکوکاکولا ، او يو ځای ديـوه وحشـی آس او ورسـره دسـګرټو دشـنې ډېلی اعلانونه وو . داعلانونو په عکسونو کې به خلکو دوی تـه خنـدل او چـې موټر ترې تېر هم شو ، ګلاجان شاته وکتل ، عکس لاهم همده تـه خنـدل . څه کم يو ساعت مزل وروسته مـوټر دغـره پـه ډډه دلرګونـه دجـوړې شـوې يـوې کوډلې مخې ته ودرېدل . پادري بکسونه دننه وچلول . درې کوټې چې غولي يې دزېړو لرګو وو ، يوه بلې ته خلاصېدې . پادري په مينځوی کوټه کې بکسونه کېښودل . انور پوه شو چې دادناستې خونه وه . په سم مينځ کې يو ګردی مـيز و او په هغې باندې منې ، کيلې ، او نورقسم ميوې چې دوی نه پيژندلې په يـوه لوی شکاره کې دلی وې . پالينی درې قابونه ، دچړو پنجو سره چې پـه سـپينو

دسمالونو کې تاو وو د کوټې دځنګ پخلنځی ته راوړل او په میزیې واېښل . لکه چې دې لا دوخته تابيه نيولې وه . دچا يو يو ترموز يې هم راوړ . بيايې نودرې پيالې ورسره کېښودې . پادري ميلمنو ته دناستې ست وکړ ، خو خپله هماغسې ولاړ و . انور کښېناست خو ګلاجان ته حيا ورتله چې يو مشر سړی ولاړ وي او دی کښيني . پادري ، لکه چې پوه شو ، ورغی او په اوږه يې لاس کېښود چې کښيني . انور په عاجزۍ ياده کړه چې دده ملګري سم په انګريزۍ نه پوهيږي . پادري موسک شو . انور ته يې وويل چې زه اوس ځم ، تاسو ستړي او دجګ سفر وهلي يئ ، لږ آرام وکړئ ، زما دتلفون نمبر ستاسو د خوب په خونه کې دتلفون لاندې پروت دی ، چې ستومانې مو ووتله نو ماته تلفون وکړئ . په همدې وخت کې چې پادری دانور سره غږېده ، پالين ګلاجان دلاسه نيولی په پخلنځی ګرځاوه . دشودو او هګيو او چرګانو ډک فريج يې ورته خلاص کړی و او بې غمه يې په انګريزۍ تشريحات ورکول . دپادري ورته پام شو او انور غوښتل مداخله وکړي ، خوپادري يې په سينه لاس ونيو ، " پرېږده چې څه کوي" . پالين دفريج په ځنګ کې داش ور وښود . يوه تنۍ يې کښيکاږله ديوه نغرۍ نه شنه شغله جګه شوه . هغه يې مړ کړ او درې نورې يې په نوبت تاوکړې ، بيايې ټولې مړې کړې . ګلاجان په موسکا دنجلۍ معلمي تعقيبوله . تشناب يې وروښود او هلته يې دسړو او تاودو اوبو ګوتکونه وروښودل او نژدې يې دده لاس سوځولی و . حتئ دهرې کوټې دبجلۍ دسويچونو او تنيو عملي تجربې يې پرې وکړې او بيا يې لاس نيولی مېنځوۍ کوټې ته راووست . پادري پالين ته مبارکي وويله چې ډېره ښه معلمه وه . دواړه رخصت شول او پالين ددروازې تروتلو پورې ګلاجان ته لاسونه ښورول .

دهغوی موټر لاپه کږليچې کې نه و ورک شوی چې انور په کوټه کې ايتن شروع کړ ، ګلاجان ورته حيران حيران کتل ، خو انور داسې په مستۍ ځنې اچولې چې ګلاجان دزړه ارې ورځې ورته لاسونه وپړکول . په همدې کې دانور سروځرخېد او هماغلته په لرګين غولي پريووت . ګلاجان هم ستړی و ، خو ملګری يې د خوب ترکوټې کش کوده ، څادر يې ورباندې وغوړاوه او خپلې کوټې ته راغی . اډکوډ يې ستړي وو ، خو خوب نه ورته .تشناب ته لاړ ، حيران و چې څنګه استنجا وکړي ، نه کوزړی وه اونه بل څه ، نو يې اوبه ترمې

کړې ، په لاس یې وازمیلې او بیا یې ځان لوخ کړ او دشاور لاندې ودرېد. صابون او قسم قسم بوتلونه په تاخچه قطار ایښی وو. ده په بوی یو صابون خوښ کړ او ځو ځو ځلې یې ځان دسر نه تر نوک پورې ومینځه . ویښتان لاهم دخیرې دلاسه ځپلي وو . دځانه سره یې ویل چې دادکالونو خیرې چې دکندوز نه مې راوړې وې ، په دوه درو اوبو کله پستیږي . هماغلته یې اودس وکړ . دشاور دپردې نه بهر ، په یوې الماری کې لس شل سپینې تولیې ، یوپه بل ایښې وې . دخپل تیمی بکس نه یې جالماز را وایست ، خو حیران و چې قبله به څنګه سیخه کړي ، نو بیا یې ګویا ځلوروارې ، ځلورو خواووته ، دمازیګر لمونځ وکړ ، یوه منه یې دمیز له سره واخیسته ، یوچک یې ترې وکړ او په ټالی ټالی دخوب خونې ته روان شو .

ګلاجان چې دخوبه پاڅېد ، دسمځې دیوارانو په شان په دې نه و خبر چې چېرته دی او څو ورځې ویده و . دهوارنګ هم داسې و چې پته نه لګېده چې خړ سهار دی که سکنی ماښام . خودبزګر دزوی نه په اسانه وخت نه خطاکیږي. کړکی یې پرانیستله ، بهر دناآشنا مرغانو دغږنه پوه شو چې سهار دی . ترموز لاد چای نه ډک و خو یخ و ،اودی نه پوهېده چې څنګه نورې چاپې جوړې کړي . د شودو بوتل یې راوایست ، خو اوس داڅنګه تودې شي . نغری یې څو ځلې بل او مړ کړ ، خو دیګی نه و ، بېرته لاړ او یو کیله یې سپینوله چې چاور وټکاوه . چې خلاص یې کړ نو هماغه پالین وه اویوه ټنډ غومبورې چاغه ښځه چې شین دسمال یې په سرپورې تړلی و ، په درشایئ ولاړه وه . یوه لاستیوره ټوکری یې په لاس کې کړې وه . ګلاجان ورته په سر دننوتلو اشاره وکړه ښځې ځان معرفي کړ ، " I am susy " ګلاجان پالین ته اشاره وکړه " پاولی مادر ؟" هغې سر وښوراوه ، " aunt" ګلاجان پرې پوه نه شو . سوسی دننوتلو سره سم ، دسرنه دسمال خلاص کړ اوپه زغرده یې ټوکری پخلنځی ته یووړه . بیانولکه دایی چې خپل کور وي ، دسبناري په تیارولو لګیاشوه . په پخلنځی کې یو میز او دوه چوکی هم ایښې وې . په میز یې یو سپین کالی چې دټوکری نه یې ایستی و ، وغوړاوه، دوه قابونه یې دکاچوغواو لاس پاک سره پرې واوښل . دالماری کړکی یې خلاصه کړه اویوه نوې کرایی یې ترې واخیسته ، په نغری یې کېښوده. ګلاجان کتل چې هلته دیګی او قسم قسم کاسې کېږې دي او په خپلې

نادانی یې وخندل . څلور هګۍ یې په غوړوکې سرې کولې . غوښتل یې چې دګلاجان نه پوښتنه وکړي چې څه قسم یې غواړي خو پوهېده چې جنجال پیښیږي نو د هماغسې یو مخه یې پخې کړې . د فریج دیوه بوتل نه یې دمالټو شربت په دووګیلاسونو کې واچول . څلور توتې ډوډۍ یې په یوه بل ماشین کې کېښودې او چې سرې شوې پخپله یې بهر توپ کړ . ګلاجان په خیر دښځې کارروایي څارله او ښځه هم پوهېده چې دی یې څاري . پالین دانور کوټې ته لاړه او شیبه پس یې لاس نیولی راووست . ددوی نه یې تېر کړ او ښځ یې تشناب ته بوته ، هلته ورسره پوخته وه ، لکه چې د هرشي تعلیم یې ورکاوه . ښځې دفریج نه دمربا یو بوتل وایسته او ترځنګ یې په یوه اوږدوړي قاب کې دسپین کړی ګنی په رنګ اوږده شیان کېښودل چې کوچ و . ګلاجان هغې ته هم ست وکړ خو هغې په موسکا، په خپلې خیتې لاس تېر کړ ، مانا ، مړه یم . نو ګلاجان ډوډۍ واخیسته او پخپلې برخې دوو هګیو یې پېښه وکړه . سوسې او پالین ورته په دلچسپۍ کتل . پالین دوې پارچې ډوډۍ په سپین سترکتوب دګلاجان دمخې نه وچتې کړې . په ډېرناز نخرو یې ، په یوې باندې په چاړې کوچ اوپه بلې باندې مرباوغوړوله . یوه یې په بلې کېښوده ، ګلاجان ته یې ونیوله . ګلاجان په خوږه خندا ترې واخیسته او بیایې دهغې نه مړی بیله او په هګیو پورې کړه . سوسې چایخوښه په نغری ایښې وه . دتشناب نه دانور شړپ شړوپ راته او چې ډېر وروسته راوووت نو لایې هم سر خیشت څلېده . ګلاجان دسبنارۍ نه پس پاڅېده چې پالین دمالټې دشربتو ګیلاس ورته ونیو . ګلاجان دهغې دپاره نیمایي وڅښه خو هغې سروښوراوه اوپه اشاره یې دوڅښه امرورباندې وکړ . ګلاجان داسې وښوده چې ډاریږي نویې تول په سر واړاوه او تش ګیلاس یې لسکور ونیو او ویې ویل " ښه مورجانې ، اوس دې یقین راغی ؟" پالین پرې پوه نه شوه خو درضایت خندا یې وکړه او دلاسه نیولی یې د ناستې خونې ته بوته . بیایې نو دانور سره هم همداکانې وکړې . چاځوښې دخوټېدو شکیلی شروع کړل ، ګلاجان هم پاڅېد چې وګوري دا چای میرات مړی چېرته دی . سوسې ترموس په سرو اوبو کې کنګال کړ ، پاس دالمارۍ نه یې یو تورختین مرتبان راکوز کړ . دهغې له مینځه یې دوه ورې کڅوړې راوایستې، ګلاجان ته یې وښودلې . بس کاغذي کڅوړې وې خو کاغذ یې دتشناب دکاغذ

په شان نرى و . هغه يې په ترموس کې واچولې ، ايشيدلې اوبه يې پرې تويې کړې او دترموز سر يې وتاړه . پنځه ګوتې يې ګلاجان ته وښودې . دې پوه شو چې پنځه دقيقې انتظار وباسي چې چاى دم شي .

چې انور سبنارى ختم کړ . نو ګلاجان ددبکرې دوختونو دعادت سره سم پاڅېد چې لوښي پرېمنځي ، خو سوسى وار ړومبى کړ ، ټول لوښي يې کنګال کړل او بيايې دلوښي مينځلو په ماشين کې ودرول . ديوې ډبلې نه يې څه پوډر دماشين په يوې کځوړې کې واچول او ور يې وتاړه . ماشين يې چالان کړ او د " ګوره چې په امريکا کې څه کارونه روان دي !" په علامه يې وموسل . پالين دې خوا ها خوا لره بره کېده او دانورسرهٔ يې څه ويل . انور ګلاجان دځان سره دخوب کوټې ته بوته او هلته دواړو خپل خيرن کالي په يوه کځوړه کې سره واچول او بهر يې راوړل . سوسى بيا کارروايي کوله خو پالين کځوړه واخيسته ، ګلاجان ته يې اشاره وکړه او يوې بلې ورې دخرڅځانې په شان کوټې ته ننوتله . هلته يې جامې په يوه ماشين کې واچولې ، دوه کاچوغې پوډر يې ديوه ستل نه په کې واچاوه ، دتودو اوسړو اوبو تنې يې سره برابرې کړې او ماشين يې چالان کړ . دهغې څنګ ته بل ماشين تش پروت و . پالين دهغې وربېرته کړ . مينځ يې دغلبيل په شان سورې سورې و . په اشاره يې ګلاجان پوه کړ چې دا دکاليو وچولو ماشين دى .

سوسى او انور خوړه مرکه شروع کړې وه چې ګلاجان يې په تور بور خبرنه و ، نو دپالين سره بهر وووت يو وړوکى پټى يې په کوډلې پورې لګېدهٔ چې ګلاجان پوه شو ، يو وخت باغچه وه . دوه درې ډکي سارايي ګلان نيمه مړاوي ولاړوو . د ګلاجان لاسونو دزمکې او خاورې پسې خارښت کاوه . ګلانو ته ورغى ، څه وچ ډنډر يې په نوکانو غوڅ کړل ، په يوه لرګى يې دبوټې بيخونه راوړسپړل . پالين ، اشاره ورته وکړه او روانه شوه . لږ لرې يوه بله وړهٔ دلرګو نه جوړه شوې کوډله وه بادو باران او دکالونو بې پرداختې کړه کړې وه . دجندرې په خاى يې په وره کې يو دوسپنې کنجک لګيدلى و . پالين ور پرانيست . اوپه درشايي ودرېده . ګلاجان دننه شو . دغنو جالې وې او له شاتنى کړکى نه يې يو خيل مرغان بهر والوتل . يوې خواته بيلونه ديوال ته تکيه وو او لرونه په ميخونو خړېدل . ګلاجان يو بيل راواخيست او په لاس کې يې

وارمیبه، بل یې راواخیست . دایې بېرته کېښودل ، اول بیل یې بهر ته راوایست او نبغ باغچې ته لاړ . دپالین دلیوالو ستر کو لاندې یې اول لاس ته لاړې ورتو کړې او بیا یې تولّه باغچه واړوله . پالین دکوم ځای نه داوبو ربړې نل راکشکوده او کلانو ته یې اوبه ورکړې . په همدې وخت کې سوسی او انور راووتل ، سوسی پوه شیبه د کلاجان ننداره وکړه او بیا یې پالین دخانه سره موټرته وخېژوله او روان شول .

انور ، لکه بیزو چې نوي چاپېریال ته راشي دپخلنځی ټول سامانونه یویو له خپلو ځایونو وچت کړل ، وایې زمیل او بېرته یې کېښودل . دتشناب تولیې یې پټ په پټ وشمېرلې ، دکوټې کړکی یې پرانتې ، بېرته یې بندې کړې ، فرج یې خلاص کړ او هر خوراکی شی یې بوی کړ ، کوچ یې وځکل ، دوطني کوچو تروسکن خوند یې نه و ، داسې لګېده ، لکه دکونځلو تیل چې پرند شي . پاس درف په سر په ارت خولوبوتلونو کې قسم قسم مسالې وې ، خوانور یکې یکی یوه ، د بوی نه وپېژندله چې تور مرچ و . چې ګوته یې په لاړو خیشته کړه او نور یې وځکل یو دسوندي ، بل دکور کمن او بل دزنکی خوند کاوه . دلوښومینځلو ماشین غلی شوی و . وریې پرانیست او دهغې تود بړاس یې په مخ ولګېد . وریې هماغسې آره تی پرېښود . کلاجان ورته کتل او دده دتجربې نه یې زړه کول . په آخر کې یې دومره وکړل چې دکالیو دماشین نه یې جامې وښکې او په هغه بل ماشین کې یې کېښودې ، دپالین دهدایت سره سم یې تنی راښکله چې کالي وچ شي بیا یې پخلی ته مخه کړه . دفرج نه یې یو سلامت چرګ وښکه ، پرې یې مینځه ، اود وندی کولو په وخت کې یې پام شو چې یا چاړه ډېره تېره ده اویا غوښه نرمه . انور ورته دکم ځای نه دپیازو کڅوړه وموندله . او هغه بوتل یې پیدا کړ چې کوکنګ ایل ، دپخلي غوړي ، وربانديې لیکل شوي وو . بیا یې نو پخلنځی کلاجان ته پرېښود ، کوټی ته لاړ او دتلویزیون دتنیو سره یې لوبې شروع کړې ، خو تصویرونه ټول تت راتلل . دتلویزیون ترڅنګ یوه کتابچه وه چې په هغې باندې دزقوم دونې تصویر و ، په لوی خط وربانديې لیکل شوي وو : اریزونا . انور په پاکستان کې ، داسلام آباد په لارې دزقوم اغزني ونې دکوروونو ترشا ، په وچ ډاګ یا هدیرو کې لیدلې وې . ددې پاڼې یې له اوږدو اغزو ډکې وې او دیوې پاڼې په بهر بله

راشنه شوې وه او همداسې تر هغې لويدې چې زياتي به ډېر دهغې دبار دلاسه کوږ شو . په کندوز کې دا بلاوې نه وې ، هلته صرف زوزان و و . انور کتاب پرانيست او په لوړ غږ يې ، چې ګلاجان يې په پخلنځي کې واوريدای شي ، دکتابچې اول مخ ولوست .

دامريکا هر ايالت ځانله حکومت ، دمشرانو اوکشرانو جرګه ، اساسي قانون،ايالتي سرود ،نښانونه او ټرت ولغت لري . داريزونا نوم دسره پوستو هنديانو له ژبې نه راغلی چې " وړوکې چينه نوميږي " داريزونامل ي ټوټي زقوم ، ملی مارغه يې هغه چتکۍ دی چې دزقوم په ونه لک بوک کيږي ، دولتي شعار يې " دولت دخدای له لورې دی " او ملی پارک يې هغه ځنګل دی چې اوس يې ونې دخدای په قدرت په کاڼو بدلې شوې دي .

ګلاجان چې مخ يې ددېګي دتاوته لرې نيولی و او په ځمځی يې لړه په خندا وويل ، " اوس يې درګز کړه ، انور جانه دځوزانو نه خلاص شوې ، په زقوم واوښتې . " قورمه يې راوايسته او کالی يې وغوړاوه . انور دکتابچې هغه پاڼه کت کړه چې دی وررسيدلی و . په قاب کې ښايسته زيات لعاب ووخو دچرګ درک نه لګېده . ټول ويلې شوی و . ګلاجان وويل ، "داهم دپښورپارامي چرګان دي ، غوښه په اوله دړه کې لادرکه شي ... يره ، چې په ډېران کرواړې ونه کړي ، رنګ دې ورک شي . "

## خلورم څپرکی

پادري ګريګوري چې خپلو ديني لاربښودنو وربانديې دټول بشريت دژغورلو دين ايښی وه انور دغو ته پخه اېښې وه چې عيسوی کوې به يې . پخوا دهغوی تر راتګه دوه درې مياشتې يې ګويا خپل کورنی کار وربانديې کړې و قرآن شريف يې په ترجمه کې لوستی و او په ځينو مخونو يې په ژېړ قلم جملې او فقرې نښه کړې وې . په عين حال کې يې تعجب کاوه چې دغسې ساده او له دنيا نه ناخبره خلک څرنګه دشوروی اتحاد په شان قوت سره ډغرې وهي . دافغانستان په تاريخ يې هم څه کتابونه کتلي وو ، نو ډېرليواله و چې يو ځلې دغه زلميان کچ مېچ کړي ، د همدې کبله ددوی سپانسر شوی و .

PROPERTY OF ACKU 10869

انور يې سمدلاسه په خو کورسونو کې شامل کړ او ګلاجان ته يې په خپله په کليسا کې انګريزي وربنودله . دګلاجان خونده نه وه خو انور خپل کورسونه په شوق په مخ بيول او هر کورس به چې خلاص شو داعلى درجې تصديقنامه يې راوړه .په کور کې دانور او ګلاجان تر مينځ دومره زيات دزړه خواله نه وو ، انور چندانې وخت نه درلود . ډېر کله بـه دشپې ناوختـه راغـى او دګلاجـان خـو هماغه زوړ ددهقانى دوخت عادت پاتې و چې پس دماښام دنـاري نـه خـوب . دېکشنبې په رخصتيو کې به انور دخپلو ملګرو سره ميلې يا پارټيو ته ته ، ګلاجان به دلوست دپاره ديکشنبې ، مازيګر چې عيسويانو به خپل ددعامراسم ختم کړي وو کليساته ورته او بيا به که هر څومره ، پادري ورته دموټر ست کـاوه ، ده بـه د خپل کتابګي سره پلى کورته راتګ غوره ګانه . په لارکې به دګلي خلکـو ورتـه کتل ، له لرې يې لاسونه ورته ښورول او ده به هـم ددوى کـار کـاوه ، پـه دې فرق چې هغوى به دلاس دښورولو سره موسکا هم کولـه او ده فکـر کـاوه چـې ورپورې خاندې به .

دپادري هغه وخت وېره پيداشوه چې يوه ورځ ګلاجان دسبق لپـاره کليسـا ته ورغلى و ، پادري لا خلکوته وعظونه کول ، ښايسته ډېر وخت پـاتې شـو ، پـه همدې کې دماسپښين دلمانځه وخت شو . ګلاجان چې په کور کې يـې اودس کړى و، هماغلته په کليسا کې پـه يـوه کونـج کـې پـه لمـانځه ودرېد . عبـادت کوونکو دسترګو په ترڅ کې ورته کتل او پادري هم ناارامه شو . بيا يې نـو فکـر وکړ چې سړى به عيسوى لمونځ کوي خو چل به يې نه ورځي .په هغه مـازيګر چې ګلاجان کور ته وسېد ، دپادري موټر يې ولاړ وليـد . پـه ښـېره ورغـى چـې ميلمه ته عزت ورکړي . روغبړ يې وکړ او بيـا يـې پـه يـوه قـاب کـې دوه مـنې ، دچاړې اولاس پاکه سره را وړل ، پادري په ډېر دقت منه پوسته او څلورتـرازې کړه . دمينځ نه يې زړې په ډېر دقت پـه چـاړې وايسـتل ، بيـا يـې يـوه تـرازه واخيسته . ګلاجان ته ګډشو چې جيزس دبنيادم ناجي دى او کليسـا د جـيزس کور دى او بايد چې دپاکې عقيدې او په جيزس باندې دمينتوب او مينـې سـره کليسا ته ننوزو .. دګلاجان سرپه دې انګريزي نه خلاصـېده خـو پوهـېده چـې دکاپرانو ملا په خپل حساب وعظ کوي .چې هغه غلى شو نو ده ورتـه لنـډه پـه لنډو څواب ورکړ " يوور پيغمبر جيزس، اوه ر پيغمبر ، محمد يـوور ديـن عيسـايى ،

ای ... د دین اسلام ." پادري ګریګوري پس له یو څه فکر نه د ګلاجان په خبرې پوهېده ، ویې موســــل ، پاڅید ، د ګلاجـان پـه اوږو یـې لاس کېښود ، " You'l come around, so.. . اخر به ګوتو ته راشې زویه !

دسړک نه یوه نرۍ په سرو خښتو فرش لار دګلاجان دغـوی کوډلـې تـه تـېره شوې وه .ددې یوې خواته پخوانۍ باغچه وه چې ګلاجان یوه هفتـه وربـاندې کار وکړ ،څلور ورکوتې دایروي پټې یې پکې جوړکړل . په هر یوه کې یې څلور کونجه واړه کوړو کي جوړ کړل او دسرو خښتو دډېرۍ نه یې چې دهغــې بلـې ورانې کوډلې مخې ته دلۍ وې اولاهم دکوم پخوانې ساختمان سمیټ ورپورې نښتي وو ، وړې کنکورې جوړې کړې اوګویا دکندوز باغچه یې ترې جوړه کړه . دنرۍ لاربلې خواته شړه زمکه یې هم همدې ته ورته سازه کـړه اود کنـدوز پـه اصطلاح سوال اوځواب پټي یې جوړکړل . لا یې بوټې په کـې نـه وو ایـښې او چندانې نه پوهېده چې څه شي پکې وکري .انور به چې سـهار او مـابښام پـرې تېرېده نو خندل به یې ، بــس داریزونـازقوم او ځوزان دي ، پکـې کـره یـې ، خوارمان چې یو اوښ دې هم لرلی . "

یوه ورځ ګلاجان په باغ کې بوخت و، اوس یې نو دکور چاپـېره ځای صفا کړی ، لګیاو وروستیٶنه یې چې له کالونو کالونو دکاله څنګ ته لوېدلې پرته وه په تېر وړوله . تېر یې په هماغې کړې کوډلې کې چې اوس یې ضامن ورکـړی و، پیداکړی و . تېر پخ او خوله یې څو ځایه اوښتې وه ، نو په شواخون یـې لـرګې خوړ .تراوسه یې څلـور نـورې زړې او پریوتـې ګرګې هـم وهلـې وې او وچـې څانګې او ډډونه یې یو ځای دلۍ کړي وو . اوس په یوه ډډ ناست و او په حپلـو تناکـو لاسـویې ژبـه تېرولـه . کــه ګوري یوســړی پــه ســړک ولاړ دی او دی څاري.ګلاجان د ډډنه کوز شو ، اوپه لاس یې دسترې مشي اشاره ورتـه وکـړه . سړی دسړک نه دده په لور راغی . چې نژدې شـو ، نوګلاجـان پـه اول ځل یـو ژوندی تور پوستی امریکایي ولید . لاس یې ورکړ . تور پوستی ځان معرفـي کـړ "کارل کولی". ده هم خپل نوم ورته وواېه . بیا نو تور پوستی پـه وینـا سرشـو او هیڅ دریدن یې نه و . ګلاجان دځانه سره وویل ، څه ، لکه ماته ژرنده سر یـې ، ماته سمه انګریزي نه راځي ، ستا ژبه خو کوم بل شی ده . خوتور پوستی ښغمه ګډو .چې ځان یې ښه ستړی کړ ، نو دګلاجان لاس یې کښیکاږه او روان شـو .

ګلاجان بېرته په ونې پښنه وکړه او دځانه سره یې ویل ، دا لا بلــه بـلا وه ، نــوم یې څه و ؟ کور کولی؟ ورسره جوړیږي هم .شین سر ، ګوړګوټــي ویښتـان ، لکـه قره قلي خولی . ښه شو ، په یاد خو به مې پاتې شي . ساعت لانه و تېر چــې یــو موټر کورته نږدې ودرېد . بیا هماغه تور پوستی و ، داخلې یې یــو شــی دځانــه سره رااخیستی و . نیغ ونې ته ورغی ؛ د خپل ماشین ، یو مــزی یــې کــش کـړ . دچالانېدو غږ شو ، تور لوګي ترې ووتـل ، دونــې پــه یــوې لویــې څانـګې یــې کېښود اویوه تنی یې کښکاږله . دسترګو په رپ کې ، څانــګه غــوځه شــوې وه . ګلاجان اریان شو . ده دکندوز په ښار کې دترکاڼانو په دوکان کې داروماشینونه لیدلي وو ، چې دچارتراشونه یــې دړې بیلولــې ، خوبــې مزي اره یــې نــه وه لیدلې. ورغی چې دی یې هم وازمییې ، خو تورپوستی سر وښوراوه او ګویـا ده ته یې دهغې استعمال ښوده .اره یې په بلې څانګې کــېښوده هغـه هـم غــوځه شوه . بیا یې نوپه اشارو او تجربو دهغې چل ګلاجان ته وښود ، تر دې چې هغه هم یو څانګه غوځه کړه. بیایې دهغې دپرچاوولو ، تــنی وروښودلــه . بیــایې نــو ګلاجان ته ونیوله او موسکی شو .ګلاجان هر څه No , No ورته وویل خــو کـره کولی ترې روان شو .

انور ښه په دمه کې و ، هر مازیګر به یاد ملګرو سره ورک و اوبیـا بـه هغــوی ورسره کورته راتلل . پــه دغــو کــې دوه نجونــې هــم وې چــې انــور ویــل دده همصنفیانې دي . ګلاجان په دې کارونو کې نــه و ، څو ځلــې چــې سوســی او پالین به راغلې او په کوټه کې به لرې برې شوې ، دی به په کومه بانه دکور نـه ووت ، بس هفته کې یو ځل دپادري ګریګوري سره انګلیســی درس ، نــور پــه انګړ کې کار ، کالي پریولل ، ډوډۍ پخول ، سودا اخیســتل ، دګلاجـان زیـاتره ناسته ولاړه دتورپوستی ،کره کولی سره وه . دهماغه په موټر کې به مارکېټ تــه ته . پادري هره میاشت دوی ته دفوډ ستیمپ په نامه یــوه کتابچــه ورکولــه .پـه دې کې دلوټونو په شان کاغذونه وو. شین یو ډالر ، زېړ پنــځه ډالـره او ډاســې نور . بس دکوپون په شان به دې هر څومره چې سودا وه ، پانې ترې وشــکولې او دوکاندار ته به دې ورکړې .دامریکا حکومت دخلکو دپاره اقل حــد درآمــد ټاکلی ، که دهغه حدنه کمې پیسې لرې نو کمبوت یې حکومت په فوډ ســتیمپ او نورو دغسې وړیا مرستو پوره کوي .دفوډ ستمپ یو نقص دادی چې په هغــې

باندې یوازې سابه ، شودې او غوښه باب اخیستل کیدای شي ، دډېلي خوراک، سګریټ او داسې نور نه پرې اخیستل کیږي . کره کولي په دې موقع ګلاجان په ټول مارکېټ وګرځاوه او قسم قسم غوښې او خوراکه باب به یې ورښودل او چې به دخوګ غوښې ته راغلل نو ګلاجان ته به موسکې شو ، مانازه پوهیږم چې تاسو دسور غوښه نه خورئ ، یوه ورځ کره کولي دخپلې ښځې او لور سره راغلل . ګلاجان دځانه سره ویل ، " اوس یې درګز کره کتغنیه !" ښځه یې یوه پیله دخدای وه ، لوریې تنکۍ وه ، ښایسته سترګې یې وې خو پوزه یې پیته وه او ویښتان یې ګوړګوټي او په رنګینو مریو جړاووو . ګلاجان ټولوته چای کېښود . په همدې وخت کې انور دخپلو سپین پوستو ملګرو سره راغئ . بس های هوی و او خنداوې وې ، ګلاجان یو څه وشرمېده ، ځکه دغو نوو راغلو په تور پوستو میلمنو چرت خراب نه کړ . دیوه سره لوی ټیپ ریکاردر و چې په جګ آواز یې کومه دګډا بدله غږوله او دانور په شمـــول ټول ورته نځېدل. کره کولي نور څه ونه ویل ، دکورنۍ سره ولاړ شو او دلاس په ښورولو یې دګلاجان سره خدای پاماني وکړه ، دکوره ووتل .دانور ملګرو یو قسم ته ملنډې ورپورې کولې ، یوه یې خپله پوزه نیولې وه چې ګویا تور پوستي بدبوی کوي.

## پنځم څپرکی

دګلاجان انګریزي هم دپالین او سوسی دبرکته یو څه دګوزارې شوې وه . اوس یې هم هره هفته ، یو ساعت دپادري ګریګوري سره درس وایه ، خو خبرې یې ددوی سره روانولې . دیارلس کلنه پالین ، ګلاجان پاولی بلله دسوسی سره چې دکور دهر ګوټ نه خبره وه او ګلاجان به ورته په پښتو ویل "ته دسپي غوندې سوس وهې " ، دده دبدې ورځ ملګرې وو . سوسی به کله په ټوکو ګلاجان ته ویل ،" زما سره واده وکړه !" ګلاجان به ویل ، "too fat" مانادېره چاغه یې . دهغې د ځورولو دپاره به یې دوه بالښتونه ترکمیس لاندې کړل او هرې خوابه یې په کوټه کې توس واهه .سوسی به سره شوه او پاولی به دخندا نه په غولي رغښته . سوسی به بیا دګلاجان دساده توب پېښې کولې ، یوه کاچوغه به یې را وچته کړه اوبویوله به یې ، ماناته دومره وحشي یې چې فکر کوې کاچوغه دخوراک شي دی . یوه ورځ دیارلس کلنې پالین هم ګلاجان

ته وویل ، " زما سره واده نه کوې ؟" ګلاجان وویل ،" You crazy , marry uncle? مانا ، ته لیونی یې چې خپل تره سره واده کوې . I pind you good husband. ښه مېړه به زه درته پیداکړم .

یوه دمښی ورځ چې ګلاجان بهر ووت ګوري چې تور پوستی کره کولی دلرګو په دلۍ لګیا دی ، ټول یې په یوه اندازه واړه کړي او دکور داړخ په دیوال تکیه ، باره ترې جوړې . ګلاجان کورته بوته او چای یې مخښې ته کېښود. یو ساعت غلی و ، بیا یې ګلاجان ته وویل ، " داسې ښکاري چې ددهقانۍ شوقي یې ، نوراځه چې یو شی دروښیم ." دواړه بهر ووتل،کره کولی خپل موټر ته لاړ ، او ګلاجان ته یې اشاره وکړه . دموټر دشانه یې په ګډه، یو شور رنګی ماشین ښکته کړ . ارابې ، دبایسکل په شان دوه ښکرونه او یوه پره لرونکې وسپنه . کره کولی ماشین دکور څنګ پټې ته ورغړاوه او، یو مزی یې کشکود او دماشین غره هار جګ شو .ماشین یې په زمکې روان کړ او ګلاجان کتل چې سم صفا لاسي ټراکټور و . دځانه سره یې وویل ، کور دې وران شه پرنګیه چې څه پتنې دې رااېستې دي . ده ټراکټور پخواهم په کندوز کې لیدلی و ، ځینو بایانو به لرل او دخلکو زمکې به یې په پیسو اړولې ،خو هغه بیدرګه غټ وو،کره کولی . په نیم ساعت کې دګلاجان دواړه پټې واړول اوپه دویم ځلی یې ، دبزګرانو په اصطلاح ښه حلا ل کړل . دایې هم پرېښود او لاړ . ګلاجان ورپسې کتل او فکر یې کاوه چې په عجیبه خلکو واوښتم .

# شپږم څپرکی

دانور کړه وړه په ټوپونو امریکایي کېدل . شپې به چې کله راغی نو ږغ ډېلی به ور سره و ، لکه سړی چې وظیفه کوي ، که به یې خوراک کاوه او که به یې کالی اوتو کول ، سربه یې ښوراوه او کله به چې په جذبه کې راغی او بدله به یې بېحده خوښه شوه ، ګلاجان ته به یې ویل ، " ددهقان زویه ، check this one out . له دې طرفه یې ګز کړه .

انور او ګلاجان په یوه ګوټه کې خووو ، دیوه وطن او یوه کلي خو وو ، مګر اوس یې دنیاګانې سره بېلېدې . انور شکلنه زمکه وه ، دامریکا دکلچر هر څاڅکی یې زغمه او دنوړو تلوسه یې کوله . دګلاجان پورې دامریکا جامه

داسې ناشولته ښکارېده ، لکه دښځې پورې ړېره . ګلاجان په ډېرو زاریـو انـور مجبور کړ.چې د کالیفورنیا نه یوه افغانی جنتری راوغواړي ، چې هغه راغله نـو ګلاجان وکتل چې دروژې دمیاشتې ایله.لس ورځې پاتې دي . په انور یـې ژړا وکړه خو هغه ورته وخنـدل او بېرتـه یـې دخپـل ټیـپ ریکـارډر دغـوړي سـره دملنګانو دالاهو په شان سرښورول روان کړل . ګلاجان داپاتې لس ورځې روژه و ، دورځې به چې دده درې ملګري ، پاولـی ، کـره کـولی ، اوسوسـی ورکـره راغلل ، نوده به ورته دمسلمانانو ددې دود کیسې کولې او هغې بـه چـې کـوم دخوراک شیان راوړي وو ، کراره به یې پـه فریـج کـې کـېښودل . چـې ده بـه لمونځ کاوه ، هغوی به غلي ورته ناست وو ، په ملنډونه ، په تعصب نه ، بلکه پـه یو قسم اسرار آمیز درناوي به غلي ناست وو او خدازده چې په زړونـو کبې یـې څه ګرځېدل . یوه ورځ کره کولی په ډېر تکلیف او قسم قسم الفاظو او دلاس په اشارو ګلاجان ته وویل چې ته چې لمونځ کوې نو پـه مابـاندې دلـرې ځایـه ، دیوې ساده دنیا نه دکوم ګونګ معنوی تماس سره لرې راځي . ګلاجـان چـې دا خبره انور ته تېره کړه نو هغه وخندل ، " ته به داسې ورته ښکارې ،لکـه دده خپل دافریقایي پلرونو نمونه چې بس هرې ونې غنـې تـه لـک بـوک کـېدل ." دانور له خبرو دین ته دیو قسم سـپکاوي بـوی راتعه ، ګلاجـان پـه بیـړه کلمـه (کلیمه) تېره کړه .

## اووم څپرکی

یو ځلې دکره کولی میلمه و ، دغوایه دغوښې اوږدې ، پلنې ټوټې یې ورتـه دکور مخې ته په برنډه دسکرو دنغری په سر ورتې کړې ، دستېک پـه نامـه یـې یادوي او دامریکایانو دټولونه معتبر خوراک دی . روغې لویې پټاټې یې دپوټکي سره دسکرو داور په خوړلن کې پخې کړې ، دسلاتې یولـوی ښانـک چـې دوی یې سالاد بولي . درومیانو ، نوش پیازو ، کاهو پاڼو ، اویو قسـم لعـاب سـره چـې ډریسینګ ورته وایي او سلاتې سره یې ګډوي ، په میز کېښودل شو . کره کـولی په عمل کې کونډو ، زامنو،لوڼو یـې هـم ودونـه کـړي وو او بیـل وو . بـس دی یوازې و .ښځه یې دلورسره اوسېده او کله کله به یې ګذر پرې وشـو . ګلاجـان هسې هم دکباب دبوی سره ورې کېده ، خو دادب نه یې ځان ټینګ کـړ چـې

پاڼین راورسیږي . هغوی په پنجې او چړې ډوډی خوړه خوده غوښه په غاښو شکوله او دسالادنه یې هماغلته په ښانگ کې نوالې جوړولې. خو هغوی ، لکه چې دعمرونو ورسره روږدي وي ، هډو ورته کتل هم نه .

ګلاجان اوس یوازې و. انور دخپلې ګرل فرینډې ( ملګرې ) سره کالیفورنیا ته کډه شوی و ، ویل یې چې هلته کار او سوشال ، یا دحکومت مرسته پریمانه ده .

دګلاجان داول نه دسوشال او دخوراکو دکوپون سره ورانه وه ، خو رغېدن یې ترې نه و . دخان سره یې ویل ، که خپل پلار ته ښيزې نه کوم دناکامه ورځې به یې کوم ، دبیکمال سړي برخه خواره ده .خو بیا به خجالته شو او ویل به یې هیڅ پلار خپل زوی دامریکا ژوند ته نه دی روزلی ، که په وطن کې وای ، لوی دهقان به رانه جوړ و ، مسته قولبه به راته ولاړه وه ، دعیش ژوند به و او دپلار به هم اوږې راسره سپکې وې ، پلار مې څه ګرم دی ، داوو پښتو همداسې لوی شوي یو . خوبیا دوطن حالات ورپه زړه شول ، خوهلته به مې نو څه کړي وو ، یا به عسکری ته تلم اویا به دمجاهدینو سره ټوپک په غاړه لټېره ګرځېدم .

یو سهار کره کولی دګلاجان پسې راغی او په موټر کې یې خپل کورته بوته . په پخلنځي کې دمالټې شربت ، او یوقسم امریکایي پراټې چې په سریې یو بیحده خوږ شربت وراچوي او په هر پټ کې یې کوچ وروبلې کوي ، په میز ایښې و. ګلاجان په خپلې بې انتها اشتها ټول ګروټ کړل او کره کولی نورې پراټې پرې واچولې .

وروسته نو دچای دلویو پیالو سره بهر په برنډه کښیناستل . یو څه سره خاموشه وو ، ګلاجان پوهېده چې کره کولی څه ویل غوښتل . کره کولی خو ځلې غاړه تازه کړه خو ، لکه چې نه پوهېږي چې له کوم ځایه یې پیل کړي ، بېرته به غلی شو . په آخرکې یې سر وښوراوه او ویې ویل ، " زه ډیرې خبرې لرم او زړه مې ډېر کیږي چې ټولې درته وکړم ، خوداسې ښکاري چې یو څوکاله خو به درسره وم ، په مدار مدار به یې درته کوم . خو اوس به ، که نه خپه کیږې ، ستانه یوه پوښتنه وکړم . ګلاجان هماغسې غلی و او ورته کتل یې . کره کولی وویل ، " ستا خوقسمت، لکه چې همدلته په امریکا کې دی . ملګری

دې ، انور، هم درنه لاړ ، نو څه وايې چې يو څه په ځان تکيـه شـو ؟" ګلاجـان پوه شو چې دتکيه شو مانا تکيه شې ده خو هيڅ يې ونه ويل . کره کولی وويل، " زما او سوسی او پالين په نزد ته ښه زلمی يې ، هوښيار يې ، انګريزي دې هـم دغه دی بې چوخسه ياده کړه . دسوشال او فوډ ستيمپ نه دې هم بد راځي . نو څه وايې چې کوم کار ، بار شروع کړو ؟" ګلاجان په خندا وويل ، " زه پوهيږم چې تاسو راته څوريږئ ، خو چې فکر کوم غير له دهقاني بل کمال زه نه لرم او دهقاني دلته بل شانې ده .زه وايم چې وطن ته دبېرته تلـو تابيـه ونيسـم ، کـه څنګه ؟" کره کولی وويل ، " ستاخوښه ، امريکايو آزاد ملک دی ، څوک دچامخه نشي راګرځولی ، خوکه زما نه پوښتنه کوې ؟" ګلاجان وويـل " يوځلـې خومـې پوښتنه وکړه ، اوس راباندې قسم خورې ؟" کره کولي هم وخندل او ويې ويل ، " دپالين او سوسي نه هم پوښتنه وکړه ، بيـا بـه نـو زه دخپـل زړه حـال درتـه ووايم."

## اتم څپرکی

په دې ماښام داپښتو سروکی په اريزونا پورې ښه لګېده ، چې " نرې بـاران دی پاس په لوړ يې ورونه ." ګلاجان او ملګري يې دسوسـي کـره ميلمانـه وو. بس هاټ ډاګ( کوټلې غوښه چې په کولمه کې پوښلـې وي ) و، چـې د ډوډی په مينځ کې تاوېده او همداسې کپ کپ دکوکـاکولا دغـوړپونـو سـره خـوړل کېده . وروسته نو ټول دګلاجان خبروته انتظار وو . ګلاجان وويل ، " ماتاسو تـه پخواهم ويلې وو ، چې زه کوم کمال نه لرم . بس ساده دهقان يم . کره کـولی ټينګ دی چې له دې سوشال نه ځان خلاص کړم او تاسو ته معلومه ده زما هـم دهماغه اول نه ترې بد راتلل . زما سره يوه پروژه ګی شته ، خو خـدازده چـې کار به ورکړي.که نه ، که اجازت وي درته وبه يې وايم ." پالين په ټوکو وويـل ، " ته چې په ماته ګوډه انګريزي هرڅه ستې غپـوې ، نـن مـاښام دې وار دی . ګلاجان سوسي ته وويل ، " دا بدرنګه پيغلوټې درکورې کړه ." بيا يې نو شـروع وکړه ، " دا څوکاله چې زه د امريکا ميوې وينم نو جوړه يې پـه درسـت جـهان کې نشته . ښې منې ، ښې هندوانې ، ښه شوتالان ، خويـو ميوه چـې مـزه يـې باران وړې ده ، هغه خټکی دی ." پالين خبره ورغوځه کړه ،" ولې ؟ موړ يو قسم

نه ، دوه قسمه خټکی لرو ، یو یې هانی ډیو دي چې ته به یې په مانانه.
پوهیږې، مانا دشاتو پرخه . بل کانتي لوپ ." ګلاجان وخندل ، " دواړه بې
خونده دي، لکه بوس . دالوی ښېرازه وطن چې خدای تاسو ته درکړی"
پالین غچ اخیستلو ته قابو وه او ویې ویل : " مه وایه چې خدای تاسوته
درکړی، وایه موږ ته راکړی ." ګلاجان موسک شو ،" پالین ، بس بې جوابه دې
کړم . ماویل ، امریکا دوه سوه قسمه مڼې او انګور لري خو بس دوه قسمه
خټکی دي چې ځنې وخت خلک دناچارۍ ورځې بوره ورباندې دوړوي ، ایله
دخوراک شي . زموږ په وطن کې ، مقصد مې اوغانستان ذی ، هلته شپږاوه قسمه
داسې خټکي دي چې دخوند نه به یې څه درته وایم ؟" کره کولي پوښتنه
وکړه، " خواږه دي ؟" ګلاجان وویل " خوږوالی خو یې یکی یو صفت دی .
دهغې خوتاوویل چې چاره په شکرې هم کیږي ." ګلاجان ډېروخت فکر وکړ
چې انګریزي یې ورجوړه کړي ، بیا یې سوسي ته وویل ،" خټکی خوڅه دشربتو
غړ که نه ده چې یوازې یې خوږوالي ته وګورو . هغه ښځې یې چې په ځان
وهي چې ښه بوی ورکړي ، هغې ته په انګریزي څه وایي ؟" سوسي وویل ،
«پرفیوم ، Perfume " ګلاجان وویل دهغې بوی ته څه وایي ؟" سوسي وویل ،
«فریګرینس fragrance » ګلاجان کره کولي ته وویل ، "زموږ خټکی همدا
فریګرینس لري چې موږ یې عطر ، وږمه بولو . لکه دګلاب بوی خو دهر ګلاب
نه، موږ یو قسم ګلاب ته چې سور نه دی ، دپالین دغومبوري په شان دی ، خو
دهغې په شان مردار بوی نه لري ، اصیل ګلاب وایو ، یو قسم ، څنګه یې
ووایم؟ ، نری خوږه وږمه ده ، لکه دماښوم دخولې نه چې دموړپې یې رودلې
وي ، راځي ، زه یې سم نشم ویلی." پالین چې د ګلاجان دخبرو په وخت کې
په منډه تشناب ته لاړه وه او مخ یې پاک پریوللی و ، په غوسه ناک غږ وویل ،
"وحشي وحشي لګیا یې ، خپل تور مخ نه وینې په نورو لګیږې " سوسی پالین ته
سترګې برګې کړې خو هیڅ یې ونه ویل . کره کولي وویل ،" ښه دایې بل
صفت شو ، نور څه لري ؟" ګلاجان وویل، " اوبلن نه دی ، " پالین غچ ته تیاره
وه . " نو البته چې شنه یې راشکوئ ، پخه میوه خامخا اوبلنه وي ." ګلاجان په
بې حوصله ګې وویل ، " موږ یې اوبلنه بولو خو ترجمه یې نه راځي . خو دا
زموږ خټکی وچ کلک دی ، لکه دقندو کندوري ، چې بیا په خوله کې ویلي

کیږي . بله دا چې بیحده خواږه نه دي چې ستوني وسوځوي . پاتې شوه دپالیز دخاموالي او پخوالي خبره . زمونږ خټکی داسې پاخه وي چې ډېر کله هماغلته په پالیز کې دخپله انده دجرړې نه بیلې پرتې وي . داخبره هم په خلکو کې مشهوره ده چې که آس دپالیز له څنګه تېرشي نو یې په دربهار خټکي ترک چوي . دابه هسې خبره وي خو زمونږخټکی چې دچاړه څوکه دچاخبره لاپرې تېره شوې نه وي ، پخپله څیري شي . مونږ هم یو قسم آبي خټکی لرو ، مونږ یې خاده بولو ، مانا وحشي ، چې دپالیز به خوښ شي ، تول دشربت نه ډک ،خوچې دوه ترازې وخورې نو نس دې پرې ډک شي او دژبې څوکه دې وسیځي . " بیا یې نو پالیز ته په موسکا وکتل چې هغې به څه غاښ ماتوونکی ځواب جوړکړی وي خو هغه ، لکه چې دتاثیر لاندې راغلې وي ، دچایو دپیالې سره ولاړه وه ، په دلچسپي یې غوږ نیولی و. ګلاجان وویل ، " نوداسې دي زمونږ خټکی او مافکر وکړ چې دلته به ښه بازار پیدا کړي . "

کره کولی په خپل پاینې خوارۍ کولې . لایتر یې ورته نیولی و خو دهغې ګیس ختم و . غاړه یې تازه کړه ، " داخو، که همداسې وي ، لکه ته یې چې وایې ، ښه پروژه ده او دکامیابېدو چانس یې زیات دی خو دوه پوښتنې دي.یوه داچې ستاسو ددې صفتي خټکي تخم به له کومه شي ، بله داچې ستایې کرل زده دي ؟ او دادویمه پوښتنه ځکه کوم چې زه په خپله هم دهقان یم ، دجوارو او پنبې او ځینو نورو شیانو ، خو په عمر مې خټکی نه دي کرلي .

ګلاجان وویل ،" تخمونه یوڅه ماسره هم شته او نور مې دیوه اشنا نه چې د مجاهدینو په ذې پیره کې امریکاته راتلونکی دی غوښتي دي . پاتې شوه د کرلو خبره زه دامنم چې دهغې استاد نه یم ، هیڅ کله په وطن کې زما خټکی په مسابقو کې ګټه نه ده کړې .خو په دویمه ، دریمه درجه کې راغلی یم . "

کره کولي وویل ، " داسوال حل بوله . یوه بله مهمه پوښتنه دخاورې ده . همدا خټکي چې ته یې صفتونه کوې ، که په داسې کوم بل ځای کې وکرې چې دخاورې ترکیب یې فرق کوي ، مثلاً دالکلي په ځای یې تیزابي خاصیت ډېر وي ، یا یې فیصدي فرق وکړي یا زمکه ډیره وچه یاډیره نمجنه وي ، نو بیا یا دسره کیږي نه او دمره غوني په شان ترخه وي یایې خوند بدل شي . "

ګلاجان وویل " په دومره کړت وپړت یې نه پوهیږم ، مقصد زمکه وچــه ، یــو څه شکلنه وي بیا نو دغویي سره کافي ده "

کره کولي وویل ،" دلته اکثر کیمیاوي سره استعمالیږي خو دغویي سره هــم شته یوه لاره داده چې دقسم ترکیبونو خاوره بیله بیله ډېرۍ کړو او بیـا پـه هر یوې کې تجربه وکړو چې کومه ورسره لګي . خو کاشکې په همدې خــلاص شوي وای . آب او هوا خو زموږ په لاس کې نــه ده ، هلتـه.پـه افغانسـتان کـې ستاسو آب وهوا څنګه وه ؟" ګلاجان وویل . " یره ، دکندوز آب وهوا خو داسـې بویه چې دهمدې ځای په شان وه ، لمده بل ، ساړه یې همداسـې دي ." کـره-کولي بیا دپایپ په لګولو لګیا شو ،او عجیبه داچې داځلې یې اور واخیست . یو ژور کش یې ورکړ ، اوپه لاس یې دلوګو راپورته شــوې غوړاسـکې سـره خـورې کړې او په ارام غږ یې وویل ، "بس تجربه یې په موږ او کامیابی په خدای ."

# نهم ځپرکی

دمنی دآخر یوه ورځ ګلاجان او کره کولي په اور ګاډي کــې دنیویـارک پـه نیت روان شول .ګلاجان بې هغې هم بایدنیویارک تــه تللــی وای ، خــو وېرېده چې لاربه ورکه کړي . داخبره یې کره کولي ته وکړه او هغه بــې لـه دې چــې ګلاجان ورنه وغواړي ، وویل ، " زما هم نیویارک ته زړه کېده ، چـــې یــو ځلــي دآزادۍ مجسمه په سترګو ووینم . "

دنیویارک په روز ویلــټ نومــي هــوټل کــې دمجـاهدینو ګنه ګونه وه . ټول مشران راغلي وو ، بلکه کشران یې ، چې یا به یې ورور و یا وراره او یا تحویلدار، داهم ورسـره وو . هـوټل ، لکـه چـې دکـوم پاکستانی دی ، ځکـه هـره خـوا غوړځني ، تور مخي ډېر لرو برګېدل او پـه انګلیسـي کـې یـې د (ډ) او (ټ) نــه کوکارې ایستلې . دملګرو ملتونو دعمومي اجلاس ورځې وې .

دکنفرانس لویه کوټه کې دمجاهدینو ډله ، لکه خیرات ته چې ســره کښینـي سبا ناري ته پنډه وه . لوېې ږیرې یې خلالولې او ، یو بل سره لــه پـس پـس نــه وروسته به یې یو دبل ورانه ته تس ورکړ ، بیایې خوله په خندا چت ته ونیولــه ، ونولېد .

دهوټل خادمان راغلل او دوی ته يې ووېل چې سبناري په رستوران کې تيار دی خو دوی دترجمان په خوله ورته ووېل چې همدلته يې راوړه . دهيئت کشرانو خپل څادرونه يوه په بل پسې وغوړول ، دسترخوان يې تـرې جوړکړ خادمانو سرونه په تعجب وښورول او بيا په مايوسی لاړل چې درستوران نه دوډۍ راوري او دوی يې په ځمکه وخوري.

شيبه پس دمجاهدينو پشهاز او چړپار ګډو . يوه يې دبـل نـه پوښتنـه وکـړه . "مولوی صاحب داخوبه دخوک شودې نه وي؟" مولوي صاحب يوه څوانکی ته چې کوز په ادب ناست و ووېل ،" انجنيره ، دبوتل دا ليک ولوله چې دڅه شـی شودې دي ؟" دهر مشر سره په امريکا کې اوسيدونکی يو ترجمان هم و ، يـا بـه يې خپلوان يا دتنظيم غړي وو ، چې دتعليم دپاره يـې دجـهاد پـه کـالونو کـې امريکاته استولی و و. دغه څوانان هرکال امريکـا دخواخـوږۍ پـه نامـه دبيلـو تنظيمونو نه امريکا ته رابلل . يکی يوه تنظيم خپل غړي امريکاته.نه ور پريـښول او هغه دخالص و . هغه به ويل چې دوی هلته په امريکا کـې کـاپـران کيـږي . دغو ترجمانانو زياترو دلته امريکايي چارې کولې او ګويا که حل نه وي نونيمـه حل شوي وو خو د هيئت دراتګ دخبر سره به يې په بيـړه ږيـرې پريـښودې او يونيم څادر ، وطني جامې او تسپې به يې دبوخڅۍ نه راوايستلې . کرۍ ورځ به دخپل مشر پسې روان وو او شپې به دهوټل په کومه خونـه کـې دڅادر لانـدې ويده شول . يو خو عمومي ليدل ، کتل او مجلسونه وو چې هلتـه لـه افغـانی او امريکايي لوري يو رسمي ترجمان ترجمې کولې. مشرانو په خپله هم پـه پيـښور کې يوه څه په انګريزۍ ژبه ګوتې وهلې وې او کله کله يې دخپل ترجمان نـه خبره اخيسته او خپله به ورګډ شول ، پښتو اړانه به يې داسې په انګريزۍ واړوله چې امريکايي لوری به يې دځان پورې اريان کړ . دپيښور " کـوم چـه دی "به يې دېر پکې وايه our jahad which is,it is not pight por Afghnistan , it is for islam. If it was for afghanistan man can tell monster after it, but the thing which is is afghan made of mud, he die, but islam no die مانـا زمـوږ جـهاد کوم چه دی ،دافغانستان دپاره جګړه نـه ده ، داسـلام دپـاره ده ، کـه يـوازې دافغانستان دپاره وای ، نوسړی به ويلی وو چې ، يره ، بلا ورپسې . خبره کومـه چې ده داده چې افغان خودخاورې نه جوړ بنيادم دی ، فاني دی ، مګر اسلام

باقي دی . نو بيا وروسته نورو په مشر شاباسي وايه : يـره مولويصـاحب ، عجـب غابن ماتووبکی څواب دې ورکـړ!" ددوی خپلـو ترجمانـانو بـه رنې رنې ورتـه کتلې او خوله به يې نشوه چوله کولای .

مګر هر مشر خصوصی ليدل کتل ، ځانله خارجی ګماشته ګان لرل ، خارجی خبريال چې ددوی جبهې ته دفلم اخيستلو لپاره تللی و ، دسی ا ی اې مـامور چې په پيښور کې ده ته موظف و او هيڅ بې هيڅه په هغمدې وخــت کـې پـه روزويلټ هوټل ورپيښ شوی و ، دکانګرس وکيل چې ده خپلې جبهې ته بيولی و . هر مشر دغه خواخوږي ، دتماس دغه چينلونه له بل مشـر نـه پـټ سـاتل او چې به سړی راغی نو دهوټل خپلې کوټې ته به يې بوته . ترجمان به يـې هـم خپل اتباري سړی و .

دانو دمجاهدينوهماغه پيره وه چې بيايې په واشنګټن کې ريګن ته داسـلام په دين دمشرف کېدو بلنه ورکړې وه او هغه ويلــيوو چــې " داخـو دې پـه زړه پورې خــبره وکـړه !" وروسـته چــې بيـا خلکـو دهيئـت مشـر ملامتـاوه چـې مولويصاحب ، ته دافغان ولس دتبليغ دپاره راليږلې وې او که دافغانانو دداعيي په خـاطر ؟" مولويصـاحب ، لکـه هميـش ، غـابن مـاتوونکی څواب ورکـړی و ، "هلکه، ځان پوه کړه . زه دافغان ولس راليږلی نه يم ، داسـلام داعيـي راليـږلی يم."

په دويمه درجه مشرانو کې دکندوز دنازکمير په نامه ديوه مشهور بـای وراره قوماندان ځيرک مير ، هم و چې دګلاجان سره يې ان دپيـښور نـه خـط کتـابت درلود . ګلاجان ورنه دختکو دبيل قسمونو تخمونه غوښتی وو او هغه لوز کړی و چې دا پيرته چې امريکا ته راشي نو اک ناک يې دځانــه سـره راوړي . ګلاجـان دکره کولی سره دهمدې دپاره دروزويلټ هوټل ته راغلــی و . ذواړه دخونـې په کوز سر کې ځانله ناست وو . ځيرک مير به کله کله ورته وموسل خو نـورو تـه يې ددوی دمعرفی کولو تکل نه کاوه . دګلاجــان زړه ميښ ميښ کـېده چـې دمشرانو سره د زړه خواله وکړي خو په دې ورځو کــې پـه هـوټل کـې دومـره دقسم قسم افغانانو ګڼه ګوڼه روانه وه چې چا ګلاجان ته کتل قـدرې هـم نـه . دی يو کشر سړی و او چندانې به نه وخپه شوی خودلته دکره کولی په مخ کـې

شرمېده چې وطنوالو هيڅ راى نه پرې واهه . نو دختکې دتخمونـو داخيسـتلو سره سمدلاسه ، بې خداى پاماني دخپل ملګرى سره روان شو .

نيويارک درې بغرى دى ، آسمان خراشونه ، بازارونه او منډيى يې ديهودانو دي . تنګې کوڅې ، قاچاق خانې، دغلو او غدوى او قتلونو ځالې دتورانو .قمار خانې او دګچنيو سالونونه يې دسلي دګمبينو او جان ګاټې دډلـو بدماشـانو او مافيا. دکره کولي سره ، دګلاجان سات څو ورځې يوځه تېر شو ، البتـه د ويـرې سره . دنيويارک دنکو مانيو يې سرګرځاوه او دتورانو تورو خونو او نااشنا غرګيـو يې په زړه کې ترهه پيدا کوله . دتورانو يوې لويې ډلې د آزادى مجسمې سيل ته بوتلل . داديوې چتې پيغلې مجسمه وه ، دسرچـار چـاپيره يـې درنا دشـغلو شپول واوپه يوه لاس کې يې يو مشال نيولى و . تـرې لانـدې پـه يـوه دړه څه ليکل شوي وو او کره کولى يې داسې ترجمه وکړه : دنړى نتلو ، ورو ، رټلو ، بې کورو ، راشئ ، زما غيږ درته خلاصـه ده او مادرتـه دآزادى مشال بـل سـاتلى دى.دشپې له خوا يې دزمکې لاندې په نيمـه تيـاره خونـو کـې دتورانـو جـاز موسيقى او نڅاګانې ورباندې وليدې . دګلاجان دې خبرې ته ډېـر پـام و چـې توران چې عشقى بدلې بولي هم ځانونه داسـې ورسـره خـوځـوي ، لکـه کـوم مرموز بوت ته چې عبادت کوي .

چې بيرته دخپلو تخمونو دډبلى سره اريزوناته ، خپل کلي تـه ورسـېدل نـو ايله د ګلاجان سياله وشوه .

## لسم څپرکى

ګلاجان ايله دومره پوهېده چې په امريکا کې لويې لارې هره يوه يـو نمبـر لري ، که لمبر جفت و ، نو لار دختيځ نه لويديځ ته او که طاق ونـو دشـمال نـه جنوب ته غځيدلې ده .

اتم لمبر لويه لار ، نيغ په نيغه داريزونانه دکاليفورنيا ښکلى ښار ، سانتيا ګو ته چې دځينو مهاجرو افغانانو ځاله ده ورځې . دلارې دواړو غاړو تـه کـال دولـس مياشتې ونې ، غنې او شنيلي دي ، داريزوناپلوته دزقوم او نورې اغزنې ونــې او دکاليفورنيا خواته دنښتـرو او نـورو تـل زرغونـو ونـو ګڼ ځنګلونـه . سوسـي او ګلاجان په همدې لار کاليفورنيا ته دکوم افغان واده تـه ور روان وو . پـه اصـل

کې دی انور په تلفون کې وربللی و ، چې هم به د کالیفورنیا سیل وکړي او هم به واده وخوري او ګلاجان چې لایې موټر چلول زده نه وو ، سوسي د ځانه سره قنجوغه کړه ، بلکه ځان یې دهغې پوزې قنجوغه کړ .

دافغانانو واده نه و ، بله تماشه وه . ګلاجان نه پوهېده چې افغانانو په کابل کې هم ودونه همداسې کول ، په دې فرق چې کمیسونه لږ تر اوس نه اوږده ، ګرېوانونه یو څه ناارتي . اوس ترپوندې نیایسته زیات جګ ، دورانه تر غړي پورې بربنډ . دګرېوان کوز ترهغې پورې چاک چې دټتر ناوه یې دنامه دغوټۍ پورې ښکارېده . انور دخپلې امریکایي ګرل فرینډې سره یو قسم موزیک ته تاو راتاو کېده چې په غوږو ډېره ناتراشه لګېده .دسنذرغاړو غږ په دې جګ ، جر ساز کې ورک و ، ایله دومره ښکارېده چې خوله یې ښوري او یو قسم دمبوره یې لاس کې نیولې چې یو مزی یې چېرته برق کې ټینګ دی او پخپله هم کله په وراندې او کله وروسته غبرګېده او سترګې یې کله داسې پټولې ،لکه ربښتیا چې کومه سوې سندره بولي. خوچې.ښه به غوږ شو نو هسې ایرانی پارسي به یې اورېده ، لکه بوی سرش بر بره ، طوطی سبزش خره ،آهینه ګوش بره ، دوستت دارم خر خره او همدغسې نورې قافیې چې په کندوز کې به تاجکو ماشومانو بللې او لاس په لاس به د ونې نه چاپېره تاوېدل .

دسوسي هم ګډاته زړه کېده خو ګلاجان ته یې کتل چې لکه بوت یوې څواته ولاړ دی . کوم چاسوسي ته دنخابلنه ورکړه ، هغې ګلاجان ته وکتل چې په خپل ځای میخکوب په مرموزه موسکا خپل دکوکاکولا ګیلاس ته ځیر دی . سوسي هم دنورو په شان په دې غربنده نځا ورګډه شوه . پس له ډېره وخته چا د ډوډۍ دتیارېدو غږ وکړ . عجیبه ده چې افغانانو امریکایي توب زیاتره دنمایش لپاره کاوه ، خو چې دډوډۍ خبره راغله نو امریکایي نوبت او بل ته لار ورکول هېر وو ، ټولو دپسونو درمې په شان دډوډۍ په ساlون برید ښخ کړ . دا امریکایي عادت هم هېر و چې یو ځلې قاب ډک شي نو بیا خو باید میلمه دمیز شاوخوا نورو ته پرېږدي . دزیاترو خلکو په لاس کې یونه ، دوه او کله لادرې بشقابونه وو او هر چا خپل زوی لورته غړونه کول . زړې بوډۍ ، چې لایې هم څپوټۍ په سرکاوه ، هم له نورو کمې نه وې . دبی بی حاجي په نامه یوې بوډۍ که ټول نه ونو نیم غوری په نکوښېدا دځانه سره روان کړی و .

ګلاجان چې لاهم په بله کوټه کې دخپل ګیلاس سره ولاړ پاتې و ،وموسل . په همدې کې دګلاجان یوې نجلۍ ته پام شو چې دکوټې په بل سر کې یوازې ولاړه وه . دهغې جامې سم دم کوچانۍ وې ، خو دهرې ورخې نه ، بلکه دودونو او اخترونو کوچانۍ . یوټیک یې هم په تندړه ، بلکه دپیکې په سر ځلېدو ددرو رنګونو درایې جامویې دپانوس رڼاکوله . له سترګو یې دوحشې آس شغلې ختلې . یوه شیبه خو ګلاجان ترور شو ، دکندوز د ودونو چتې یې سترګو ته ودرېدې چې هیڅ بې هیڅه ، لکه زرکې لر او برکېدې او خپله ښکلا یې په خلکو زباتله . ګلاجان سترګې وموښلې ، چې هسې پریښانۍ به وړې و ، خونه نجلۍ وه او دیوال ته یې تکیه وهلې وه، لکه خوب چې وینې ، ګوري چې هغه هم ده ته ځیره ده . په همدې خوب کې یې ولیدل چې په ورو ورو قدم وچتوې او دده خواته راځي . ګلاجان لاحول وویله او سر یې دې خواها خوا وښوراوه چې په سدشي ، خو نجلۍ لاهم دده لوري ته قدمونه وچتول . هغه وخت یې تکان وخوړ چې نجلۍ مخامخ ودرېده اوپوښتنه یې وکړه."وطنداره، ښنګه دې وموسل ؟" ګلاجان وویل ،"هسې ، څه مقصد مې نه و ." نجلۍ وویل، " نه ، په زړه کې دې څه وګرځېدل چې موسک شوې ؟" ګلاجان چې لا یې هم خپل ګیلاس ته کتل وویل ، " هسې ، دخپل وطن دبزکشۍ صحنه راته سترګوته ودرېده . ورته ګوره مه ، خو هغه زړه ښځه وینې ، چې په کونج کې ناسته ده ، هغې ، لکه چې بزدحلال دایرې ته ورساوه." نجلۍ یوه مسته خندا وکړه او دډوډۍ سالون ته روانه شوه . ګلاجان چې په زړه کې یې ډېره دخندا سره جوړه وه ، کله کله بوډۍ ته کتل چې شوله سرپوي او لاندنۍ ژامه یې دهرکپ سره په پاسنۍ پورې نښلي . یوه شو چې غاښ یې نشته، کرشو په ده ، هم یې زړه پرې خوږېده او هم یې خپله خندا نه شوه درولی .دکندوز دژمې یوه شپه ورپه یادشوه چې خویندو یې دملواري دمور په خوله کې دګوړې کندوری ایښې و . هغه هم دقرنونو وه . په دې شپه یې ماشومانوته دنامستلم با- چاکیسه کړې وه او بیا په نیمایي کې ، پخپله خوب وړې وه . خوله یې وازه نیولې وه ، دوی چې ګوره ورواچوله ، نوبیا یې هرڅه انتظار وایست چې کومه پیښه به وشي ، خوهغه هماغسې ، خوله له ویلې شوې ګوړې ډکه ویده وه . ګلاجان په همدې فکر کې و چې کتل یې هماغه نجلۍ ددوو ډکو قابونو سره

بېرته راغله او په خندا يې وويل ،" مــاهم وزه دحلالې دايرې تـه راوړلـه خـو چندانې شي پکې نه و پاتې ." ګلاجان چې ورته وکتل نـو د زړه پـه کـوم ځـای کې يې دګرز ګوزار وشو . بيرته يې سترګې په خپل ګيلاس ښخې کړې . نجلـی لاهم خندل خو ورو ورو يې خندا په موسکا بدله شوه اوپه شرمېندګوکي غږ يـې وويل ، " هـــن، درواخلـه ،"ګلاجـان لاس وروغـځاوه او بې لـه دې چـې ورتـه وګوري، بشقاب يې ترې واخيست. نجلۍ په چوکۍ کښيناسته او ده ته يــې هــم ست وکړ. دواړه په آرامه او بې خبرو په خوړلو لګياشول . وروسته نجلۍ دده نـه قاب واخيست ، ورکه شوه . ګلاجان دځانه سره ويل ، " بيخ دې ووزه ، پــه دې ښايست . !"

سوسي را پيدا شوه اوګلاجان ته يې وويل ، " يوه بجــه ده ، بيرتـه روان نـه شو؟" ګلاجان ووېل ، " اصلی ما ملې لاپــاتې دي . بيغمـه خپلـه ګداکـوه ." څه کش وکړپ شروع شو .څو کسو يو ميز ، دوه چوکۍ په يوه جګې چوتــرې کــې کيښودې . له بلې خونې يې ناوې راوســتله ، ګرچــاپير يــې ماشـومان لـر اوبـر کېدل، په سرېې قرآن وربانديې نيولی و او کومه بدله يې ويله چې " استه بــرو ، مای مان استه برو . شای خوبان استه برو ، دختر خان استه برو ." سوسي پوښتنه وکړه ، " داڅه وايي ، دا څه لوبه ده ؟" ګلاجـــان وويـــل ، " زه نـــه پـه پوهيـږم ، دهندوانو يا ايرانيانو کوم دود به وي " عجيبه داوه چې دناوې لمـــن دطـاووس دلکۍ په شان ورپسې څکيده ، چاترلکۍ نيولې وه ." ګلاجان ته خنــدا ورغلــه . خو تر شايې کوچانۍ نجلۍ ورو وويل " اوس نو وزه دلکۍ سره دحلال دايــرې ته راوړي ." نجلۍ مخکې شوه او دګلاجان ملګرې سوسي ته يې وويل :" خاوند دې دی ؟" هغې په خندا وويل ، " کاشکې؟" بيايې نو ځان معرفی کړ. " زما نـوم سوسی دی ، سوسان ټايلر." نجلۍ وويل ، " زه روهيلـــۍ يم ، ستا ملـګری څوک دی ؟" سوسی لکه چې څه شراب يې څښلي وي وخندل ، " تاسو سره نه پيژنئ؟ روهيلۍ څه ښه نوم دی ، روهيلۍ داګلاجان دی ، په دويم نامه يې زه هـــم نـه پوهيږم . ګلابه يې اول نوم وي ، جان يه يې وروستی ، بـــس مــوږ يــې ګلاجـــان بولو ." بيايې ګلاجان ته مخ کــړ ، " داستاســو وطنـداره ، روهيلـی ده. دې هـم دويم نوم نه دی راکړی ، لکه چې په تاسو افغانانو باندې دنامه تنکسه راغلـې " ناڅاپه روهيلۍ ، لکه پخوايې چې اکټ کاوه بدله شوه . دسوسي ســره يــې پــه

لاس روغبړ وکړ خو ګلاجان ته یې مازې سروخوځاوه . درې واړه دناوې په سیل لګیاشول ، چاکومه آئینه ناوې او هلک ته ونیوله او بل چا دمالېدې کاسه لاس کې نیولې وه او هلک په کاچوغه دهغې نه کوم شی چې روهیلی ویل ، لیتی به وي ، دناوې په خوله کې ورکول . روهیلی دګلاجان نه پوښتنه وکړه ، " دناوې لاس مات دی که څنګه ؟" ګلاجان وموسل ، " نه ؛ دکابلیانو رسم همدادی ." سوسي دې صحنې ته ډېره مدهوشه وه او شرابو یې بارخوګان لاهم ورسره کړي وو ، نو خوله یې له حیرانتیا وازه پاتې وه . روهیلی وویل ، " تاسو خولکه چې دکوم بل ایالت نه راغلـي یئ ، دناوې کور رابللې یئ که دهلک ؟" ګلاجان وویل ، " خداکه هیچارابللی یو ، هسې زما ملګری ، انور تلفون راته وکړ او مور هم بدر راغلو." روهیلی وویل ، " داد بدر لفظ خولکه چې په ترکستان کې رواج دی ." ګلاجان په یو څه قهروویل ، " که ته یې ووایې نو څنګه به یې ووایې ؟ " روهیلی وویل ، " موږوایو ، ایسته راغلو ، یا ایسته راروان شوو . څوزه دکتغن دډېې سره آشنا یم ، یو تره مې په سپین زرکې ماموز و او پلار مې دایلبند نه دراستنېدو په وخت کې زه یو څو ورځې هلته پرېښودم . دا څو ورځې کالونه شول او مکتب مې هماغلته تر شپږم جماعته پورې ختم کړ . هرکال به مې تره په ژمي کې جلا آباد ته ، چې زموږ کډې وې ، راوستلم. "دګلاجان دلچسپي راوپارېده ، " په قام څوک یې ؟" هغې وویل ، " کوچی " ګلاجان وویل ، "کوچان خو ډیرې طایفې لري ، اکاخیل ، ګاړي ، دستوخیل ، کندازیان ، کوم یو ؟" روهیلی وویل ، " داټول چې تایاد کړل نقلـی دي ، زه اصیله احمدزی کوچی یم . " ګلاجان په تعجب وویل ، " ماویل ته ټوکې کوې چې وایې کوچی یم . موږ به چې دپسرلی له خوا دکوچانو کډې لیدې چې هر سهار به په ورځو ورځو دمیږو ،اوښانو ؛ لویو تره خولو سپیو سره دکلي شاته بدخشان ته تلې نوپه سړک باندې به ورته کښیناستو ، او ددوی سیل مو کاوه ، خو هغوی کندهاري کوچان وو . " روهیلی وویل ، " داحمدزو کډې هم پکې وې . بې هغې هم په آبول کې سره یو ځای کېدل او زما تره هم هماغلته ددرانی کوچانو سره خپلوی کړې وه چې بیا کندوز ته کډه شو " ګلاجان نیمه جدي او نیمه په ټوکه وویل ، " دکیږدی نه تر امریکا پورې خو ډېره لار ده ، دلته څنګه راغلې یې ؟" روهیلی یوه دنګ ځوان ته ګوته ونیوله ، " دهغه جوارګر دلیدو دپاره

راغلې يم ." ګلاجان وويل ، " خاوند دې دی ؟" روهيلۍ کټ کټ وخندل ، "نه، داجوارګر زما ورور دی ، رازق ." ګلاجان پښه نيولی شو، "نو جوارګر ولې ورته وايې ، ښايسته زلمی ښکاري ." روهيلۍ لکه چې ورور سره يې ضد وي ووېـل ، "جوارګر خونو دی ، درينو نه نيولې دلاس ويګاس تر قمار خانو پورې يوه تـرې نه ده پاتې ... دچرګ نه نيولې تر آس او غويي پورې داسې شی به نه وي چـې دی وربانديې شرط ونه تړي ." بيا يي پـه مينـه دخپـل ورور پسې چـې ديـوې ببرسرې سره په نڅالګياووکتل ، " خو څه وکړم ، په ژونـد کـې همـدا يـو ليـو ني غرتی ورور راپاتې دی ، " ګلاجان يې پښتو ويلو ته اريان و ، " مور او پلار نه لري ؟" روهيلۍ په مسته خندا وويل ، " هرڅه لرم شـکر ، خـو رازق جـان دمـوره يـو دی" ددوی مرکه نوره هم ګرمېدله خو سوسی ګلاجان پـه ډوډې ( پـه نيغـرک) وواهه او ګويا دتګ تلوسه يې ښودله . چې دا ونه شونو ګلاجان يې په راښکلـو دکوټې نه وايست . خدای پاماني هم دګلاجان د زړه سره شاته پاتې شوه .

دسهار درې بجې چې سوسی او ګلاجان بېرته اريزوناته روان وو پـه لارکـې ګلاجان دسوسی نه پوښتنه وکړه ، " دروهيلۍ لمبر دې واخيست ؟" خو سوسـی نيمه نشه په ډرايو بوخته وه ، دسرک بيلوونکې نښې يې بيندو دارابوپه مينځ کـې وې ، موټر بې غمه کوږ ووږ روان و او سوسي ورسره ټالۍ خوړلې . خماري نيمه خلاصې سترګې يې ګلاجان ته کړې او ځواب يې ورکړ "روهيلـی يـې بيـا څوک ده ؟"

## يوولسم څپرکی

ګلاجان په اول ځل ساراپي خړ تومی چرګان لېدل چې هره خـوا الـوزي . دی او کره کولي هم دنورو پـه شـان پـه ښکـار وتلـی وو . دنوامـبر مياشـت وه خودمنی بارانونه لا شروع شوي نه وو . چې روانـېدل ، ګلاجـان پوښتنـه وکـړه چې په امريکا کې دښکار دپاره اجازه په کار ده ؟کره کولي ويل ، چې هر ښکار بيله اجازه او ليسنس لري . حتی کبان هم بې وخته نيولی نشـې . يـو خـو بـايد دهغوی دنسل ګيزې وخت نه وي ، بله داچې يوازې نر به يې ولې . پـه کبـانو کې دنر ښځې فرق نشته ، مګر دښکار موسم يې معلوم دی او په هره پـيره کـې دا ټاکل شوې ده چې څومره کبان نيولی شی او دکب لويوالی بايد څو انچـه

وي . دخړتومي چرګانو يوازې دنر چرګ اجازه شته . دهر ښکار وخت او موسم معلوم دی . نوامبر بې هغې هم دشکر دورځې میاشت ده . ددې میاشتې په څلورمه پنجشنبه موږ امریکایان کاله په سر يو خړتومي چرګ وریتوو او ديو قسم سارايي ترشو دانوسره يې خورو. دهر ځای نه دکورنۍ غړي په يوه میز را غونډيږي ، ددوډۍ نه سرکې دخدای شکر ادا کوي چې دوی ته يې داسې ښيرازه ملک ورکړی دی . په دې میاشت دغرڅو ښکار هم مجاز دی . خو چې ودې ويشت نو پوليس ته به يې ورښکاره کوې چې هغه يې دنر ښځې تصديق وکړي او دا ومني چې کبلې او وړوکې نه دی ، په هماغې قسم مرده کې چې په دې فصل کې يې اجازه ده ، په هماغې ګولۍ دې ويشتلی دی . په ژمي کې چې غرڅې کلو او ښارونو او هوارې ته مخه کوي ، هلته يې بيا په توپک دويشتلو اجازه نشته ، په لينډې او غشې يې ويشتلی شې . ګلاجان وويل ، "داخونوښکار نه شو ، بس سپورټ دی ." "کره کولي وخندل ،" ښکار خو بې هغې هم سپورټ دی ." ګلاجان وويل ، " په موږ کې ښکار دکيډې مړول دی ."

## دولسم څپرکی

ټول ژمی ، ګلاجان او ملګرو يې دپسرلي دکر دپاره پلانونه جوړول . کره کولي په کاغذ باندې نقشې جوړولې . دسپارو او نوروشيانو دپاره يې لستونه جوړول کټلاګونه يې کتل ، دهغوی نه يې په تلفون کې دبيې پوښتنه کوله . سوسي چې د غره په لمنه کې يې دپلار نه څه جايداد ورپاتې و، سل ايکړه زمکه همداسې شړه پرته وه ، دهغې کاغذونه او قواله يې راپيداکول ، دماليې اسناد يې راټولول . يوه ورځ دکره کولي او ګلاجان سره ولاړه او دخپلې زمکې چار چاپيره يې په درو ورځوکې دلرګی کټاره تاوکړه . خوپالين ويل ، " ډير به ورته نه ليواله کيږو ، ځکه چې که کار ورنه کړي بيا به مو زړونه خوړين وي ." پخپله پالين هم وزګاره نه وه ، هرشی ته يې دوسيه واچوله او چې به کوم سند يا معلومات په کار شول نو هغې به په کمپيوټر کې پيداکاوه . په ټولو کې ګلاجان بيکاره و . لټ نه و . خو دامريکا په لارو چارو يې سرچندانې نه

خلاصېده . کله به حیران شو چې دا امریکایان ولې هرشـي تـه دومـره پلانونـه جوړوي ، ولې دومره منظم دي . په وطن کې خو ورځه ، یوه پرې سپره کـړه ، او ویې کړه . یوه ورځ یوه بله عجیبه پیښه شوه چې ګلاجان ورته دخنـدا شـین و. کره کولي ورته وویل ،" دختکی تخمونه چېرتـه دي .؟" ګلاجـان ورتـه هغـه لوی کدو وښود چې په تاخچه کې ایښی و . کره کولي هغه راکوز کړ ، سر یـې خلاص کړ ، ټول تخمونه چې لاسره سریښ و له بیلو کښوړو نـه چـې وربـاندې دتخم قسمونه په نښه شوي وو وایستل ، کښوړې او کدو یې دیوه سپین کاغذ پـه سروښندل او بیرته یې ځای پـه ځـای کـړې سـر یـې ټینـګ کـړ او ټول یـې پـه ریفریجریټر کې کیښودل . کاغذ یې سره را ټول کړ او څه خاوره چې پکې راټوله وه هغه یې دپوړۍ په شان . ټینګه کړه ، په پاکټ کې یـې کیښـوده ، څه شـی یې ورباندې ولیکل ، دپوستې ټکټ یې پرې ولګاوه ، په یوه بل کاغذ کـې یـې کوم شی ولیکه ، داټول یې په پاکټ کې واچول ، سرېې ورله سریښ کړ او لـه کوټې ووت . شیبه پس چې ستون شونو وې ویل، " بس ، دخاورې کار هم سـم شو ، دکرنې دفتر ته مې ولیږه چې خاوره یې تجزیه کړي ." ګلاجان کـټ کـټ وخندل ، " عجب به یې تجزیه کړې ! . ماته به دې پخوا ویلی وو چې یو بوتـل خاوره مې هم راغوښتې وای . دغه دوړې چې تـاراټولې کـړې ، داخه دللمـې دي او څه داسقلان ، مانا څه دللمي ختکیـو دي او څه دآبـی ، نـوښه بـه یـې تجزیه کړي " !" سوسی او پالین هم وخندل خوکره کولی په چـوپـه خولـه بیا دخپل پایپ سره چې میرات مړی هیڅ اورنه اخیست ، پهلوانی شروع کړه .

## دیارلسم څپرکی

ماوتسی تونګ په چین کې خپل څلور تنه مخالفان ګینګ آف فور مانا څلـور بدما شان بلل . پالین هم خپلې ډلې ته ګینګ آف فور ویل . ددوی غونـډه اوس تقریباً هرمازیګر وه . داسې نه وه چې یوازې په خپلـې پـروژې غـږېدل ، بلکـه هریوه دخپلې ورځې دکار نامو کیسې کولې او په سبا به یې په همـدې لـړ کـې دنوو پیښو غبرګون ورسره کاوه . ټول دګلاجان سـره دچـایو پـه څښلـو روږدي شوي وو. یو مازیګر خبره په هغه پادري راغلـه چـې دګلاجـان سپانسـر شـوی و اوس یې هره یکشنبه ګلاجان ته دکلیسا دټګ بلنه ورکوله . په ټولو کـې سوسـي

پادري ته ډېره په غوسه وه . يوه ورځ خوېي صفا ورته ويلي وو، "مقدسه پلاره، دخداى په دې لويه ورشو کې ډېر دينونه ، ډېرې عقيدې او لارې شته . موږ عيسويان يو خو دحقيقت کلي زموږ په لاس کې نه ده . ګلاجان مسلمان دى ولې يې ځوروې ؟ زموږ پيغمبر ، جيزس ( عيسى) منې ، ديهودانو پيغمبر ، موزس(موسى) منې ، انصاف خوداوايي چې موږ هم بايد دده پيغمبر ، محمد ومنو . که يې نه منو وخوېي زغمو." ددې يکشنبې په سهار بيا پادري تلفون کړى و . پالين وويل ،" يره دغه پادريان خوداسې دي ، لکه مچان ، چې يو وارې يو ځاى ، شى پيداکړي نو بيا يې چې هر څو شړې ، بيرته راځي . مچ وژونى يې يوازينى چاره ده ." خوکره کولي ورباندې غږ کړ، " پالين يو څه سوکه شه ، ټوله پادريان مه سپکوه ." په همدې کې بيا د تلفون شرنګى شو ، ګلاجان ورپاڅېده،"پادري به وي " خو چې تلفون يې جګ کړ د يوې نجلى غږ وچې پښتو يې ويله . ګلاجان لاس په غوږي پوښ کړ ، ملګروته يې اشاره وکړه چې غلي شئ او دروهيلى سره يې خبرې شروع کړې ، هغوى دده ليوالتيا ، دده ژبه او دمخ سوروالي څاره .تقريباًنيم ساعت ګلاجان په تلفون کې مشغول و ، داسې ښکارېدل چې مقابل لوري ډېر غږيږي او ګلاجان غوږ نيسي .

چې تلفون خلاص شو نو ګلاجان نوروته کړل ،" تاسو امريکايان ريډيو څه ته وايئ؟" پالين وويل ، " ريډيو هغه ماشين دى چې خلک خبرې پکې کوي او موږ يې اورو." ګلاجان وويل ، " نه کوم قسم لوبه ده ، که څه بلا ؟" سوسى په خندا وويل ، "نو ريډيو نه ده ، بلکه روډيو ده . رښتيا بله هفته دالوبه همدلته په اريزونا کې زموږ دښارنه بهر کيږي . تابه هم ورولو ." ګلاجان په وارخطايي وويل،" دا نجلى چې تلفون کړى و ، " سوسى ته يې وکتل ، " هماغه دسانتياګونجلى ده ، وايي چې دخپل ورور سره دريډيو يې بولئ که بله بلا ، دهمدې لوبې سيل ته راځي او وايي که دلته ورته ديوې شپې داوسېدو دکوم هوټل بندو بست وکړو. "

کره کولي چې مړ پايپ يې کشکوده اوپه چوکى کې وړاندې وروسته زنګيده وويل ، " ولې همدلته دانور په خونه کې ورته ځاى نه جوړوو؟" دګلاجان رنګ سور شو ، " ښځه ده ، ورور يې ورسره دى ، زه دوه بسترې نه لرم. دميلمه دپاره هيڅ شى هم نه لرم ، افغانان به تاسو ته معلوم نه وي ،

هغوی بل قسم میلمانه دي . " پالین حملې ته تیاره وه ، " نو نجلۍ دې ستاسره په بستر کې څملي ، څه کیږي ؟ " ګلاجان ترخه کاته ورشتی کړل خو سوسي مرستې ته ورودانګل ، " زه به یو بستر را وړم . " ماښام چې ګینګ روانېده نو کره - کولي ، یو ځلې شاته وکتل ، همداسې مړ پایپ په خوله ، یې ګلاجان ته په موسکا دشیطنت نه ډک ستر ګک وواهه .

# څوارلسم څپرکی

په سبا چې ګینګ راغی نو ګلاجان دکره کولي نـه دزوډیـو دلوبې پوښتنه وکړه . کره کولي ، خپل پایپ ته چې پـه اول کوشش یـې ولګاوه خامتما پـه خپلې همیشکي چوکۍ تـالی خوړلې او په آب وتاب یې ګلاجـان تـه معلومات ورکول :

روډیو لوبه نه ده ، لیونتوب دی ، ځان مرګ تـه ورکـول دي . دځنګلونونه وحشی آس راولي او څوک دې نر شي همداسې شاتوری دې پرې سپور شـي . هلته لرې بیا دغویانو دسپرلۍ میدان دی ، ډیر لوی دپیل په شان ینده غویان وي چې دډیرې مستۍ ښکرونه دکتارو او ونو سره جنګوي . دغـه دواړه داسـې تازه وي چې تر اوسه یې په شاباندې سپرلۍ او په غاړه جغ نه وي لیدلی . ځینو خویې په اول ځل هغه بنیادم لیدلی چې دی یې په ځنګله کې په غشی بیهوشه کړی او همداسې بې هوښه یه سرتړلی واګون کې یې نیغ دروډیو میدان تـه راوړي .

آس یاغویي پـه یـوې اوږدې ویـالې کـې دریـدلی وی ، چـې دپاسـه پـرې لوبغاړی ټوپ کړي ، نومیدان تـه راخوشې شـي او هـره خـوا ټوپونـه وهـي ، لوبغاړی باید اته ثانیې دهغې په شاسپور پاتې شي ، بیا که راولویـږي هـم بـاک یې نشته . دآس سره خویوڅه ګوزاره کیږي ځکه دهغې په طبیعت کې په بنیادم پښه کیښودل نشته او که لوبغاړی له اولې لتې بچ شو نو ایله لاس وپښې بـه یـې خوړ یامات شي . دغویي په برخه کې خو که مرګ نه وي خطر خو خامخا شته ، ځکه چې لوبغاړی پریووت ، نو دادکاپر شـي لنډ پـرې راتـاو شـي او پـه تـیرو ښکرونو یې ترهغې مروړي او هواته ارتوي او بیرته یې نیسي چـې نـور شـورونه خوري دانو دمچ او پیل جنګ دی ، بنیادم دګټلو هیڅ چانس نـه لـري . خو

کاوبایان یې یا دپیسو دپاره کوي چې قهرمانان هرکال په بیلو ایالتونو کې دهمدې رودیو له برکته درې څلورمیلیونه ډالره ګټي اویایې بس دخپلې نارامۍ دخروبولو او ښودولو دپاره کوي.

په بل شنه سهار خور وړور رااورسیدل او دروغبړ نه پس سمدلاسه دګینګ سره په ګډه دلوبې سیل ته روان شول.

دلوبې دمیدان نه چارچاپیره دلرګیو دیوال تاو شوی و. ښایسته زیات خلک وو ځینې کاوبایان دخپلو چترې وزمه پلنو خولیو سره دلوبغالي په دیوال ناست وو او ننداړچیان ددیوال نه بهر په لرګینو اندرپایو چې پوړۍ پوړۍ جوړې شوې وې ناست وو. کاوبایانو میدان ته کتل، اوږدې دسندا دڅرمنې موزې په پښو، سره دسمالونه په غاړه پراته، ځینو دتماکو پاڼې ژدویلې، هرې خواته یې لاړې توکلې.

دګلاجان په اټکل زر دولس سوه کسان سیل ته راغلي وو، بسته کورنۍ دماشومانو سره په رنګ رنګ جامو، ځیني دکاوبایي خولۍ سره ناست وو. دکوکاکولا بوتل په یوه لاس او دپولیو ډک کاغذی ګیلاس په بل لاس، ټولو هغې څېرې ته کتل چې کاوبای دآس سره ترې میدان ته راوزي. دې دملګرو او میلمنو سره په یوه قطار کې ناست و. دروهیلۍ وروړ رازق، په خپله روهیلۍ او بیا دی او بلې خواته یې پالین، سوسي او کره کولي ... داسې ښکاریده چې روهیلۍ چندانې ده لوبې دننداړې لیواله نه ده او دده سره یې خبرو ته تلوسه دیره ده. پوښتنه یې وکړه. "مور ته مو هوټل سرشته کړی دی؟" ګلاجان ووېل، "هوټل څه کوئ، زما کوډله شته، تاسودواړو ته مې بسترې پکې ایښې دي." ګلاجان غوښتل چې د روهیلۍ نه پوښتنه وکړي چې دده تلفون یې څنګه پیداکړ، خو بیا یې پام شو چې نور به نمبر ورکړی وي. په لوډسپیکرونو کې دآسونو او دهغو دجوړه کاوبایانو نومونه یادیدل او دخلکو دچکچکونه ګلاجان پوهېده چې دانوزبده پهلوانان دي. په ګلاجان هم یو قسم دانتظار لیوالتیا راغلې وه او ورسره یو قسم بله لیوالتیا هم دروهیلۍ له شغلو ورتیریده. په همدې کې اول کاوبای دآس په سپرلۍ رااووت آس لامیدان ته راوتلی نه و چې ټوپونه او خینجکې یې شروع کړې. کاوبای هم ورسره کله دې خواکله ها خواتالی خوړلې. آس لا دمیدان بل سر ته رسیدلی نه و چې کاوبای را

پریووت، څوکسو په منډه هغه را پاځوه ، خولۍ یې ، را وچته کړه او سیب ته یې کړ . لوډسپیکر وویل ، " څلورثانیې !" ګویا ویې نـه ګټلـه . بـل کاوبـای دخلکـو دچکچکو سره راووت ، آس هرې خواټوپونه وهـل او کاوبـای ځان ورپـورې ، لکه سرینښ شوی چې وي ، ټینګ کړی و . دروهلیې ورور د شوق نه ټوپونه پیـل کړل او چاورته دشانه نارې کړې ، " څوانه ، کښینه ! ، زموږ مخه دې بنده کـړې ده . " روهیلۍ خپل ورور له کرتۍ راکش کړ . لوډسپیکر بیا غږ کړ ، "اوه ثـانیې ، یوه ثانیه کم راغی "

لوډسپیکر وویل ، " داخلی داسې یو آس راووزي جې تر اوسه پورې چاپـښه نه ده وربانديې اړولې او له همدې کبله موږ وربانديې دکوه قاف دشهزاده نـوم ایښی دی .او دهغې انعام دی ، شـل زره ډالـره . " دخلکـو چکچکـې ، هـلا لا جوړه شوه اوټولو سترګې څپرۍ ته نیولې وې . په همدې کې یو کاوبای دیـوه تورآس سره خرامانه راووت ، آس غاړه یوې خواته کـږه کـړې وه . او خلکـو هلا لا جوړه کړه . کاوبای خلکوته په احترام لاس دخپلې لوېې خولۍ زۍ ته ور وړخو وروته رسېد . آس داسې جګ ټوپ وکړ چې کاوبای څوثانیې ارتـې پـښې په هواکې پاتې شو او بیا په زمکه راولوید .لوډسپیکر غږ کړ ، " څلورثانیې " بیانو ائونسرداټوکه هم وکړه ، " نه مې وو درته ویلی ؟" دګلاجان تلوسه مخ په زیاتېدو وه . اوکه هر څه روهیلۍ ورته خبرې کولې دې پرې نه پوهېده . بـل کاوبـای دهمدې آس سره میدان ته راغی . خو دهغـه حـال هـم همداشـو .لوډسـپیکر وویل ، "داسې ښکاري چې په دې آس کې ، په شلو زرو ډالرو کـې دبنیـادم برخه نشته .نوبل آس به راولـو ." لوبـه ترمـازیګره پـورې روانـه وه .لوډسـپیکر وویل، " دابه زموږ وروستـی آس وي ." رازق ګلاجـان تـه وویـل ،" ودې لیـده ، دامریکابزکشی ؟" ګلاجان وویل ، " داکاوبایان خو زموږ ازبکوچاپ اندازانوتـه کوزه هم نشي نیولی !" رازق په ټوکه ګلاجان ته چلنج ورکړ ، " یـره ، زرډالـره درکوم که په دې آسونو دې پښه واړوله ." ګلاجـان وویـل ، " هنـدوان څوک . اوښان څوک ، زه څوچاپ انداز نه یم ، مـادخپل وطـن ازبـک چـاپ انـدازان یادول ." رازق لاهم زړور شو، " نو ته هسې لافـې ولـې کـوې.ازبـک یـادوې او ازبک یادوې . ازبک دکاوبایانو نسوارهم نه دي . اوکه پخپله دومره نریـې داګز دایی میدان !" ګلاجان څو شیبې روهیلۍ ته وکتل او بیا یې رازق تـه وویـل ،

يره داشرط خو درسره ترم ، خوزر ډالره به په کيشتونو درکوم ، ټولې روپۍ اوس نه لرم ." رازق په حيرانۍ ګلاجان ته وکتل ، "رښتياوايې ؟" ګلاجان سروښوراوه او نور يې هيڅ ونه ويل .رازق خپل دکوکاکولا بوتل روهيلي ته ورکړ او پا څېد، دلوډسپيکر اورفريانو پلوته چې دميدان په بل سر کې په جګې چوترې ولاړ وو ورغی . له يوڅه ځنډ نه پس ، لوډسپيکر غږ کړ ،"ښاغليو اوميرمنو، يو نوی زيری ! په نندارچيانو کې چا دکوه قاف شهزاده ته چلنج ورکړی دی ." نندارچيانو په يوه غږ په ملنډو دخنداغريو جوړکړ . په دغسې لوبو کې بـه کلـه ځينـې مسخره ټوکماران درنګينو جامو سره راووتل او په يوه ډنګر يابو سپاره به ميدان تـه ګډ شول ، آس به په لاره سم تلی نه شو خو دوی به ځانونه دې خواهاخوا کړول ، لوډسپيکر وويل ، "داسړی دافغانستان نه راغلی مهاجر ګولاجين ، دی ، خـدای دې وکړي چې نوم مې سم تلفظ کړی وي " دخلکو خنـدا او چکچکـې نـورې هم زياتې شوې .

کره کولي او نوروملګرو يې ګلاجان ته کتل ، چې آرام ، په چورت کې ډوب په خپل ځای ناست وو . رازق راغی او ګلاجان يې ترلاس ونيو ، دهغه ددرېدو سره خلکو ورته لاسونه وپړقول ، په ملنډو نه ، بلکه په يو قسم زړه سواندې چـې امريکايان يې معمولاً دخوارو خارجيانو پـه هکلـه لـري . روهيلـی هـم ورسـره غبرګه پاڅېده خپل ورور ته يې وويل ، " جواری او ليونتوب هم يو حد لري ، لږ وشرمېږه !" خو ګلاجان وويل ، " اوس نـو خـدای راوسـتې ده ، بـس تـه راتـه دعاکوه !" بيانو لاړ ، کره کولي ته يې لاس ورکړ . پالين او سوسی راغلل او دی يې په دواړو مخونو چپ کړ . په اوله ځل پالين لـه ټوکـو او پيغورونـو پـاتې وه . رنګ يې سپين تښتيدلی و او دمړو اوښکو په مينځ کې يې وويل ، " پـه ځان پـام کوه چې بيا به داسې مهربان ورور له کومه کړم . "ګلاجان وموسل او زوان شو . ډيره شيبه رفريانو دګلاجان سره خبرې کولې او دلوبې مقررات يې ورته تشريح کول . بيا يې يو کـاغذ وربـاندې لاسـليک کـړ چـې کـه څه ضرر ور ورسـېده ، هيڅوک مسوول نه دی .

نندارچيان هم بې تابه وو، او ځينو يې دڅنګ تابيه نيولـه ، پـه همـدې کـې لوډسپيکر په خبرو راغی ، " ميرمنو او ښاغليـو ، دادی دکـوه قـاف دشـهزاده او

ښاغلي ګلوجین مقابله " بیانو ، لکه چې دانانسر خواخوږي هم راپاریدلي وي "افغانه وروره ، کامیابي دې غواړو" ټولو دتشویق لاسونه وپړقول .
ګلاجان خپل ملاوستني چې دسندا دڅرمن او دکره کولي تحفه وه یو څو سوړ په نور هم مضبوط کړ او بیا ورغی او دڅېرې دویالې په سر درفري اعلان ته منتظر ودرېد . ځانته یې پام شو چې زنګنونه یې یو څه رېږدي. سترګې یې پټې کړې او ځان یې دخان آباد دبزکشي دغونډۍ په دوړو کې په ذات ګرګ باندې سپور ولید ، دیاغي آس خوله له ځګونو ډکه وه او چاپ اندازانو ورته چکچکې کولې. په همدې کې درفري داعلان غږ راغی او دآس په شایې ودانګل دواړه بهرمیدان ته راووتل . آس بیا یوه ثانیه آرام ودرېد . ګلاجان پوه شو چې دایې چل دی او سړی خطاباسي . دپخوانو کاوبایانو دسپرلۍ په وخت کې یې د آس دستور لیدلی و . یو لوی ټوپ هواته او بیا دبغل خالي کول . دکوټې د مشهورې زلزلې کیسه یې دډېګرۍ په کوم دوکان اورېدلې وه . په کوټه کې په اول سرکې ټکان کوز وپاس و ، چې دډیوال هره خښته یې له بلې نه بیله کړه او بیا یې دچج په شان څنګ په ټکانونه شروع کړل ، چې ټولې خښتې کانې او هرڅه یې ورژول او ورسره یې دا ټیکلی هم اوریدلې و : "زمکه دمکې به زنګیدله لکه ټال په شان دزلزلې به خوځیده امر درب ".
ددې بې پیره آس ټکانونه هم همداسې و . نوکله چې آس شاتنی پښې هواته کړې او ګلاجان یې پاس ګوزار کړ ، ګلاجان له تجربې پوهیده چې آس په کومه ځي . بیرته په آس سپور راغی ، دې لاسم ناسټ نه و چې آس بغل خالي کړ ، یوې خواته یې ودانګل ، دچج نوبت راغی ، ګلاجان دخرو دسپرلۍ نه ددې قسم ټوپ سره بلد و او ځان یې راټینګ کړ . آس بیا خپلې خینجکې تکرار کړې ددې سره یې خوله شاته اړوله چې ګوندې چک ولګوي . خوګلاجان پښې دآس دخیټې پورې نښلولې وې . د ګلاجان زړه کې ګرځیدل چې دا اته ثانیې خونیمه ورځ شوه ، ولې رفري غږ نه کوي ؟ دتوخته بای آس ، ذات ګرګ یې سترګو ته ودرېد ، چې دغونډۍ په شېله ، په یوه وړکي خوړکې داسې نښتی و چې راختلی نه شو او په همدې تنګه وچه ویاله کې یې کله مخ کې او کله شاته زور کاوه . دګلاجان پام شو چې آس ته کوم تکلیف ورپېښ دی ځکه چې سترګې یې برګې راختلې وې ، ششنیده او زګیروی یې کول . په

کراره ورغی ، دآس لکی یې ونیوله ، ګوری چې تر لاندې ، یو لوی شین وزری مچ ورپورې نښتی دی ، ګلاجان پوه شو چې داهماغه بې پیره شی دی چې دغویانو تر لکی لاندې په کونه ونښلی ، هم یې چیچي او هم یې وینې زبېښي، البته بد دږد به کوی چې غویی برېړي او لکی ډانګ ځان په غرو رغو ولي . له همدې امله یې بزګران غویباړی بولي . همدا دکافر بچی اوس دذات ګړګ دلکی لاندې په غوښه پورې نښتي و . ګلاجان پس دځو ناکامو کوششونو بیا آس راګیر کړ اودسترګو په رپ کې ، پخواترې چې آس بیا ودانګي ، غویباړی ، دغوښې نه وشکاوه او په لاس کې یې وسرویه . آس آرام په ځای ودرېد ، بیا نو نه خینجکې وې ، نه شیشنې ، او ګلاجان همداسې شاتوری پرې سپور توخته ته راووست . مګر دغویباړی خبره یې هیچاته نه وه تېره کړې ، او خلکو پرې پهلوانچه نوم ایښی و . ګلاجان بې واره دځپل وطن دخوب نه راویښ شو او ګوری چې آس تر لاندې لا خینجکې وهی او اته ثانیې نه پوره کیږي . په همدې کې لوډسپیکر غږ کړ ، " اته ثانیې پوره شوې !" خوګلاجان لاهم له ویرې دآس په شا ځان ټینګ کړی و . لوډسپیکر والا مست شوی و ، " نن موږ یو نوی قهرمان لرو ، ګلوجینه ، بس دی راکوز شه ." ایله ګلاجان په سد شو او دلرګو کټارې ته یې ورټوپ کړ او هلته نورو کاوبایانو داسې پاس راښکه ، لکه دبزکشی وزه . دنندارچیانو غریو غوړونه کڼول او لوډسپیکر هم ورسره چیغې جوړې کړې وې ؛ ګلاجان ببر سر رفریانو راګیر کړ او خلکو هم چارچاپېره دګڼه ګونې کړی جوړه کړې وه . ښایسته ډېر وخت پس ، ګلاجان دخلکو دمینځه ځان راوښکه او خپلو ملګرو ته ورسېده . اول چاچې ځان وروړساوه ، روهیلی وه، خو پالین وار ړومبی کړ ، لویه ړمنځ یې په لاس کې نیولې وه او دګلاجان جړویښتان یې ړمنځول او مچې یې ترې اخیستې . کره کولي دځپل مړه پایپ سره خرامانه راغی او ګلاجان یې په غېږ کې ونیو . سوسی نوروته شا اړولې وه او له خوشالی یې ژړل . ګلاجان هرې خواته وکتل او بیا یې وویل ، " کره کولي ، هغه ستا کبابونه څه شول چې تاویل نن ماښام به یې په موږ وخورې ؟"

په لارکې دکره کولي تر زاړه او زنګ وهلی موټره پورې خلک لیکه ولاړ وو او مبارکی یې ورکوله . ګلاجان چې له اصله شرمیندوکی و ، زمکې ته کتل ، خو پالین به دهر چانه تشکر کاوه ، لکه چې ګلاجان ددې مخلوق وي . په موټر

کې نورو ګلاجان ته کتل خو هغه لا رازق ته غځولی و، " راوشمېره ". رازق هم تیار زرګون ورته ونیو، ګلاجان واخیست او بیایې روهیلي ته ور اوږد کړ خو پالين په هوا کې قپ کړ، " دطالع روپۍ به نه پردی کوې !" روهیلي بدبد ورته وکتل.

دکره کولي میرمنې په برنډه کې دبلربکۍ (کباب) نغری لګولی و. کره کولي په لایټر اور ورواچاوه لو دکوټې نه یې اخته شوې غوښه راوړه، پرې وایې چوله سوسۍ او پالين هم بوختې شوې. عجیبه داچې دروډیو رفریان او انانسر هم دخو نورو کسانو سره راغلل، دبرنډې لاندې ودرېدل، تر څو کره کولي ورته مست وکړ. ګلاجان هم دخپلو ملګرو سره دکباب په پخولو لګیاشو. دهغوی په شونډو یوه وړه موسکا انځور وه.

کره کولي، وچ پایپ دشونډو له ګوټه خوړند، نغری ته ولاړ و، غوښې یې مخ څټ اړولې، رازق دنوراغلو رفریانو سره په مرکو اخته و او دشوقه یې لاسونه هرې خواته اچول او کټ کټ یې خندل. روهیلي دبرنډې په ګوټ کې ستنې ته تکیه وهلې ولاړه وه او لرې دغرو لمنې ته یې کتل چې دلمر سترګه په غرغرو ورډوبېدله. څو ځلې خو رازق ګلاجان ته په لاس اشاره وکړه چې درفریانو دلې ته ورشي، خو هغه ځان لرې ساته دوی ته به یې وموسل او بیرته به په دې او هغې بوخت شو.

چې کباب تیار شونو ټول کولې ته ننوتل او دمیز نه چار چاپېره کښیناستل. کره کولي سر په لاسونو تکیه کړ، سترګې یې پټې کړې او ویې ویل، " خدایه ستا شکر کوو چې دیوې مړۍ ډوډۍ لایق دې ولیدو. " امریکایانو ورسره "آمین". کره او بیا یې دکبابونو په ټوټو برید ښخ کړ. ټولو دکره کولي دخوندورې ډوډۍ صفتونه کول خو پالين ځان پکې شریک کړ، " سلاد ماجور کړی دی !" ټولو وخندل.

وروسته له ډوډۍ سوسی فرینې په میزکېښوده هر چا خپل واړه قابکۍ ترې دکول، دناستې کوټې ته تلل. خو رفریانو ګلاجان ایسار کړی و او په خبرو خبرو یې برندې ته وایست روهیلي هم په پته، چې پالين خبره نه شي، وروو ته، دګلاجان څنګ ته ودرېده، لکه چې پوهېده چې څه شی را روان دي. رفریانو ګلاجان ته وویل " اوس چې ته قهرمان یې، نو دډالرو ویاله دربانډې

(c) Aretaboo.com: The Digital Library

سپره شوه . موږ غواړو چې ستا سره ګټورې ماملې جوړې کړو. " ګلاجان روهیلی ته وویل ، " داخلک څه څه وایي ؟، کومې ماملې ښیسې ؟" روهیلی وویل ، " زه څه پوهیږم ، په انګریزی خو یې تر ماته ښه پوهیږې ، ماخو فقط ددوو میاشتو یو کورس لوستی ، خولکه چې غواړي ته ورسره قرار داد وتړې چې دروډیو په لوبو کې به ګډون کوې او بس ددوی ، هغه توری څه و ؟ چاپ انداز ، ددوی چاپ انداز به یې . هرکال به تاته پیسې درکوي ." ګلاجان رفریانو ته موسک شو ، " زه دآس کسبی نه یم ، دغه سپرلی مې دشوق دپاره وکړه . ستاسو شل زره ډالره هم نه غواړم ، ما مازې خپل شوق کاوه . " روهیلی ګلاجان ته ترخه شوه ، " زه خو څه ستا دپلار ترجمانه نه یم ؟" ګلاجان په تعجب دهغې غوسه ناک مخ ته وکتل ، بیایې په بابیزه واخیسته او ویې ویل ، " ته ودرې چې کره کولی ورته راولم . " بیانو کره کولی په تفصیل سره دګلاجان خبره ورته بیان کړه ، رفریانو سرونه وښورول او یوه یې وویل ، " دا آزاد ملک دی ، موږ په زور درباندې قرار داد نه شو کولی ،.خوموږ ویل ، ستا او زموږ داوړو خیر پکې دی.داهم ورته ووایه چې هرکال دیو میلیون ډالرو ضمانت کوو . " کره کولی ترجمانی ته خوله جوړوله خو ګلاجان وویل ، " یو څه خوزه هم ددوی په خبرو پوه شوم ، ورته ووایه . میلیون دې په تاسو بختورشي ، زما ددې قسم کار سره جوړه نه ده . " کره کولي وویل ، " وروڼه په خان مه بندوه ، ورته وبه وایم چې ګلاجان اوس حاضر په نورو کارونو بوخت دی ، تشکر به ترې وکړم او وبه وایم چې که بیاوزګار شو په تاسو به غږ وکړي . " ګلاجان په خندا وویل ، " په هر قسم یې چې ورته وایې ، مقصد ددې بلانه مې خلاص کړه . " کره کولی موسک شو، رفریانو ته یې تفصیل ورکړ . خو رفریان نه قانع کېدل . د هغوی تر مینځ بناهسته ډېر وخت خبرې روانې وې ګلاجان دیـوه بېغرض په حیث بېرته کولې ته نووت.

دشپې ناوخته میلمستیا ختمه شوه . روهیلی وویل ،" موږ ته موکوم هوټل تیولی دی ؟" ګلاجان وویل ، " نه شپه به زموږ کره تېره کړئ . هلته یې هغې هم دانور خان کوټه خالي پرته ده . " روهیلی موسکه شوه . کره کولی تول په موټر کې دګلاجان کورته ورسول . هلته پائین روهیلی ته دخوب کوټه وروښوده ، په تشناب کې یې نوې تولیې ورته کېښودې، او بیا نو ګینګ رخصت شو .

ګلاجان رازق ته وویل ، " تاسو خور او ورور به په یوه کوټه کې پریوزئ ، د انور په کوټه کې او که وایې نوته راځه زما په کټ پریوزه ، زه به په کوچ ویده شم ." رازق په نورو سودا وو کې وو ، " ولې دې درودیو د دلالانو تجویز رد کړ؟ ته نه پوهیږې چې دامریکا روپۍ خویا په لوبو کې دي او یا په قمار خانو کې ؟" خو روهیلۍ مداخله وکړه ، " وروره ، جوارګري ډېر په تـا بختـوره شي ، نـور خلک دې حرام کسب ته مه لمسوه ." ګلاجان دواړو ته کتل او مداخله یـې نـه کوله . روهیلۍ ګلاجان ته کړه ، " درازق خبرې مه اوره اومه ورنـه خپـه کیږه ، هغه خدای همداسې ښویولی دی ، هغه متل څه دی چې وایي نیکـی لـه دې ملاماته ده ، بدی له نغارې وهې . ماته خوب راځي ." ګلاجان ورسره ترکـوټې لاړ خو هغې په دوروازه کې وویل ، " بس ته ورځه ستا معشوقې ، پالین ، راته کټ او هرڅه ښودلي دي ." ور یې پورې کړ او دشانه یې پسې غږ کړ ، "هسې تـوکـه مې کوله ، شپه په خیر ."

ګلاجان په تشناب کې اودس تازه کړ او بیا دناستې په کوټه کـې پـه لمـانځه ودریږد . په دعاکې پس دمړو او ژوندو چې دعادت لـه مخـې بـه یـې پـه شـونډو تیریده ، په پټو سترګو ځان ته دعا وکړه ، " خالقه ، دشیطاني وسوسوې نـه مـې وساتې ، دجوارګرۍ نه مې وساتې . یـوه مـړۍ حلالـه روزي راکـړې او دخپـل وطن سوب مې وکړې ." چې دخوب کوټې ته لاړ ، رازق په ربنتیا هم دګلاجـان په بستر ویده پروت و . غلی ووت . دتشناب دڅنګ الماری نـه یـې دوه شـړۍ راوښکلې ،د خوب په خونه کې یې یوه په زمکه وغوړوله ، دکوچ داشـاتکیه یـې پرې کیښوده ، پریووت ، کلیمه یې وویله ، بله شړۍ یې په ځان راکش کړه او تـر سهاره دبنګې دسیند دسرپه غونډۍ دبزکشۍ په دوړو کې ورک و . په خوب کـې دده آس تل هماغه ذات ګرګ و .

څه ښکالو راوینبن کړ ، دلمانځه وخت و ، چې داودس دپاره تشناب ته روان شو ، ښکالو له هماغه ځایه راتله . بیرته په خپل ځای کښیناست . روهیلۍ خیشته پیشته ، مخ او سر په تولیې پوښلی ، راووتله . دده په لیدو یې ټکان وخوړ ، خپلې کوټې ته ننوتله . ګلاجان هم اودس وکړ او چـې راووت نـو روهیلـۍ ولاړه وه ، هرې خواته یې ترور کتل . ګلاجان ژر هغه جالماز چې دپیښور نه یـې راوړی و ، هغې ته ورکړ . روهیلۍ په خندا وویل ، قبلـه کومـې خواتـه ده ؟ ګلاجـان اوس

دکره کولي دقطب نما په مرسته قبله سیخه کړې وه . دشرمه سور شو خودسهار په خړه کې روهیلی نه شولیدلی . هغې ته یې جالماز وغوړاوه او لرې په یو ځادر په ځپله هم ودرېد . په خاموشی یې لمنځونه وکړل او ګلاجان ډېر پام کاوه چې دځپلو کلیوالو په شان د سهار په لمانځه کې پشهار ونه کړي او ساړه اسویلی ونه باسي . درکوع نه پس یې هم ملا په قیام کې نېغه راسته کړه او دنورو ورځو په شان یې ونه کړل چې درکوع نه پس همداسې کړوپ سجدې ته لاړ شي .

دلمانځه نه پس ګلاجان دسبناری دجوړولو په نیت پخلنځی ته لاړ ، چاځوښه یې دتازه سړو اوبو نه ډکه کړه ، په نغري یې کېښوده ، نغری یې چالان کړ ، خو نور نه پوهېده چې څه شی پاخه کړي . روهیلی دپخلنځي دروازې ته تکیه وهلې وه او ده ته یې کتل . چې د ګلاجان تکنی توب یې ولیده نو راغله او ویې ویل ، " بس تا خپل کار وکړ ، نور یې ماته پرېږده . دښځو کار دی ، ته ورځه ، بېلمازه مځنته ورور مې راپاځوه چې مشوکه خو په اوبو کې لمده کړي . " ګلاجان په خوشالی وووت. روهیلی دپخلنځی نه غږ کړ ، " هګی څنګه غواړې " ګلاجان وویل ، " یو مخ ، خاګینه ، چې سره ګډې نه شي . " رازق له خپل بستر نه غږ کړ ، " زما هګی بدیشی ، ماته ، سیریال ، ورغستلي جوړ کړئ . " شیبه پس روهیلی په پتنو س کې سبناری راوړ ، خپل ورور ته یې وویل ، " تونکه دې ومینځله ؟" رازق ورته په قار وویل ، Shut up ورو سته ، چې روهیلی لوښی پخلنځی ته یووړل او ماشین کې یې کېښودل ،رازق ورغږ کړ ، "بس نو روانه خرمانه شه چې ځو زه ځم ، په موټر کې تیل اچوم ، نوته به تیاره وې . "

روهیلی او ګلاجان دچایو دپیالو سره دمیزدووخواته مخامخ کښیناستل . اوږده شیبه غلی ووګلاجان یو خوکم خبری و، بل وېرېده چې دنجلی په مخ کې کومه غلطه خبره ونه کړي . روهیلی هم له همدې ویرېده او دهغې بله کمزوري داوه چې دخبرو شروع کول تل ورته سخت ښکاریدل. دکره کولی خبر ، خاموشی د کند خاصیت لري هرڅومره چې ډېر پاتې شي هماغومره یې سرېښی ماتول ګران شي . ګلاجان ددې کش حالت دماتولو په نیت ، پاځېد ، دروهیلی پیاله یې دمیز له سره واخیسته ، او دهغې دتازه کولو دپاره پخلنځی

ته ننووت. له هماغه ځایه یې غږ کړ ، "ولې مودومره بیړه ده ، یو څو شپې به پاتې شوي وئ چې د اریزونا سیل مو درباندې کړی وای ." دروهیلۍ دخندا غږ راغی ، "تاسو غیر له اغزیو بل څه نه لرئ او موږ څو څه اوښان نه یو چې خوز وخورو؟" ګلاجان وویل ،"نه دلته لوی پارکونه دي،آبشارونه دي،دلیک مید Lake mead ډنډ په امریکا کې ساری نه لري او دګرینډ کینین مِلي پارک ته خوزه لاړ نه یم خو وایي چې په اصل کې په اریزوناکې شروع کیږي " دچایو پیالې یې دناستی خونې ته یووړې او بیا یې په مینه روهیلۍ ته وکتل ، دهغې رنګ سور شو ، خبره یې تېره کړه ،" دپارکونو شوقي نه یمه ، دآس سپرلی ته مې لایو څه شوق کیږي ."ګلاجان وویل ،" اوس خو آس نه لرم ، ګوندې کال ته کوم ټټو واخلم " روهیلۍ په یو څه تونده‌لهجه وویل ، " ټټوان دخدای بلا ډېر دي ، په پارکونو کې په یو ډالر هم سړی پرې سپریدلی شي ، زه مستانګ غواړم." ګلاجان په تعجب وویل،" دایې لاڅه بلا وي ؟" روهیلۍ وویل " ورور مې راته ویلی دي چې دا بل خېل آسونه دي . رازق وایي چې پخوادلته هم ټک راتګ په آسونو کېده خوبیا چې اورګاډی راغی ، آس دموده ولوېد، خلکو همداسې په ځنګله کې خوشې کړل . " ګلاجان وویل ، "نو چې خوشې کول یې ، ولې یې په بل چانه خرڅول ؟" روهیلۍ موسکه شوه ، " ایله ذې یوه ناپړیته وویشته . آس نو چاخیسته ؟ ټول په اورګاډي ورمات وو .څه آسونه خو دخلکو نه یاغی شوي وو ، هغه هم ورسره ګډ شول بیا همالته په ځنګلونو کې ګلي ترې جوړې شوې ، نسلونه یې زیات شول ، او اوس هم وحشی ګرځي . دامې هسې خبره کوله ، دامې درته ویلې چې رازق خوهسې جوارګر دی ، خوماچې بیګا ددلالانو لیوالتیا ولېده نو وایم چې که دپیسو شوقی یې؟" ګلاجان وویل ،" شوقی به یې یم که به نه یم ، خوماته دلالان ، دغه ټوله ماملـه بې اودسه ښکاره شوه . په امریکې کې به څوک دپیسو شوقي نه وي ،دلته خو غربت او فقر فخر نه دی لوی شوم ګنل کیږي . خو زه وایم چې په حلاله یې وګټم ." روهیلۍ پوښتنه وکړه ، " د حلالې لار دې موندلې ده ؟" ګلاجان په شرمیندوکی خندا وویل ، " یوڅه خیال پولاو خوشته ، خو وګورو چې څه کیږي ؟" روهیلۍ وویل ،" ته خویې راته ووایه ؟"ګلاجان وویل ، " تراوسه څه نشته ، خوکه ژوند وفاوکړه..." روهیلۍ یې خبره ورغوڅه کړه ، " په دې خوانه ځوانۍ کې دومره

ناامیده يې ؟" ګلاجان کټ کټ وخندل ، "نه ، داهسې زموږ دکلي اصطلاح ده. مقصد مې داوچې که خیر و شپږ میاشتې پس به دې خبره کړم . " روهیلي هم وخندل ، " هلکه ، زما دې نوره هم تلوسه کړه چې داخه دسرو زرو په کان اوښتی يې اوکه دې دتیلو څاموندلې ده ؟" ګلاجان ورته وموسل او نور يې هیڅ ونه ویل . په همدې کې رازق راورسېد او روهیلي هم خپلې خونې ته لاړه چې ځان تیار کړي . ګلاجان تر موټره پورې ورسره وووت او چې هغوی روانېدل نو روهیلي وویل ، " ترشپږو میاشتو پورې خدای پامان ." رازق خپلې خورته په تعجب وکتل بیايې اوږې په بې پروایي پاس وار تولې او اکسلیټر ته يې لته ورکړه . دګلاجان په ګوګل کې کوم ځای تش پاتې شو .

## پنځلسم څپرکی

ګلاجان نه شاعر و اونه دتخیل سړی . دده تجربه دمینې په باب لنډه اوپه نشت حساب وه . یو اوړی ، دی به و ، ددولسو کالو ، دیوه واده په سهار چې دکور په چوتره باندې ټولې میلمنې ړنګې بنګې پرتې وې ، ده دیوې ویندې ښځې یو تی ولید چې دشنه بخمل کمیس نه راوتلی و . دهغې په لیدو يې په وارخطايي کوتې ته منډه کړه . خوزړه‌يې صبر نه شو او شیبه پس بیا راووت اوپه چل يې ځان دهغې کټ ته ورساوه او دهغې دسپین تی ننداره يې وکړه . اوس يې هم دهغه غلچکي عیش خوږوالی په ماغزو کې و اوتل يې دځانه سره خپله خیالي محبوبا په شنه بخمل کې لیده . نور نودی په دې کې پوره کلیوال و ، یوه ښایسته نجلۍ چې کره وره يې سم وي ، دښې کورنۍ وي ، ستن او سکوي يې یاد وي ، په پخلي کې ، په کور کولو کې پواره نه وي ، په رویبارانو راپیداکړه ، جرګه ورولیږه او بیا يې واده کړه . اوس يې روهیلۍ ته هم همداسې زړه کېده خو چل يې نه ورته .

## شپاړسم څپرکی

کوز ، دکالیفورنیا دخلیج نه بارانونه داریزونا په جنوبي څنډه شروع شوي وو . دپسرلي شنیلي راروان و .دګلاجان ګنګ هر یودپروژې په خپلو برخو لګیاو. سوسي خپله میراثي زمکه دغره په لمن کې ورخپله کړې وه ، دهغې چارچاپېرېې دلرګو کټارې نوې کړې وې ، او اوس دکره کولې نوبت و. هغه په

ځمی کې ددهقانی سامانونه اخیستی وو . دهغو پیسې یې په قسطونو ماتې کړې وې اوسوداګرانو چې اوس ګلاجان پېژانده ورسره منلې وه ، چې یو کال به هیڅ پیسې نه اخلي او بل کال به دسود سره دهغې قسطونه میاشت په میاشت ورکول کیږي . په سامانونو کې بس هماغه شیان وو چې ګلاجان په وطن کې پېژندل ، خوټول په یوه لوی ماشین کې چې دوی ورته کمباین ویل . یوه ، غابنور ، ماله ، دا ټول ورسره وو چې هر یو دضرورت په وخت کې په دې ماشین پورې نښلول کېدل . کره کولي دخپل مړه پایپ سره درسته ورځ په خپل ګراژ کې دخپلې دې نوې نانځکې سره بوخت و . پالین په کمپیوټر کې جدولونه ، دجم وخرڅ پاڼې ، حتی رسیدونه چاپول

چې هواماته شوه او دازغنو بوټو او زقومو خپرې ترخې شنې شوې ، نو ګلاجان دختکو تخمونه راواخیستل ،سم نیمایي یې کړل . نور یې بیرته ځای په ځای کړل او دایې په بیلو بیلو داوبو ډک ګیلاسونو کې خیشته کړل . په هر ګیلاس باندې دتخم دقسمونو نومونه تیار لیکلی وو . په بل سبا یې، دپسرلی دآخر یو پوست او نمجن سهار و چې کره کولي دګلاجان پسې راغی او په خپل ټراکټور کې یې دغره دلمنې پټیو ته بوته . کره کولي لاد وخته شل جریبه مځکه په ټراکټور وهلې وه ، په څلورو برخو یې ویشلې او په هره یوه کې یې دولسوالۍ دکرنې دماهر په لارښودنه دخاص ترکیب سره شیندلی او بیا یئې ښه حلاله اړولې وه. په دې ورځ نو ګلاجان ددوچو( جویو) او ویالو دکنلو هدایت ورکړ او کره کولي دستر ګو په رپ کې په ټراکټور دوچې (نرۍ ویالې چې وروسته اوبه ورکې خوشې کیږي او دنیال بیخ لمدوي .) وایستلې، ګلاجان دبسم الله سره دختکی زړي ، دوه دوه، درې لویشتې ترمینځ ددوچې دپاسه په خاوروکې ښخ کړل . یوه ګوته خاوره یې پرې راواړوله . په هر قطار کې یو قسم ختکی ترمازیګره یې تخمونه کرل . کره کولي لرې په خپل ټراکټور کې ناست و او دده کارروایي یې څارله . چې کار خلاص شو نو ګلاجان لرې ودرېد او په مینه او ارمان خپل کښت ته ځیر و ، چې کره کولي دچرګې دسرې غوښې دسینډویچ سره راغی ، دده تر څنګ ودرېد ، سینډویچ یې ورکړ او په خپله هم دټېرو ، دغلامۍ دوختونو په شان چې پلار یې ورته کیسې کولې ، ودرېد او د ګلاجان په شان ده هم پټی ته کتل . چې بېرته راتلل کره کولي ورته

توضیحات.ور کړل چې په اوله برخه کې څه قسم خاوره وه او څه ترکیب یې درلود او دویمه یې څنګه وه ؟د ګلاجان په دې خبرو سرنه خلاصېده ، ویې ویل، " دابه دوه هفتې پس معلومېږي ."

کره کولي چیرته دانتظار حوصله لرله ، هرسهار به پټي ته ورته او دخیریت احوال به یې ګلاجان ته رساوه . ګلاجان به په خندا دامتل ورته ترجمه کاوه چې مدعی سست ګواه چست . سوسی او پالین هم په انتظار ناستې وې خو پالین ویل ، " یوه روځ به ووینې چې زقوم او ستاسو دوطن داوښانو ځوزان راشنه دی ." کره کولي به قسمونه خوړل چې هغه ځای چې تخمونه ښخ دي ، ده ولیدل چې مځکه لږه راجګه شوې ، پرسېدلې ده خوپالین به ورپورې ملنډې وهلې ؛ " دځوز قاعده همداسې وي . "

یوه شیشته پیشته ، بارانی ورځ وه چې ناڅاپه کره کولي ، داخلې په ټراکټور راغی او بې غږ او غوږه یې ګلاجان بوته .ګلاجان چې هرڅه کتل ، بس هماغه توره خاوره وه چې اوس دباران دلاسه ختټه شوې وه . کره کولي ویل ، " هوغه دوچه وینې، دآخر خواته ، هوغه شین بوټی وینې ؟" ګلاجان په احتیاط ورغی . بوټی خو و ، دوې پاڼې یې هم لرلې ، خو دتوت پاڼې شنه په ځای توربخن و . لاس یې ور وړ ، زیږ لګېده . یوه پاڼه یې راوښکله ، ورسره دځوز غوزه راووتله . هغه یې ټراکټورته راوړه او کره.کولي ته یې ورکړه . هغه معاینه کړه او بیا یې سروښوراوه ، " I, d be damned "ماناتولعنت دې وي په ما ! مګر ګلاجان دځانه سره وویل ، بس چې ځوز راغی نو ختکی هم نشالا چې راځي .

## شپاړسم څپرکی

په بل سهار چاور وتکاوه ، چې ګلاجان پرانیست نو پادری و. ګلاجان دځانه سره وویل ، " لعنت!" خو پادري ننه ووت او همداسې په ولاړې یې وویل ، "خبرشوم چې دروډیو قهرمان درنه جوړشوی دی ." ګلاجان وموسل او نوریې څه ونه ویل ، پادري وویل ،" خبرشوم چې شل زره ډالره دې ګټلي دي ." ګلاجان بیاهم غلی و .

پادری وویل ، "اوس خوبه دعیسی په معجزې قانع شوی یې ؟" ګلاجان وویل ، " پخواهم قایل وم." پادری وویل ، " پوهیږم خواوس هم په محمد ایمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرې." ګلاجان په قهر وویل ، " زه په خدای ایمان لرم ، محمد یې پیغمبر دی په هغه اوپه ملایکو ایمان لرم . ټول پیغمبران مې قبول دي ." پادري وخندل ، "داخبرې موډیرې کړې . اوس ددې دپاره نه وم راغلی ." ګلاجان په تعجب وویل، " نو څنګه راپیښ شوې ؟" پادری وویل ، " ماویل چې که په دغو شلو زرو ډالرو کې ، چرچ ته هم څه بسپنه ورکړې !" ګلاجان پوه شو چې پادری دخپلو پخوانیو خدمتونو بدله غواړي . نو په خندایې وویل ، " داچک لاپه لاس نه دی راغلی ، خو چې راغی، بس ، ته ووایه چې څومره غواړې ؟" پادری وویل ، " زه سوال نه کوم ، چرچ هیڅکله سوال نه کوي ، نوته پوه شه او سخاوت دې ، دچرچ دترمیم دپاره بسپنه ټوله شوې ، زرکه څه دپاسه زرکمبود دي . " ګلاجان وخندل ، " پادری صیب ، بس دوه زره دې په ماشوې !" پادری په خوشالی ګلاجان ته لاس ورکړ ، دصلیب هغه زنځیر چې یې په غاړه پروت و ، هغه یې مچ کړ او لاړ . ګلاجان سروښوراوه او دځانه سره یې وویل ، رښتیا چې په امریکا کې پیسه ایمان دی !

په بله ورځ پټي ته دروانېدو په وخت کې یې کره کولي ته داکیسه تېره کړه . هغه پایپ له خولې راوایست ، ایسته یې لاړې توکړې ، "پادری نه دی دسپي زوی دی ." خوددې سره کره کولي پټي ته ورمنډه کړه . ګلاجان وارخطا شو چې هسې نه چې مرو په تخمونو برید کړی ، دی هم ورپسې شو . ګوری چې په یوه قطار کې توت پاڼې شنې ، پاڼې دخاورو نه راوتلي دي . اوله لیکه ټول لګېدلی، دویمه لیکه یونیم ځای تش دی ، دریمه لیک هم ټول لګېدلی ، نورې لیکې خالي وې . ګلاجان بوټوته په ګونډو شو . یوه نه بلکه دواړه تخمونه راټوکېدلی ، ښایسته ، ښویې ، غوړې پاڼې . نویې کره کولي ته وویل چې دا باید پټ شي چې باران او باد یې خراب نه کړي .کره کولي ده ته وویل ، "ته کښینه، زه راځم " په تراکتور کې ورک شو او چې نیم ساعت پس راغی ، کاغذی لوی ګیلاسونه ورسره و ، ګلاجان وویل ، چې دا خو هوابندوی او بوټی وژني ، خوکره کولي هم بزکرو ، په هر ګیلاس کې یې هره خوا سوري جوړکړل ، بیا یې ګیلاس دبوټي په سر راشپول کړ او شاوخوا یې خاورې واړولې . په دې شپه نو دګینګ خوشالي وه .

# اووه لسم څپرکی

ګلاجان نه و خبر چې په امریکا کې دخټکو پـه پـالیز څه آفت لګیږي . پـه وطن کې خو داول دوو هفتو آفت ، مارغان او کشپان وو چې تـاندې پـاڼې یـې خوړلې ، وروسته نومړې او شمشتی او ګرو ګوتی وې چې دخوراک نه یې ورانی ډېر و ، پټي به یې ټول ګوړ ګوړ کړ ، بوټی یې ټول سرکپ کول . چـې به خټکـی بچی واچول نو د آسمان څکالو لیږونو به وربـاندې دسـپینو زرو لاړې جـوړې کړې او دسرو تورو خالونو والا ، مامی چې ځینی یې زر زرې چپنه بـولی ، هغـو به پکې ماره کوله .

خودلته دکره کولي دیوې بلې بلا ، ګوفر نوم اخیسته چـې دزمکـې لانـدې سوره جوړوي او دبوټی ریښې خوري . کره کولي ، دخټکو سره په یوه قطار کې کوم قسم بد بوی شنی ښخ کړ چې دولسوالی دماهر په وینا ، دغه مضر شـي تـه کانګې وروله . دپیش پړانګ ، ګیدړ ، ګورګوټی او نورو خلوربولو دنیولو پړکـې او تلکې یې دپټي چارچاپېره پټې کـړې وې . ځای یـې پـه نـښه کـړی و چـې پخپله دوی ژوبل نه کړي . ګلاجان غوښتل چې دپـټی پـه سر دیـوې کوډلـې تجویز وکړي چې دی به دوطن په شان شپه ورځ پکې اوسي ، خو شرمېده چـې ورِ سترګی او وحشی به ښکاره شي . په همدې چورت کې و چې په خپلـه کـره کولي داکار وکړ او ویل یې ، " ورځ ته ورسره تېروه ، ستا خټکی ستا پـه ژبـه ښه پوهیږي ، خوشپه به زه ورباندې پیره کوم . که خوب راته نو پـه مـوټر کـې بـه سرولګوم .

هوا تاودېده خو بارانونه لا نه وو درېدلی . اول کارچې ګلاجان وکړ ، دکره کولي کاغذی ګیلاسونه یې لرې کړل ، ویل یې چې تازه هوا وخوري نو بـوټی زور کوي . اوس نوهره ورځ دنورو دوچو خټکو هم یو په بل پسې نیـښ واهـه . دوه هفتې پس پالین او سوسی هم دګلاجان سره راغلل. کره کولي لګیا و هغـه مړې ګور ګوټی او شیشکې یې دتلکو نـه خلاصـول چـې دشـپې ګیر شـوی وو. پالین وریږدیده ، "کره کولي ، دا مردار شیان زما دسترګونه لرې کـره ، خوامـې راهسکیږي !" کره کولي ورته وخنـدل ، اوس نـوټول دوه جریبه پـټی بخملـی شین خو نه ، خویوه شین چکې ډاکه ورباندې غوړېدلې وه .

## اتلسم خپرکی

دسرطان اوله ( دجون ۲۲) دګلاجان په ژوند کې مهمه ورځ وه . پرون په اول ختکی کې دپخوالی علامې ولیدل شوې .هرې خواته یې په پوټکي باندې تورې لیکی غزیدلې وې ، خویوه بله ورځ یې غوښته چې ، لیکې یوځه نورې هم تورې او رنې شي . نن ټول ګینګ دپالیز په سر راټول شوی و ، ګلاجان ورغی او ختکی یې په احتیاط دبوټی نه راکش کړ . چې دخپله انده دبوټی نه بیل شو نو ګلاجان خوشاله شو چې پوخ دی . دجیب نه یې چاقو راوښکه ، اول یې سر غوځ کړ ، چې حلال شي ، بیایې درې ترازې ورنه بیلې کړې او ملګروته یې ورکړې . ده هم ځانته یوه وړه ټرانګه بیله کړه . ټولو ته یې دخوړلو اشاره وکړه . هرچا په هغې چک لګاوه او بیا یې دقاضیانو په شان ټنده تریووله او دهغې خوند یې ازمییه . تر ټولوکره کولي جدی وو . ډیره شیبه یې شخوند واهه او فکر یې کاوه ، په آخر کې یې سر دتصدیق په اشاره کوز وپاس وښوراوه، " لعنت دې په ما شي ، که به داسې مزه تر اوسه ماځکلې وي !" ګلاجان هم دشخوند په حال کې موسک و ، " ودربیږه چې زمور قاضنه ، پالین څه حکم کوی . " پالین خپله ترازه خلاصه کړې وه ، نه پوهیده چې په پوټکی څه وکړی، هغه یې ګلاجان ته ورکړ ، " ګلاجانه ، ته څه بلا یې چې په مور نازل شوی یې؟ دناځاپې زیري چینه یې ، تل خلک اریانوی ، دآس سپرلی دې څه وه چې اوس دې دامریکا ختکي وشرمول !" سوسی د ختکی پوټکی په لاس دپالین لاس ونیو او دنځا دربهاریې دپالیز داوږه خاورونه دوړې بادولې .

## نولسم خپرکی

دجولای خلورمه ، دامریکا دآزادی دجشن دمیلو ،اورلوبو ، رسم ګذشتونو ، او مسابقو ورځ وه . خو ګینګ دې سات تیریو ته وخت نه درلود . ښارونه خو څه کوې چې کلی او باندې هم په ځان بسیا دي ، یو سرک او دهغې دواړو غاړوته څو دوکانونه ، یوه ډاګخانه ، او دموټرجوړولو دوکانګي لری ؛ په خپله ځانله رسم ګذشت او اور لوبې کوي . کره کولي دې پلان ته دختکی جنګ وایه . او ویل یې چې نن به دګلاجان بخت یادرز په زمکه لګیږي اویابه ستورو ته رسیږي . دریمه پکې نشته . پرون په اول ځل ګلاجان یو داسې کار وکړ چې

هم يې ورته زړه کېده او هم ساړه ، خو بيا يې په دې ځان خوشالاوه چې خپله وعده مې پوره کړه . انور ته يې تلفون وکړ او ورنه يې وغوښتل چې سباته دجشن سيل ته راشي . انور په تلفون کې ورته وخندل ، "ستاسو دکلي جشن داسې دی ، لکه دبغلان او کندوز تر مينځ دپراته کلي ، علي آباد. بس نو دسړک په سر دوه لکړې ودروي ، په زر ورق يې وپوښي ، دوه لالټينونه ورپورې وځړوي او هغې ته بيا دولتي دروازه وايي ، دايې شوجشن ! .راشه کاليفورنيا ته چې درته معلومه شي چې جشن څه ته وايي" ګلاجان وويل،"دادې منم ، خو زما ستا پورې يو ضرور کار دی ." انور وويل ، " بې هغې مې هم بله مياشت ددرتلو نيت دی چې دواړه د پادري نه يو څه تشکر خو وکړو!" ګلاجان وويل ، " پادري په توپه وله ، زماخپل درسره کار دی او سبا دې همدلته غواړم ؟" انور وويل ، "بياخوبه دپابو مسابقه نه وي ؟ ګلاجان وويل ، " نه بس راشه ." انور په حيراني وويل ، " هلکه ، ته خو پخوا دومره زړور ، دومره سراښ او بېړندوی نه وې ، خامخاکومه خبره شته ، بس نو دربه شم ." ګلاجان پخواتر دې چې انور تلفون کښېږدي ويل ،" هغه جوار ګر رازق او دهغه خور هم درسره راوله ." انور په خندا وويل ،" بې پېره ، اوس درباندې پوه شوم . ما ډېر بدکارونه په ژوند کې کړي خوداکار نشم کولی ، خپله ورته تلفون و کړه !" بيا يې نو تلفون کېښود . ګلاجان بياورته تلفون وکړ ، " زورآوره ولې دومره زر په غوسه کيږې ، که يې ته نشې خبرولی نو دتلفون لمبر خويې راکړه ؟"

انور دپخلاينې پهلهجه وويل ، " بلا ورپسې ، زه به ورته ووايم ، که درتلل نو بيا به يې درولم .زه پخپله خو درځم چې درځم . "

دښار دمرکزي پارک په سم مينځ کې يو ووړوکي سيند روان و چې دلته هلته يې په سرکناره داره لرګين پلونه تېر شوي وو .داهاړ تکنده غرمه وه ، دواړو خواووته جشن روان و . کورنيو نرې برستنې او ځادرونه غوړولي وو،په هغې باندې په پوښلې لاستيورو ټوکريو کې دميلې دخوراک څښاک وو . ماشومانو لږ لرې د ونو نه چاپيره لوبې کولې او څوک په ځانګو زنګېدل . ميندو پلرونو شيبه په شيبه ورپسې غږونه کول. داورلوبې پيل ته لاوخت پاتې و . ښځو اونارينه وو خپلې جامې دامريکا په ليکه ليکه بيرغ سينګار کړې وې . دسيند نه لږ لرې ، ونو ته نږدې ، دخوراک اوڅښاک چوترې دامريکا په بيرغونو پوښلې وې،

دکاندارانو هم ، کاغذي رنګینې ټوپۍ په سر کړې وې او چې به ماشوم ورپیښ شو نو د خوږو او شیرینۍ غونډارې چې دنرې لړګې خلی یې لاستی و ، هغو ته ور کول . ماشوم به په تراټ لاړاو دپلار نه به یې پیسې ورته راوړې .دسیند دې بلې خواته دیو قسم ځغاستې مقابله وه . خلک په یوه لیکه باندې پښې په جوالونو کې ننوتلې تیار ولاړ وو .دوی باید شل متره لرې یوې بلې لیکې ته ځانونه اول ورسوي . لکه ټرلی چرګان درفری دشکیلی سره ټول په ټوپونو ور روان شول .میرمنو او ماشومانو خپل سرې هڅاوه او لاسونه یې ورته پړقول ، ځینې په اولو ټوپو کې راپریوتل او دوه درې تر مینځ ځاینه ورسېدل ، ایله یو سړی تاکلی ټک ته ورسید او دننـدار چیانو فریـو او چکچکې شروع شوې . ورپسې په ډاګه باندې دختلو مسابقه شروع شوه . بس یوه ښویه ډاګه دریدلې وه او خلکو به په نوبت په لاسونو لاړې توکړې اودختلو تکل به یې کاوه ، ځینې خوتر نیمایي ورسیدل او بیرته وښوییدل .خو هیڅوک دډاګې سرته ونه خوت.

سړنی میله په دې هم مسته وه چې دهمدې ولسوالۍ Peach springs ،بلکه دکره کولی یو ګاوندی / ټاماس لی /کانګرس ته انتخاب شوی و او دجولای څلورمه ده هم دکانګرس دزیاترو نورو وکیلانو په شان په خپل کور او دخپلو موکلینو سره تیروله . دادټولې ولسوالۍ دپاره یو افتخار و ، دلوډسپیکر دهر اعلان سره دټاماس لی نوم یادیده او دهغه دخدمتونو -چې یې ولسوالۍ ته کړي وو - ستاینه کیده او خلکو چکچکې کولې . دامریکا دملي ترانې نوبت راغی او ټول خلک ، حتی ماشومان ودریدل او ټولو په شونډو دلوډسپیکر سره سم دخپل وطن ملی سرود وایه . وروسته ، دټاماس لی دیوې لنډې وینا نه پس چې په هغې کې یې دخلکو نه مننه وکړه ، خپل خدمتونه یې وستایل او دامریکا داساسي قانون اوموسسینو ، چې دوی ورته بابا ګان ویل ،درناوی یې وکړ ، دهلکانو او نجونو رسم وګذشت شروع شواو دهرې جوپې په تیریدو خلکولاسونه پړقول .

لوډسپیکر وویل ، " اوس نودخوراک مسابقه ده ." دولس اوږده په سپین دسترخوان پوښلی میزونه دبیلو بیلو خوراکو دپاره واوښل شول اوهرې ښځې خپل پخ کړی ننکولی په ټاکلی میز کیښود . دهر لوښي مخې ته دپخوونکی

نوم لیکل شوی و . دهر پخلنی میرمن دکاغذی قابونو اووړو کاچوغوسره د خپل لوښي مخې ته ولاړه وه او خلکو ته دخپل خوراک نمونې ورکولې . تر څکلو او خوړلو وروسته به بیا هر سړی درایو صندوقونو ته روان شو اوخپله رایه به یې ورکې واچوله . ټول خلک په خوراک بوخت وو او یو قسم آرامي راغله . کورنیو دخپلو ټوکریو سرونه بیرته کول ، دکوکاکولا او نورو څښاکونو بوتلونه یې دکنګل اوبو نه راایستل او سرونه به یې خلاصول .

انور ، روهیلی او رازق دګلاجان پسې ګرځیدل خو دهغو درک نه و . نو بیا دوی هم دمیز په خوراکونو پیښه وکړه . لوډسپیکر دهغو میرمنو نومونه یادکړل چې په پخلي کې یې مقابله ګټلې وه او خلکو چکچکې او هورا وې وکړې .

خوړل لانه وو ختم چې لوډسپیکر وویل ، " نن موږ تاسو ته یو Surprize لرو .

" د څوتنو حاضرینو غږ شو چې "څه سرپرایز ( نوی زیری )؟" لوډسپیکر وویل " نو چې حال درته وایم ، بیا خونو سرپرایز نه شو؟" نندارچیانو غاړې اوږدې کړې چې که دلوډسپیکر والا سره څه دهک اریانی کوم شی وي ، خو هیڅ نه و . ټول خلک منتظر ناست وو . لوډسپیکر وویل ، " دغه دي دسر پرایز میزونه را روان دي . " دوو تور پوستو پنځه اوږده میزونه راوړل . دهر میز په سر یې بیل زنګ څادر وغوړاوه .، او دمیز نومره یې ورباندې کیښوده. او بیا یې په هر یوه باندې درې لوی ډک ښانکونه کیښودل او تر څنګ یې کاغذي قابونه او پلاستیکي پنجې کیښودې.

لوډسپیکر غږ کړل . " نن موږ ډیکې یوې میوې پنځه قسمه تاسو ته درکوو. تاسو به وربانډې رایه ورکوئ چې کوم یو میدان ګټي . مګر تاسو یوازیني قاضیان نه یئ. دکانګرس وکیل ، ټام لي چې موږ یې په راتګ سر لوړي کړو ؛ د جرمانې پلار ، دپولیسو افسر رابرټ ، چې دډیرو به زاره ترې چاوده وي؛ زموږ د کلیسا پادري چې ددوزخ او جنت دواړو کلیګانې یې په لاس کې دي ؛ دولسوالی متقاعد قاضي چې اوس هم په غر غږې او دار عقیده لري او دتاجرانو رئیس ، جفري، چې دمالیې په ورکولو عقیده نه لري ، دوی به بیل قضاوت وکړي " خلکو د لوډسپیکر ټوکوته لاسونه وپړقول .لوډسپیکر غږ کړ ، "مهرباني وکړئ ، شروع وکړئ ، خوزه خپلو پنځو محترمو قاضیانو ته خبر داری ورکوم

چې د پنځو مېزونو ميوه ، ټوله ، دوی ونه نغري ، نورو ته دې هم موقع ورکړي." د خند او هورا آوازونه اوچت شول.

په همدې وخت کې روهيلۍ ګلاجان صحی ( صحيح) کړ چې دخپل ګيټګ سره لرې د يوې ونې لاندې ولاړ دی . دخپل وروړ او انور سره ورغله . پس دروغبړنه ګلاجان وويل ، " معافي غواړم ، ايله همدا اوس وزګار شوم . " انور په تمسخر وويل، " بېدرکه بنکلې جشن مو جوړ کړی دی !" ګلاجان وويل ، "ډوډۍ موخوړلې ؟" روهيلۍ وويل ، " هو تاته مو ډېر انتظار وکړ ، خو بيا مو يو څه ساسيج ، دهغې رېړې نه واخيستې ، بس ماړه شوو ." ګلاجان وويل ، " راځئ يو څه خټکې درباندې وخورم ." بيا يې انور ته وکتل ، " يو څه اسقلانی مې کرلی وو ، ماويل ته به يې د کندوز په ياد وخورې ." انور له خنډا شين شو ، " بس دهمدې دپاره دې راغوښتی وو؟" ګلاجان هيڅ ونه ويل ، لاړ ، دکره کولی دموټر نه يې يو خټکی راووړ ، هر يوه ته يې يوه ترازه ورکړه ، انور چې خټکی وڅکه ، نو دشوقه يې سترګې پټې کړې ، " يره دکوندۀ زويه ، داخټکی خو رښتيا په دې ارزيده چې دکاليفورنيا نه ورته راشم . نور هم شته ؟" ګلاجان وويل ، "موټر خوبه دې درته ډک کړم !" روهيلۍ دخټکي نه خوند اخيسته خو په تعجب يې ګلاجان ته کتل . رازق ګلاجان ته ويل ، " تر اوسه په تاپه غوسه يم چې دروډيو معامله دې ونه کړه ، اوس به ستا خو څه کوي ، زما جيبونه هم دډالرو ډک وو . زما پلانونه ، خوبونه ،ټول دې ابته کړل . " ګلاجان هيڅ ونه ويل ، لاړ بل خټکی يې راووړ . لړ لرې . سوسي اوپالين هم شخوندونه وهل ، يوازې کره کولی ، دخپل پايپ سره ، غلی ولاړ و او مسابقه يې کتله . هلته لرې څو کسان لګياوو دهر صندوق رايې يې شميرلې او نتيجه يې انانسر ته ورکوله . ناڅاپه لوډسپيکر ژوندی شو ، " په خوشالۍ سره دمقابلې نتيجې اعلانوو . درايو شمير : کانتې لوپ خټکی شل رايې ، هانی ډيو خټکی دوه شپيته رايې . او زما سر پرأيز اوس شروع کيږي چې هغو درو نورو ميزونو اول ميز ، درې سوه پنځه رايې ، دويم ميز دوه سوه دوا ويا رايې او دريم ميز يو سل شل رايې ګټلې دي .تاسو به وايئ دانو څه سر پرايز دی . اجازه راکړئ چې ووايم دغه درې قسمه خټکي چې اول لمبر راغلل ټول په اول ځل امريکا کې کرل شوي دي ، داديکي يوه سړي دزحمت برکت دی اوپه تاسو کې به زياترو خلکو د هغه نوم

پخوا هم اوریدلی وي ، میرمنو او ښاغلو ! ګلاجان افغانی مهاجر !" دخلکو هلا لا شروع شوه . ګلاجان هم خوشاله معلومېده او کره کولي چې تل سنګین اوبا وقاره و ، دخوشالی نه خپله خولی پاس ګوزار کړه او ، بیا یې لکه چې صفرا نه وي ماته، خپل پایپ یې سیند ته ګوزار کړ . لوډسپیکر وویل ، " دمسابقې ګټونکی، ګلاجان ، دې لطفاً دقاضیانو میزته راشي ، چې خلک یې ووینی ."

ګلاجان روهیلی ته وموسل ، هغه راغله او دواړه غبرګ دقاضیانو میز ته چې په یوه جګه چوتره اېښې و ، لاړل . ټولو قاضیانو لاس ورکړ او بیا دکانګرس وکیل ټام لی ، پس دروغبړ نه دګلاجان لاس جګ ونیو او ویې ویل ، ".همداسې خلک دي چې ماپه وینا کې تاسوته ویل چې امریکا یې جوړه کړې ده . امریکا دابتکارونو، دنوو شیانو ، دکشفیاتو ، دنوي تولید ، دنوي فکر خاله ده . دلته دهر سړي خدای ورکړی استعداد ګل کوي ، تاسو به وایئ ، ګلاجان امریکایی نه دی ، مهاجر دی ، پردی دئ ، زه وایم امریکا دمهاجرونه جوړ ملک دی .

ماته دګلاجان دروړیو د قهرمانی کیسه هم معلومه ده . میرمنو اوښاغلو،دپیچ سپرنګز دولسوالی قهرمان ، ګلاجان .. !" دچکچکو، او هوړا غریو دخلکو او لوډسپیکر نه هره خوا خپرېده . پخوا تر دې چې ګلاجان دچوترې نه کوز شی، نو لوډسپیکر اعلان وکړ، " میرمنو او ښاغلو ، دګلاجان یو بل سر پرایز دادی چې تاسو ته یې د ختکی نمونې ، په ډبلیو کې تیارې په میزونو اېښې دي ، چې کورونو ته روانېږئ نو یوه ډبلی دګلاجان دسوغات په حیث درسره واخلئ، داوړیا دي ، چې پیسې درنه څوک وانه خلي ." خلکو بیا چکچکې وکړې، ګلاجان اوروهیلی غبرګ دچوترې نه کوز شول او خپلو یارانو ته ورغلل .

هلته خپل ګینګ ، رازق او انور ټولو غاړه ورکړه ، په مخ یې چپ کړ او په ګډه پر هغې نیالیچې چې پالین غوړولې وه ، کښیناستل ، دسوسی اوکره کولی په کبابونو او ایښولو جوارو او کوکاکولایې پیښه وکړه . ماښام مهال اور لوبه شروع شوه او تر ماسختنه روانه وه . روهیلی څو ځلی کوشش وکړ چې ځان ګلاجان ته ور وښویوی ، اوږې ورسره وموږي خو درازق نه وشرمیده او پالین هم ددې هر حرکت ته خیره وه.

په همدې کې لوډسپیکر بیا غږ کړ . " دادی اوس به جایزې اعلان کړو . دمانچوپه پخولو کې ، ماری مکدوګال ، پنځه سوه ډالره ، دپای ( یو قسم ووډی

چې په سینځ کې یې میوه وي ) په پخلي کې ، کارولین بلای ، پنځه سوه ډالره.
دسلاد په جوړولو کې ، ډینا پورسټ ، پنځه سوه ډالره ." چې دګلاجـان نوبـت راغـی ، " پـه خټکـو کـې ، دګلاجـان درې جـایزې ګټلـی ، یونیـم زر ډالـره ."
ډنډارچیانو چکچکې داورلوبو د ګرزهار سره ګډې شوې. لوډسپیکر پـه خبرو راغی ، میرمنو او ښاغلـو ، دخپـل دې وروسـتي اعـلان سـره زه او دجشن ټول ناظمان ستاسو سره مخه ښه کوو، خـو داوروسـتی اعـلان هـم مـهم دی . دښار تاجران زر ډالره ګلاجان ته انعام ورکوي او هیله لري چې ددې تجارت سره به دولسوالۍ رونق لاپسې زیات شي . خدای پامان ، دخپلواکۍ ورځ مو بختـوره ." خلک دچکچکو او هلا لا سره پاڅیدل ، څادرونه یې وټکـول ، ټک اوپـوک یـې راټول کړل میندو ټوکرۍ ، هلکانو برسـتنې او پلرونـو خپـل ویـده ماشـومان را وچت کړل او خپلو کورونوته یې مخه کړه .
دګلاجان ډله په جمع دکره کولی کورته لاړه اوله یو ساعت مرکـې او ټوکـو وروسته میلمانه درازق په موټر کې دګلاجان کورته لاړل .
ټول خو بیولی وو . انور وویل ، " زه همدلته دخوب په کوټه کـې پـه کـوچ څملم ، بس دکوند زوبه ، ته دې دمیلیونو خوبونه وینه ، شپه په خـیر ." او ددې سره بس خوب ورې و .
رازق دهغه بل ځلی په شان بې سته دګلاجان دخوب پـه خونـې ننـووت ، روهیلۍ وویل ، " دانو ظلم دی چې دابله خونه زه ونیسم " ګلاجان موسک شـو " نو لاړه شه برنډه کې څمله ." روهیلۍ وویل ، " هو چې ماران مـې وخـوري ؟" ګلاجان وویل ، " نو دانور پخوانۍ کوټه ، بې هغې هم ستاده ، ورځه ، شـپه دې په خیر !" روهیلۍ ورته سترګې ورپولې او دروانېدو پـه وخـت کـې یـې وویـل ، "دشپږو میاشتو وعده خودې پوره کړه ، خو ربښتیا هغه مستانګ دې پیداکړ چـې ماویلې ورباندې سپریږم ؟" ګلاجان وویـل ، " یـا بوښیـې ؟" روهیلـۍ پـه غوسـې وویـل، " یـابو دې ورک شـي، وحشـي آس ، مسـتانګ ښیـم ." ګلاجـان وویـل ، "مستانګ سپرلۍ ته به تینګه نه شـې ." روهیلـۍ وویـل ، " تـه خومـې وازمییـه !" ګلاجان وویل ، " دپیښوریانو په وینا ټایم به لګي !روهیلۍ پوښتنه وکړه ، " څومره ټایم ؟" ګلاجان وویـل ، " درې کالـه ." روهیلـۍ سـر وښوراوه ، " دداسـې اوږدو وعدو په سر خاورې اروم ." دهمدې سره یې دکوټې ورپه ځان پسې پورې کړ .

# شلم خپرکی

هفته لانه وه تېره چې له ښار نه تاجران راغلل او ګینګ سره یې دختکو د تجارت په باب خبرې شروع کړې. ګلاجان اوس په انګریزی کې چالان شوی و خو لایې هم ګرامري غلطی کولې. تاجرانو ومنله چې د کره کولي دنقشې مطابق به داسې کارتنو نه جوړوي چې په مینځ کې یې یو قسم ته دپوکنو ډک پرسیدلی پلاستیک دهرختکی دپاره ځای لرې، دابه په خاصو موټرو کې -چې دختکی عکس او دګلاجان دفابریکی نوم به پرې لیکي - وړي. دفابریکی نوم لا ایښودل شوی نه و. 'په هر ختکی به ټاپه لګول کیږي چې تر پلانکی نیټې پورې خرڅیدلی شي. یو څه مناقشه په دې راغله چې ګینګ ویل دختکی دفی پونډ نرخ دې نیم ډالروټاکل شي او تاجرانو دیوډالر تجویز کاوه. ګلاجان وویل، "ماخو دپنځه ویشتو سینټو خیال درلود، چې خلک پرې مات شي، که کال ته یې بازار درلود نو نیم ډالر ته به یې وخیژوو." یو بل جنجال دتاجرانو دفیصدې وه، هغوی دګټې اویا فیصده غوښته او ګینګ دیرش، په آخر کې په نیمایي ګټه روغه راغله. دشپې دګینګ تر مینځ دکمپنی په نامه لوی جنجال راغی، هر چابه دخپلې انګیرنې نوم وړاندې کاوه، سوسی ویل، "ګلاجان میلن (ختکی) کمپنی" دې پرې کیښودل شي، خو ګلاجان ویل چې دده نوم هسې ناشولته غوندې په غوږ لګیږي. دافغان میلن کمپنی نوم هم رد شو چې ګلاجان په هغې کې دلاپو شاپو نښه لیده. په آخر کې کره کولي، ګلاجان ته سترګه وټومبله او ویې ویل، " روهیلی میلنز (روهیلی ختکی) " ددې شرکت دپاره بهترین نوم دی، دخلکو به دې ته هم تلوسه وي چې دا روهیلی څوک ده." پالین یو څه ناړامی کوله خو ګلاجان ورته وویل، "بل کال ته دکندهار نه دانارو ډکي راوړم، په هغې باندې به " دپالین انګکی نوم کښیږدو " او خبره په خندا ختمه شوه. درې ورځې پس دختکو اول موټر دپالیز نه ووت.

په آخر کې ګلاجان وویل، داشرکت خو زموږ ټولوشریک دی " خوکره - کولي یې خبره غوځه کړه، " ابتکار ستادی، کار ستادی، شرکت ستادی. تاوان یې ستادی ګټه یې ستاده. موږ مازې اشرګریو." ګلاجان نه ونو وکنړل، خو سوسی وویل، "ما ته مې هم ډېلارنه او هم دمیره نه ډېرې پیسې راپاتې

دي، نورې پيسې نه غواړم. " پالين وويل ،" زه پيسې څه په بلاوهم . که کالج ته لاړم ، زه پخپله دشرکت خزانه داره يم بيا دومره پيسې ورنه اخلم چې دکالج فيس پرې پوره شي . زه په خپل ګينګ افتخار کوم. خودا روهيلى پکې دوچې راغله.دې څه کړي دي چې شرکت به يې په نامه وي . برندې وحشي سترګې يې خاورې کړې !؟ سوسى وخندل ، "د حسادت نه خوبه يې نه وايى ؟ ، دښايست نه خوبې انکار مه کوه ، سترګې يې د هوسى په شان داوړدو ښو دچتر لاندې پرقا کوي ." کره کولي وويل ، " تل خوبه زموږ ګينګ دځلورو نه نه وي جوړ ، يو بل هم راکې ځايېدلى شي . " ګلاجان پالين ته.موسک شو ،" پروا مه کوه ، داخلى دکندهار نه دانارو ډکي راوړم ،.ستا دمر دار مخ نوم به پرې کښيږدو" خوپالين نه تم کيده ،" په ګلاجان دې بختوره شي ، دى وحشي، هغه وحشي ، ښه سره جوړيږي . موږ يې دووته راولو او دى دځلور بولو ځنګله ته زور کوي." ګلاجان وويل ،" هسې بينځايه لګيا يې ، زما او روهيلى تر مينځ هيڅ شى نشته ، ته مې خو ريې ، هغه مې هيڅ هم نه کيږي " پالين وويل ،" زه هم دهمدې نه ويره لرم ." خوکره کولى وويل ، " ته وار وکړه ، پريږده چې ګلاجان يو ځلى روهيلى وپوښتې چې هغه خپل نوم راکوى که نه ؟" وروسته ټولو دګلاجان نه وغوښتل چې دخپل وطن کومه بدله ورته ووايي. ګلاجان په عمر کې بدله حتى دځان سره نه وه زمزمه کړې ، حيران و چې څه ووايي بيا يې نوپيل وکړ " الو، للو للو ، للو للو ، خوب دې درشي په ليمو . الله ال ، الله ال ،موردې شيخه پلار دې غل ، الله ال الله ال ، دزنې سر دې نرکچور ." ټولو دې نا آشنا اوازته وخندل ګلاجان هم په خندا وويل ،" دادماشومانو دويده کولو بدله وه ." سوسى وويل ،" پوهيږو! " شپه هم په پخيدو وه . ټول يو دبل ځنګ کې آرام ناست وو او پخپلې يارانې يې په زړونو کې شکرونه ايستل .

## يو يشتم څپركى

په بل سهار دګلاجان او روهيلى تر مينځ په تلفون کې خبرې وشوې .

روهيلى : په دې کې ذې څه مطلب دى ؟

ګلاجان : هيڅ کره کولى دا تجويز وکړ ، ويل يې په غوږو ښه لګيږي .

روهيلى : ستا ټوټګ و !

ګلاجان : خدائکه مې کل هم کړی وي ، اوس يې منې که نه ؟
روهیلۍ : بس نو زه خو پکې څه نه وایم ، خو زما دبخته دې کمپنۍ ونه نړیږي .
ګلاجان : بخت وشنې ، یاګټل دي یا بایلات.
روهیلۍ : خوښه ستا، یو بل زیری مې درکاوه . زه بله میاشت پیښورته روانه یم ،خپلو کیږدیو ته .
رښتیا په کیږدیو کې اوسئ ؟
تاته ټوکه ښکاره شوه ؟، دناصرباغ نه بره دښته کې زموږ داحمدزو دکیږدیو څلی دی . زما پلار او مور ټول پکې اوسي . ماخو درته وویلې چې درازق دلیدو دپاره مې دیو کال ویزه اخیستې وه ، اوس دوه کاله پوره کیږي ، زیاتي نوکوچ دی .
رازق هم درسره ځي ؟
نه ، هغه دبیرته ستیندو نمت نه لري . وایي زه دلته کار کوم، ستاسو خرڅې به درلیږم .
داخودې بد زیری وکړ ، زه سبا خدای پامانۍ ته درځم .
نه ، مه راځه ، درازق په ډېرو چندانې نه هواریږي . هسې خو یې خوښیږې، خوکه هر څومره امریکایي شي، پښتون خو دی !
نوکه پیښور ته درشم ،بیا دې لیدای شم ؟
داسې خونه !
نوڅنګه به دې ووینم ؟
نه پوهیږم
زه پوهیږم .
څنګه ؟
بس زه پوه شه او کار مې ، زما او ستاخو ، په یاد دي چې دمستانګ دسپرلۍ وعده ده ؟
ته خو وعدې پوره کوې ، خو داځلی به یې شل نه کړې !

# دوه ويشتم څپرکی

په دې اول کال دپالين دجدول دقراره کمپنۍ ديرش زره ډالره تاوان کړی و . ګلاجان او کره کولي خوپه خپل اټکل شل زره ډالره تاوان منلی و خو داسر باری هم دومره بدنه و . ښاري بانک دوی ته دوه لکه ډالره قرضه ورکړې وه او تربل کال پورې يې خپل پور هم نه غوښت . تاجرانو هم ورتـه ټر ونـه ډبـولی وو، خو دګلاجان داسې هوايي مرستې نه خوښيدې . دکـره کـولي پـه حساب زياتره پيسې په اعلانونو او موټرو لګيدلې وې . هر نژدې لرې تاجر ته يو خټکـی وريا، ددې او ګردو ټوښه ښارونو په بارو او شاپنګ مالونو کې پوسترونه. سوسـي وويل ، " ماته يو فکر را لويدلی دی ." پالين پـه ملنـډو وويـل ، " دابـه اول ځل وي." ګلاجان ورباندې بـرګ شـو " کـورې شـه نجلـۍ ! وايـه سوسـي څه فکـر درلويدلی ، خدای خو پوهيږي چې نن ورځ موږ هر فکر ته محتاجه يو!" سوسي غاړه تازه کړه ، " هغه د کاليفورنيا واده ته چې تللی وو ، پـه هغـې کـې ښايسته زيات افغانان و ، نوپه نورو ايالتونو او لويو ښارونو کـې بـه هـم پـه دې او بلې محلې کې دافغانـانو دګڼه ګونې مرکزونـه وي، دوی بـه جوماتونـه لـری ، ..." پالين غڅ اخيستلو ته تياره وه ، " ستا دفکر تکليـف خـو دادی چـې ګډوډوي ، ذمتن نه يې سريزه اوږده وي، لنډه يې کړه چې څه وايې !" سوسي ، لکه دهغې خبره يې چې نه وی اوريدلې ، خپلو خبروته دوام ورکړ ، " ماويل ، دغه آفغانـان به غم ، ښادۍ سره شريکوی او دخپل وطن کره وړه بـه کـوي . دپـالين خـبره چې لنډه يې کړم ، دوی به هرو مرو داسې دوکانونه هم لری چې هلته افغـانی مسالې، وريژې ، جامې ، ټيپونه او نور بلا بتر خرڅيږي . که موږ هغوی ته هم پـه خپل وخت کې خټکی ورواستوو نو داهم دخر ځلاو او اعلان ښه مرکزونه دی." کره کولي چکچکې وکړې ، " ياره شابس دې په تاشي ، پالين ! ته دې کمپيـوټر ته کرچ ورکړه . اول خو يې دالف ، افغان ، نه شروع کړه چې په هر ايالت کـې دافغانانو څومره ځايونه دي ." پالين ور ودانګل ،" ماته يې مه رانښيـه ، زه خپلـه پوهيږم . سوسي دې خير يوسي او زه بخښنه تـرې غـواړم . اوس پوهيـږم چـې هغه هم فکر کولی شي ، اول به دهر ايالت دمهاجرو مرکزونه بيا مومم ، ورسـره

به دهر ایالت دتلفون زیړو پاڼو ، داعلانونو پاڼوته لاړه شم . " ګلاجان وویل ، "پالین! موږ ته څه ګټه یې ، لکه ماته ژرنده ، بس راپیدا یې کړه . "
هفته پس پالین دافغانانو زیاتره مارکیټونه دتلفون او ادرسونو سره پیداکړل ، ټولوته یې په فیکس کې دراتلونکې اوړي داسقلانې ختکو زیری ورکړ او د هغوی نه یې څوابونه وغوښتل . میاشت پس دځوابونو سلسله شروع شوه څه ناڅه سل دوه سوه داسې دوکانونه او مغازې ، زیاتره په لویوښارونو کې دافغاني، اوکله لاهم په شریکه دافغاني ، پاکستاني ، او هندي خوراکه بابو دوکانونه شته چې معمولاً خپل مالونه دیو څو لویو عمده خرڅوونکو نه چې زیاتره یې هندي یا ایراني دي،اخلي.پالین دهغوادرس هم پیداکړڅوکره کولی ویل ، ولې دلالانو ته ګټه ورکړو . هغوی بیا دختکی نرخ نور هم ورزیاتوي . موږیې باید نیغ په نیغه دوکانونو ته ور واستوو.

## در ویشتم څپرکی

ګلاجان یوه ورځ دانور دلیدو دپاره سانتیاګو ته تللی و . هلته یې رازق هم د افغانانو په یوه دوکان کې ولید. هغه ورته دشپې دپاتې کیدو ست وکړ ، ګلاجان هم ومنله . رازق په یوه لوی ، دیرش پوړیزه ودانی کې دوه کوټه یې اپارتمان درلود چې هغه ویل په بیه مې اخیستی دی ، څو ګلاجان ته دروهیلی خبره سترګوته دریده چې ویل ، زماورور هسې جوار ګر او خوشکه بانکه دی . یو څه پیسې چې په قمار خانو کې وګټی هغه بیا لږ چڼ کوي او څو ورځې پرې دخانانو ژوند کوي بیا بیرته ملنګ وي .
مګر په هغه شپه چې رازق پس له ډوډی لمانځه ته ودرید او بیا یې دده سره دچایو دپیالې په سر ، دخپل پلار او کوچاني ژوند کیسه په خوند خوند کوله ،نو د ګلاجان په قضاوت کې بدلون راروان شو. ویل یې ، " زه خوهسې جوارګر سړی یم ، ربنتیا چې شرط تړل ، او دبخت ازمییل مې دوړکتوبه خوښیږي. کله به چې موږ کده دکوم غره په لمنه واړوله او میږې به مو په ځنګله کې خوشې کړې نو هلکانو به ویل ،" رازقیه ، هن که دښتر په هوغه ونه وختې !" بس مانور نه کتل ، په لاس به مې لاړې توکړې او پرې هی به مې کړل ." دثبوت دپاره یې خپله خیټه ګلاجان ته ښکاره کړه چې یوه ژوره لیکه پکې دسینې نه دنامه

تر غوتی بهیدلې وه. ده ویل چې داد خندنې ونې نه دښوییدو په وخت کې شوکارې شوی دی. رازق دیوه جهادي تنظیم نه شکایت درلود او ویل یې ، "دوی په کوچانو اعتبار نه کوي او داسې یې گڼي چې که دکوچانی ښه دکمونستانو سره کیده نو بیا دهغوی تذکرې گرځوي ، جاسوسی ورته کوي . کوچان هر چیرته اوپه هرې دښتې ، لارو گودرو خبز دي ، او مجاهدین خو هم په لویو لارو نه ځی ، له همدغو شیلو او خوړونو تیریږي ،نو دکابل په هدایت کوچان خپلې رمې په همدغو ځایونو کې څروي . اوچې دمجاهدینو تګ راتګ یې ولیده نو بیاله کیږدیو ، دکابل سره مخابره کوي ..." رازق هوښیار هلک ښکاریده ، ویل یې ، " مجاهدین هم گرم نه دي، جاسوسان زیات دي او دکوچې خو یو عیب دادی چې وطن نه لري، پوله پټی نه لري ، کله افغانستان او کله پاکستان کې وي ، نو دوطن دمینې په ځای ددوی سره دورشو مینه زیاته وي زموږ خپل متل هم دی چې کوچی دخپلو میږو بنده دی او میږې دورشو بنده گان دي ..." گلاجان وویل ، خوردې راته ویل چې تاسو کوچیان یئ ، خومانه منله . ته راته لږ بیان وکړه . رازق لاړ دچایو بله چاینکه یې راوړه ، او بیا یې نوکیسه شروع کړه .

خورمې رښتیا ویل ،موږ احمدزي یو، په احمدزیو کې بیا موساخیل یو چې داحمد زو یوه لویه او زوروره څانگه ده . زموږ نیکه ، خدای دې جنتونه ورکړي ، ملک خالو ، په احمدزو کې څه چې په افغانستان کې مشهور و ، دشاه-ولیخان سره یې دسقاو په راپرزولو او دکابل په نیولو کې مرسته کړې وه . چې مامدزو کابل بیا و نه شو ساتلی او روسانو ته یې ورپریښود ، بله خبره ده . خبره مې دخپل نیکه کوله ، هرچیرته چې به پښتنو کې څه لانجه جوړه شوه ، دلوگر ختیځ ته دتیزین نه بر په ازره کې زمانیکه ته به راتله . دخالو نیکه په سینه کسې داحمدزو ، بلکه د زیاترو پښتني قومونو تیره او نرخونه ټول جمع وو . دهغه قضاوت دکانی کرښه وه، خو هغه به بیا په خندا ویل ، "هلکو، داحمدزو نرخ خو داوايي ، دپلانکی قوم داوايي، خوزه هم یو نرخ لرم،" دده جرمانې به سپکې اوتل درحم سره ملکرې وې او ویل به یې چې که سخته یې ونیسو دخلکو ملاماتیږي ، دا اوسني پښتانه دپخوانو په شان ججوره نه لري . ازره خو زموږ پدرې مینه ده جو بیا نو موږ هم ډیر شوو او ځینو دژمی دپاره دخوست

شمال ختيځ ته توره اوبه منطقه خوښه کړه ، يوې ډلې په ننګرهار کې دمومندو په رامتي کې دژمي ځای جوړ کړ. خو زموږ اصلي ټاټوبی ازره ده .

ګلاجان پوښتنه وکړه ، " پلاردې هر رمې لری ؟" رازق وويل ، " هو ، خو دنيکه دوران مې تير دی او پلارمې هغومره حوصله نه لري . " ګلاجان وويل ، "ستا خور ويلې چې په کندوز هم ستاسو لاره وه ، دا رښتيا ده ؟" رازق وويل، "زما تره ، زالو خان هلته دچغچران دګوماو په کوچی بازار کې ديوه درانی کوچی سره ليدلي وو ، دهماغوی سره يې خيښي کړې او بيا وروسته يې زوی،دکندوز په سپين زر کې چيرته سرکاتب شو او تره مې کوچانی ژوند پريښود ، نوکله کله زموږ لاره هم ورباندې برابريده .

رازق خپل ساعت ته وکتل ،" اوهو ، داخونيمه شپه ده . ته مې په خپلو بابولالو سترې کړې !" ګلاجان وويل ،"مرکه دې هم خوږه وه اوپه دې هم خوشاله شوم چې يو څه دې راسره دزړه خوا له وکړل . دوطن نه احوال لرې؟" رازق د شيطانی نه په ډکه موسکا وويل ،" زه دې په مطلب پوه يم ، دروهيلی پوښتنه کوې. ټول شکر دی ښه دي .تيره مياشت مې زر ډالره ورمخابره کړل . ابامې وايي چې اوړی ته ايلبندونو ته روان يو." ګلاجان په وارخطايي وويل ،" ښه ؟ کوم ايلبند ته ؟" رازق وويل ، " پته نشته ، خوستا څه تلوسه ده ؟" ګلاجان په ټيټ غږ، لکه دځانه سره چې غږيږي وويل ، " خنګه يې درته ووايم ؟" رازق په خوش طبعی وويل ، " ولې ګونګی شوې ؟" ګلاجان ، لاهم غلی و . رازق وويل ، " چې ويې نه وايې ، زه څه پوهيږم چې څه خبره ده ؟" ګلاجان غاړه خوځلې تازه کړه ، " زه يو اطرافی سړی يم ، انور ښه دربه ويلی وي . دهغه کورنی خوټوله تعليميافته ده ، هغه خپله هم فاکولته لوستی ، خوماايله تر شپږم صنفه پورې درس ويلی دی . له اوو پښتو دهقانان يو . پلار مې اوس هم په وطن کې دهقانی کوي ، ..." رازق يې خبره غوڅه کړه ، " نو په مايې څه ، موږ هم دپيړيو کوچان او شپانه يو ، دا خوڅه شرم نه دی . ولې دمطلب ټکی نه وايې ؟ دروهيلی سره دواده سودا خوبه نه لرې ؟" ګلاجان په ډير تکليف وويل ، " لرم" رازق په مسته خندا وويل ،" په امريکا کې دې عمر تير شو او لاهم دنجونو په شان شرميږې . " رازق بيا دخبرو لوری بدل کړ،" پروژه

دې څنګه روانه ده ؟" ګلاجان وويل ،" تيز کال خو مو تاوان وکړ ، سږ کال تکيه خدای ته ."

ګلاجان چې په زړه کې هوښيار و پوهيده چې ديوه کوچاني سړي د څه شي سره ډيره علاقه ده ، ناصر باغ دکمپ دهغه دوکان په پته يې چې درازق نه يې اخيستې وه دروهيلۍ پلارته خط واستاوه . بس دخير خيريت احوال او درازق سره دليدو کتو خبر يې ورته وليکه . بيا يې نوپه امريکا کې دغلې دانې دنر خونو په باب ورته وليکل او هر ډالر يې په افغانيو ورته بدل کړ چې هغه تعجب وکړي." پنځه شپږ مياشتې پس ، پسرلی مهال وچې دصفدر خان احمدزي له اړخه خط راغی . دی پوهيده چې خان نالوستی دی ، په نرخونو په ربتيا چې حيران شوی و . دليک په آخر کې داخبره راغلې وه چې موږ سږ ايلبندونو ته روان يو، رازق دې يو څه نورې روپۍ راواستوي .دليک په بل مخ کې يوه کرښه وه ، " يو کال به نوره درته کښينم

زيارت خونه يې چې جنډې به دې ساتمه !"

ګلاجان دځانه سره وموسل .

## څليريشتم څپرکی

دګلاجان ګينګ دومره بوخت و چې ده به ويل دسرګرولو وخت نشته . دولسوالۍ ماهر په هرختکی دتصديق ټاپه لګوله ،موټرونه ډکيدل او دهر ولايت سره تلفونونه ، فيکسونه او عاجلې مخابرې روانې وې . کره کولي اوس ماهر شوی و . ختکی به يې ترپخيدوځلور ورځې دمخه وشکاوه چې په لارکې غړه که نه شي، دوکان ته په رسيدو پاخه شي . يوازې دکاليفورنيا او نژدې توابو ختکی چې په هماغه ورځ ور رسيدلی شو ، هغه يې يوه ورځ مخکې شکول . پالين نظر ټولو ته مصروفه وه ، اردرونه په تلفون کې اخيستل او کره کولي ته يې ورکول چې هغه يې په هماغه شمير ور واستوی . سوسي په موټر کې دختکو دبارولو چارواکې وه . دهر ختکی لاندې نرم پلاستيکي پوکنۍ ځای په ځای وې . بيانو ددې او بل لړ ختکو ترمينځ چې ددې دپاسه يې ږدي ، فاصله دومره وي چې دموټر په ټکان پاسنی په کوزنی ونه لګيږي او ختکی ز(٥) ده نه شي . ګلاجان

خپله پښتو کوله ، ډرايورانو ، لاروو ، کليسا ګانو او تاجرانو تـه يـې وړيـا ختـکـې ورکول .

. يوه هفته لانه وه تيره چې پالين زيرى راوړ چې دختکو خرڅلاو همـدا اوس هم نظر پروسږ کال ته پنځه چنده زيات شوى او خبره تريو لک ډالرو اوښتې ده .

کره.کولي پالين ته وويل ، " نور بازار راګوره ځکه چې دختکى پسـل ايلـه يـوه مياشت وي او رانه خوساکيږي ." ګلاجان په خندا وويل ، " مـه وارخطـا کيـږه . داخو يې اوله دړکه ده . ماداسې کرلی چې نشالا دمنی تر آخره به يې ختم نـه کړې . دا چې اوس مووليږل، دا بې ذاته ځنګلي دي چې موږ يې خاده بولـو ، بله هفته داسقلانيو وخت راځى ، ورپسې دبرګ نى ، بيـا دارکـانى چـې اصلـي خوند داولې واورې درائګ سره پکې ځغلي ." کره کولى خپـل مړه پـايـپ تـه کش ورکړ اوپه موسکا يې سروښوراوه ، " وحشي افغان !"

يوه ورځ چې دپروژې کار په دمه کې روان و ، پالين په بيړه ديوه ليک سـره راغله ، اعصاب يې خراب ښکاره کېدل ، " دې حره مو نو ، موږ ته جنجال جـوړ کړې دى او بهتره ده چې ژر يې چاره وکړو ." کـره کـولى ووپـل ، " څه خـبره ده؟" پالين ليک ور کړ، ويې لوله !" کره کولى سوسي او ګلاجان هم راوبلل ، پـه لوړ آواز يې ولوست ، " ددې ليک له لياره ګلاجان افغان ته خبر ورکـوو ، چـې موږ ته رپوټ را غلی چې تاسو دفدرالی حکومـت ، ګمرک اودبـوټو دکنـترول داداري له اجازې بغير ، ديو ډول بوټى ، ختکى ، تخمونـه امريکـا تـه راوړي . داکار دامريکا دفدرالي او ايـالتى مقرراتوخـلاف ورزي ده . ستاسـو دمعلومـاتو دپاره بايد ياده شي چې زموږ ادارې ډير کوشش کوي چـې نبـاتي چينجـى او مرضونه ملک ته داخل نه شـي . دولسوالي اداره تاسـو تـه دوه هفتـې وخـت درکوي چې دبوټو دکنترول ادارې ته راشئ او که اجازه نامه لرئ مـوږ تـه يـې راوښيئ ، له هغې نيتې وروسته که تاسو ددغه بوټى ، ختکى بهر ته ايستل بس نه کړئ نو قضيه محکمې ته سپارله کيږي .

ګلاجان دقهره سور شو ، "لاحول ولا ،" پالين ووپل " زه پوهيږم چې داړپوټ خداکه غير دپادري نه بل هيچا ورکړى وي ." کره کولي وويل ، " پـالين رښتيـا وايي ، هغه ورځ چې زه کليسا ته لاړم نو پادري دګلاجان ډيره پوښننه کولـه او چې ما ورته دپروژې دکاميابى خبره وکړه ، هغه وويل چې دچرچ هغه پخوانـى

پیسې هم پرګلاجان پاتې دي او سږ کال خو به شل دیرش زره دخدای(ج) پـه رضا راکړي که نه ؟ ماورته وویل ، دچرچ وړې سترګې دې خدای مړې کـړي . دپروسږ بسپنه خو مایه خپـل ، چـک درکـړه، پریـږده چـې سـړی یـو څه متره پیداکړي . خو پـادري بلـه عجیبـه خـبره وکـړه . ویـې ویـل ، ملـک دهمـدې خارجیانو دلاسه وران شو. ماچې دوی راوستل ، ماویل ګوندې زموږ ددین رڼا ، دجیزس رڼا به ووینې او راوابه وړي ، خودی او انـور دواړه یـاغی شـول ،خـیر دی دجیزس څاپیره دزمري ده .

په بلـه ورځ ګلاجـان او کـره کـولی ولسـوالۍ تـه ولاړل . خپـل کـاغذ یـې سکرترۍ ته ښکـاره کـړ، هغـې ورتـه د دالان پـه هغـه بـل سـرکې یـوه دروازه وروښوده . دفتر تقریباً خالي و . دوی منتظر کښیناستل . ډیر وخت پس څوک را دننه شو . ددوی په لیدو راغی او ګلاجـان او کـره کـولي تـه یـې لاس ورکـړ ، "مستر ګلاجانه ، زه خودې پیژنم ، ته زموږ دولسوالۍ قهرمان یې ،کښینئ ، زه به قهوه درته تیاره کړم ، ګلاجان په تشکر سره وویل ، " قهوه دې بل وخت ته وي، اوس به په دغه کاغذ تیر شی ، چې موږ څه ګنـاه کـړې ده ؟" مـامور وخنـدل ، "زه پرې خبریم." کره کولي وویل ، " چا خبر کړې ؟" مامور مرموزه خندا وکـړه ، " سر مه ورپسې خوږوئ، ګلاجانه ، تاسـره داصلـي زړو چـې دې ملـک تـه دې راوړي وو، څه نمونې شته ؟" ګلاجان وویل " هو ، یو څه خو مې ، دبدې ورځې دپاره ساتلي دي ." مامور وویل ، " بس دهماغو یوه نمونه به راوړئ چې زه یـې دلته په لابراتوار کې وګورم . " ګلاجان وویل ، " داکار به همدانـن وکـړم ، خـو اوس که دموجودو ختکو خرڅلاو بند کړو نو ټول ورستیږي . مامور وموسـل ، «ورځئ ،خپل کار کوئ او کـه چـاپوښتنـه وکـړه ، ورتـه وایـئ چـې نمونـه مـو دولسوالۍ دپولیسو افسر ، روبین ، ته سپارلې ده ." بیا پاڅېد او کره کولي ته یې مخ واړاوه ، " ګلاجان زموږ دولسوالۍ هیرو دی ، قهرمان دی ، داځینـې خلـک ولې دومره بد نیته دي . ورځئ په مخه موښه !اوکه بیا درپیښ شوم یـوه تـرازه ختکي مې په تاپور . " دواړو ته یې لاسونه ورکړل . ددروازې پورې ور سـره لاړ او چې ګلاجان روانېده په دالان کې یې ورپسې غږ کړ ، " داسې نه ده چې موږ دخپلو قهرمانانونګکه نه کوو."

په بله ورځ ، ناڅاپه پادري دپاليز په سر را پيدا شـو . ګلاجـان ورغـی ، لاس يې ورکړ ، يو خټکی يې ورته ترازه کړ چې په ولاړې يې وخـوري ، خـو پـادري سرو ښوراوه ، " زه راغلی يم چې يو بد زيری چې زړه مې هـم نـه غـواړي خـو دمجبورې ورځې يې درکړم ." ګلاجان په خنـدا وويـل ، " مـوږ اوريـدلی دی . کښينه چې هم خټکی وخورې او هم زما يو څه عرض واورې ، چې بيا يو په بـل پوه وو . " پادري تکنی شو ،ترازه يې واخيسته او دپاليز نه بهر چې چوکۍ ايښې وه پرې کښيناست ، ګلاجان سوسي او پالين ته غږ کړ . ټول ګيډګ حـاضر شـو . ګلاجان ټولو ته په نوبت وکتل او بيا يې پادري ته وويـل ، " اول خـو بـه ووايم چې زه دټولې امريکې د احسان پوروړی يم . دپادري صيب خو نور هم. همده راته په اولو ورځو کې چې زموږ نه لوری لودن ورک و په امريکاکې دژوند کولـو لار راوښودله ، کوډله يې راته پيداکړه ،"بيا يې خپلوملګرو ته وکتل ، " دټولو نـه لويه داچې ماته يې داسې ګران دوسـتان را پيداکـړل . " کـره کـولي وويـل ، "افتخار خو زموږ دی چې تا غوندې خزانه مـو بيـا مونـده . " ګلاجـان خبروتـه دوام ورکړ ، " پادري صيب ! نو ګورې چې زه نمک حرامه نـه يم ، بلکـه نمـک حرامی او داحسان هيرول زما په وطن ، زما په خټه کې نشته . البتـه دا احسـان په پيسو نه شم پوره کولی، مګر دومره خوکولی شم چې دې ټولنې تـه ، کـه ښه نه شم رسولی ،بد خو وروته رسوم داوړو بارنشم ، تيار خورنه شم او داکوشش ، زه لګيا يم کوم يې . پاتې شوه ددين خبره ، دلته خوتا سو وايئ هـر ديـن آزاد دی . جيزس ته دې زما سلام وي، موزس ته دې زما سلام وي .زموږ پـه عقيـده دوی په پيغمبرانو کې لوی مقام لـري او کتـاب پـرې نـازل شـوی دی . تقديـر داسې پيښه کړه چې زه مسلمان يم ، زما عقيده په خپـل ديـن ده . زمـا پـيروي دخپل پيغمبر ده . که رښتيا وايم زه چنداني دخپل آسماني کتاب په معنا هم نه پوهيږم او اميد دی چې کره کولي په خپلې وعدې ودريږي ، انګريـزي ترجمـه يې راته پيدا کړي او ياته پخپله ، پادري صيب ، که دا راته پيدا کړې نـو زه بـه دې نور هم پوروړی شم . په هر صورت زموږ دکتاب پـه يـوه ځای کـې راغلـي چې تاسو خپل دين پالئ او موږ خپل . پـادري صيـب ، تـاخو رابـاندې ډيـرې وسې وکړې،البته چې زما قسمت به پکې نه و چې عيسوی شم . نـو زمـا دخـبرو مطلب يو داو چې ستا سود کړي احسان منته وکړم او بل دا چې ووايم چې پـه

مانوره خواري مه کوئ او نه رانه دعيسوي کيدو تمه لرئ . پوه شوې پادري صيب؟"

پادري ډير ساعت غلی و . ګلاجان وويل ," ماويل ، سږ کال به ، چې شکر دی ايله په ګټه راغلی يو ، ښه مضبوطه بسپنه درکړم خو بهتره ده چې ذرته ووايم چې دا مرسته سږ کال ، کال ته او هر کال ، هغو مهاجرو ته استوم چې دروسانو دلاسه يې ملک پريښی او دپاکستان او ايران په دښتو کې بې سر پنا شپې تيروي او زه فکر کوم چې ته به هم داراسره ومنې چې هغوی مستحق دي."

پادري همداسې غلی له ځايه پاڅيد ، دټولو سره يې لاس ورکړ او دتګ په وخت کې يې وويل ، "جيزس دې خير درپيښ کړي چې په کومه بلا وانه وړې!" ګلاجان ورته وموسل او کره کولي ته يې سترګه وټومبله .

دپروسږ کال راهيسې خلک دګلاجان په خټکی روږدی شوي وو او هره ورځ به يې دخپلو مارکيټونونه پوښتنې کولې چې کله رارسيږي . دا روږه په سره اوړي دګلاجان دخټکو درسيدو سره سمه راغله ، نو دګلاجان په اټکل يو څوکاله خو دهغو بازار تودو . ګلاجان پوهيده چې خټکی دچلم په شان يو عمل دی او په تيره په روژه کې خونو چې يو ځلې څوک پرې روږدی شي ، بيايې هر ماښام بې دخټکی په بل شی نشه نه ماتيږي . داخلی يې په افغاني مارکيټونو منلې وه چې د خټکی فی پاو نرخ به افغانانو ته ، دروژې په احترام شل فيصده را ټيټوی خوورسره به يو کاغذ هم ورکوي چې په هغې کې ليکلي چې دنرخونو ټيټيدل دروهيلی دشرکت دي ، نه ددوکاندار لحاظ ، نو افغانان پرې مات وو او هره هفته پالين هغه ليکونه چې په پاړسي يا پښتو ليکل شوي وو په لوپې ټوکری کې ګلاجان ته راوړل ،ټول تشويق ، ټوله دعا ،البته انتقادونه او دنرخونو دګرانی شکايتونه هم وو .هر يو ليک ته ګلاجان په خپل خط ځوابونه استول . برسيره په دې ، ده يو دتلفون داسې لمبر هم درلود چې خلکو به ورپا لفونونه ورته کول او امريکايان ورته ۸۰۰ لمبر وايي ځکه په همدې شروع کيږي .

منی مهال چې پالين ګلاجان ته حساب راوړ نو څه دپاسه اته لکه ډالره په بانک کې وو. چې دټراکټورونو قسطونه ، سرې او موټرو ، موټر وانانو لګښت يې

ترې وايست نو دوه لکه پاکې پاتې شوې. دژمي دواورو پورې ګينګ په خوشالي هر ماښام مجلسونه کول . په همدې مجلسونو کې يو ماښام ګلاجان اعلان وکړ چې دپسرلي په سرکې پيښور ته دسفر نيت لري. اوس يې نو دمهاجرت شرطونه پوره کړي وو، امريکا يي پاسپورټ يې اخيستی و . دبانک نه يې اويا زره ډالره دپيښور ګرينډ لي بانک ته چې دانګريزانو دی انتقال کړل ، ددفتر کارونه خوبې هغې پالين کول او سوسی هم ورسره وه . کره کولي يې خپل قانوني وکيل وټاکه او په بانک يې وکالت ټاپه کړ . دګلاجان دخدای پاماني سره داول نه جوړه نه وه ، مظلوم کاته ، په سترګو کې داوښکو ګرځيدل، اوله حده زياتې خوږې خبرې ، او ارمان يې بد راته او دنارينه سره وړنه ورته ښکاريدل . ګلاجان دوخته ، دمجاهدينو ديوه هيئت له لارې کندوز ته ، خپل پلار ته احوال ليږلی وچې پيښورته راشي. داپريل په يوه سهار يې ټکسي راوباله ، او ايسته هوايي ميدان ته روان شو.

## پنځه ويشتم څپرکی

دپيښور دهوايي ډګر پوليس ، بلکه ټول پاکستاني افسران، هماغه اول سر نه ګلاجان ته لکه تور ماران داسې ښکاره کېدل . پخپله تور نري ، بريتونه تور نري، ږيره صفا خريلې ، مليشه کميس پرتوګ يازېر جيمی يونيفارم په غاړه. بس يو فرق چې راغلی و داو چې پخوا به يې دانګريز دوختونو يوولس ډزی په غاړه و ،اوس کلاشنيکوفونه . يو پوليس راغی دده تلا شي يې واخيسته ، تور کړکې لاسونه يې دده دوجود په هر ځای ، حتی دشرم په ځای تپول ، په جيبونو خو ځوځلې تير را تير شول . غلی او شرميندوکی ښکاريدل خو ګلاجان پوهيده چې داسې په پټه خوله اچوي ، بخت وطالع ، که يې داړې ونښتې بيا دې پريښودونی نه دي . ده دامريکاپوليس ليدلی وو چې دکوچانو دکوټه سپيو ؛ په شان غټ وونو که خوروري وو ، حق يې و . په ونه شپږ فوټه جګ په اوږو دوه فوټه پلن . دافغانستان پوليس قهرجن، اندک رنجه ، او په هيڅ خبره سوک ځاپيرې ته رسوي . خو دپاکستان بيانورې بلاوې دي . ارامه ،کم خبری دي،نيغ کاته يې نه زده ، بس يادې بکس ته ګوري يا جيب ته ." او هو، داخودې ډالرې راوړي ، په دې څه کوي ، اپيم خو به پرې نه اخلي ؟. هلکه

ماجره خان پوه کړه ، ډی ، ایس ، پی صیب له به دې بــوزم ......، پـه خـوب کې چې سړی سپی وینی چې هر څومره زور وهی ترې خلاصیدای هـم نشـي، او ژوبلوي دې هم نه ، یالکه چې څوک دوربینمو په تار و ترې ، هسې خــو نـرم پوست لګیږي خو چې زور وهی ، پرې راټینګیږي . ګلاجان په دې هم پوهېده چې دپاکستانی افسر ایمان دووشیانو ته خطـاوي . یـو زور ، چـې پـه رتبـه کـې زورور پرې راشي ، دی په یوې پته کې پیر غوړونه سلامی ورتـه ودریـږي . بـل روپی. ګلاجان ستړی و اوددومره جنجالونو حوصله ورسره نه وه نو یې پـه پټه هم نه ، په ښکاره دوه شل ګیز ډالـري لوټونـه دواړو پولیسـانو تـه چـې یـودی تلاشی کاوه او بل یې په بکس لګیا و ونیول ، دهغـوی سـترګو تـه ځیر شـو. یـو خوداسې بیخاله راضي معلومېده ، لکه همدا اوس چې انزال شوی وي ، بــل ، لکه سپي ته چې هډوکی واچوې ، شاواړوله او په نورو مساپرو بوخت شو ، " بس جی ، دده سره هیڅ هم نشته ، ورځه ." یوه بل افسر چې په کونج کـې ولاړو او په هیڅ کې نه و ، ګلاجان ته خوله جینګه کړه . ګلاجان هغه تــه هـم یـو لـوټ ونیو . افسر دهغې لرګینې نانځکې پیښې وکړې چــې دوه تارونـه ور نـه ځوړنـد وي، ماشومان یې چې راکاږي نو ګوډاګی ورته سر ښوروي. په موسکا یې لـوټ واخیست او سریې دې خوا ها خوا وښوراوه ، "بس خان ،نو پیـښور تـه پـه خـیر راغلې !"

دهوایي میدان نه بهر دخلکو ګڼه ګونه وه ، یــوه پـه بـل پـښې ایـښودې او دبتوپه شان یې غاړې جګې نیولې وې . خپل عزیـزان یـې صحیـح کـول چـې دمیدان دسیمي دروازې نه راوتل . دریشکو کاړه واړه یون و چې هر یوه خپلـه مخکنی ارابه دبل نه مخکې کوله ، دپنډیانو غورځې، کنځلې او غوتې وې چـې دمسافردلاسه به یې بکسونه الوزول . په همدې کې دګلاجان بسترګو خپل پــلار له کتغنی پګړی نه وپیژاند ، خو ور رسیدل ګران و . پـلار یـې تـرور تـرور هـرې خواته کتل خو دی یې نه شو موندلی او که لیدلی یې هــم وای ، پیژنـدلی بـه یې نه و . ګلاجان دخلکو له منځه په زحمت لاره خلاصه کړه او هغه هم دپنډی برکت و چې بچ بچ یې ویل او دده بکسونه یې چې په سر ایښی وو ، بـهر وړل . پلار ته ورغی ، په پښو کې یې پریووت .

# شپږ ویشتم څپرکی

خارجی ته به ټول مهاجر یو شان ښکاري ، خو دهرې سیمې دمهاجروخالې، کمپونه او دفترونه بیل وي. دګلاجان پلار ، محمداجان هم دډېګرۍ په هماغه بام اړولی وو چې یو وختې انور او ګلاجان پکې اوسیدل. اوس هم اکثر کتغنیان هماغلته وو او څوتنه دمحمداجان سره ګډ پیښورته راغلي وو. ټول دګلاجان په لیدو خوشاله وو او یو نفر لګیاو وطنی تیل پولاو یې پخاوه .دګلاجان پام شو چې یو بل بدلون داو چې دسکروپه ځای اوس اوجاغونه په ګاز چلیږي . هغه شپه ترناوخته ګلاجان دپلارسره دزړه خواله کول . محمداجان ورته دکلي او کرنې حال احوال او دمړو ژوندو بیان کاوه او ګلاجان په امریکا کې دخپل ژوند او کار بارخبرې کولې . چې دګلاجان دکیسو وخت به راغی ټولو به ورته غوږ نیولی و . په بله ورځ ګلاجان پلار پریښود او لاړ ګرنډلي بانک ته ، هلته نو ګلاجان ولیدل چې بیروکراسی یوازې په هوایي میدان کې نه ده ایساره ، پاکستان شموله ده . دده پاسپورټ او مني اړډر یې څو څو ځلې معاینه کړل ، دهغو فوټو کاپۍ یې جوړې کړې ، چې هغه اسلام آباد ته واستوي ، ډده نه یې نور ډیر تحقیقات هم وکړل او ګلاجان ته یې بیا هغه پېره چې لسیزه پخوا لا دده او انور په زړونو کې لویدلې وه ، بیرته ژوندۍ کړه ، خو بیا به یې ځان بیرته راویښ کړ او سربه یې د سربدالی نه خلاص کړ ، چې یره ، اوس هغه خوار ګلاجان خونه یم . په دوو کې وو چې دوی ته هم رشوت ورکړي او که نه، په همدې کې دبانک رئیس دشاتني دفتر نه راووت ، دده پاسپورټ اومني اړډر ورسره وو . خزانه دار ته یې وروڅه وویل ، هغه ګلاجان ته په دوو ګوتو اشاره وکړه ،." ماجره ، اسلام آباد ته حاجت نشته ،بس دلته امضا وکړه ، "پنځوس زرګیز ډالرونه یې دښیښې شاته دځان سره وګڼل ،بیا یې دګوتو سر په لاړو لوند کړ ، بیا یې وشمیرل ، نوهله یې بنډل ګلاجان ته ونیوه ، له هغه ځای نه ګلاجان په صدر کې پوست افیس ته لاړ ، یو پوست باکس یې کراه کړ. هماغلته یې پالین ته دخپل سفر معلومات ولیکل ، د پروژې پوښننه یې وکړه . نمت یې دا و دخپل پوست باکس پته او لمبر ورکړي.

په بله ورځ د کاکې والې ، مامې والې دغړونو سره ګلاجان او محمداجان په ډېګري ورسم شول . ګوټ کې يو ټکسی ولاړو ، موټروان يې ويده و . ګلاجان هغه وښوروه ، چې راوېښ شو نو دی او پلا ربې پوښتنې ټکسي کې کښيناستل . موټروان سر په تعجب وښوراوه خوځې دګلاجان سوټ بوټ يې وليد نو دتسليمۍ په علامه يې پوښتنه وکړه ، " جی ، کوم پلو ؟" ګلاجان وويل ، " ناصر باغ کمپ ته ." په لارکې پلار ورباندې په غوسه شو ، " هلکه ، ډاټسني خو په بورډ کې ډېرې وې ، تر هغه ځايه به سرويس کې لاړوو . يابه دې رکشه نيولې وه ، په ټکسي څه کوې ؟" ګلاجان خوږې خوږې پلار ته وکتل . کالي يې پاک و خو هم چپنه څو ځايه شکيدلې او مالوچ يې راوتلی وو او هم يې دپګړۍ لاندې دګلدوزی خولۍ پلتې کوزې په مخ زنګيدې ." پلار يې هم په خواږه کاته وويل ، " ليونيه ، زه دې پرېښودم ، ته رانه لاړې . ماهم دنورواجاره پرېښووه، او اوس فقط خپله دوه جريبه زمکه کرم ." ګلاجان هيڅ ونه ويل . دپلار په لمر سوي مخ کې اوس د زوئ دليدو خوشالۍ يو څه سرخي راوستې وه . خپل لاس يې په کراره دګلاجان په سر او مخ تير کړ او بيا يې مچ کړ . دده پلار هم کم خبرې وخو اوس احساساتي معلوميده ، مهاجرت ، اته کاله بيلتون ، دديدن خوشالي .. داټول په کې غوټه شوی وو .

ناصرباغ کمپ دتنظيمونو و ، تلاشۍ او دشک کاته دبهرنۍ دروازې نه چې پاکستانی مليشې يې اړخ ته قفسچه جوړه کړې وه ، شروع وو . په ګلاجان کې يې هماغه داتو کالو نوويره چې په امريکا کې ترې هيره شوې وه ، بيرته ژوندۍ کړه . خو بيا هم په الله بسم الله ورننوتل ، مينځ کې لوی جومات و اوګرچاپيره ترې کوډلې، دختو تيټ - ديواله کلاګانې، خيمې خورې وې دجومات نه بهرڅو کسه سپين ږيري ولاړوو او په کوم شی يې بحثونه کول . محمداجان سلام واچاوه ، هغو په کبر ، په نيمه خوله عليک کړ او بيا يې ږيرـ کلی ګلاجان ته لر او بر وکتل . محمداجان وويل ، " پوښتنه عيب نه ده ، مور داحمدزو کوچانو دپينډې پسې ګرځو چې همدلته چيرته يې اړولې دي ." يوه سپين ږيري وويل ، " صفدرخان دغوخوبه نه نښيې ؟" ګلاجان وويل ، " هو، دملک خالو پينډه ." سپين ږيری وويل ، " د سيند ته پورې غاړه ، هوغه غونډۍ وينې . دهغې په لمن کې اړولي وو ، چې اوس به هم وي او که به نه وي ."

محمداجان روان شو. سپین ږیری ورپسې غږ کړ، "موږ سره به موچای چښلی و." ګلاجان وویل، "خدای مو وبخښه، زموږ تادي ده." په لارکې محمداجان وویل، "دوی دې خوارشي په دې زړه نازړه ست. داهم ست شو چې چای به موڅښلئ و، داهم دپښتنو ست دی؟" ګلاجان موسک شو.

دغونډی په ډډه فقط دوه کیږدی وې چې له یوې نه نری لوګی خوت. ببر سرو ماشومانو ترې دباندې لوبې کولې اویو زیړ سپی هم ورسره لوغړیده. محمداجان له لیرې غږ کړ، "هی، بسلمانانو، څوک نارینه شته؟" په همدې کې یو سړی له کیږدی ووت، لوی پټو یې دځان چاپېر څکاوه، راغی. بې سلامه یې ددواړو سره روغبړ وکړ او محمداجان یې تر لاس نیولی کیږدی ته کش کړ. ګلاجان دځانه سره وویل، "ست دغسې وي!"

یوې زړې ښځې له سترې مشې پس تیمي چاځوښه، راوړه، دتغر په شان زیړ کالي یې وغوړاوه، بې لاستی پیالې یې ورباندې کیښودې او له لمنې یې دګوړې څو تورې چکی په کالی تویې کړې او بیا لاړه درې تودې ډوډی یې راوړې. بیرته غیبه شوه. چای په خاموشی وښبل شو. ډوډی ګلاجان ته تروسکنه لګیده خو ګوړې دګرم دودجن چای سره خوند کاوه.

بیا یې نو وویل، "عزیزانو، تاسو خو کوچان نه ښکارئ، څنګه راپیښ شوئ؟" محمداجان وویل، "زموږ دصفدرخان سره څه کارو، دزوی خط اویو څه نور امانت مو ورته راوړی دي." کوچی احساساتی شو، خپلې ښځې ته یې غږ کړ، "ماخی، راځه چې خپلوان دې راغلي دي." زړه ښځه راغله او داځلې چې دسیالانو په مینځ کې وه، لرې، پلو نیم کښو کښیناسته. "ښه زویه، رازیک جان ښه و؟ هغه خو چیرته بل ملک کې دی، دمور پلار یې ورپسې سترګې دي، کله راځي؟" دښځې خاوند وویل، "څه یې کوې؟ پریږده چې هلته یو څه ګټه مټه وکړي چې دصفدرخان، هغه څه چې دټولو کوچانو کار ګډوډ دی، میله ځایونه او ایلبندونه اوس ټول د ماینونو نه ډک دي، لارې دغلو او وسله والو نه ډکې دي، مزه ګی یې نشته." ګلاجان وویل، "صفدخان دوی اوس چیرته دي؟" زړې ښځې، دساړه اسویلی سره وویل، "وئ زویه، هغوی خو یوه میاشت پخوا کډه وکړه." ګلاجان وویل، "کوم پلو لاړل؟" سپین ږیري وویل، "زموږ دژمی میله ځای ته لاړل، دخوست توروابو ته لاړل.

محمداجان خپل زوی ته وکتل او بیا یې پوښتنــه وکړه ، " ولـې لاړل ؟" سـپین سرې وویل ، " صفدرخان دپلار په شان سرزوری سړی دی ، بس ویلی یـې، سـر اوړی، بهسودو ته ځي ، هلته زموږ ایلبند دی." ګلاجان په وارخطایئ ویل ، " په خوست کې به یې ګیر نه کړو ؟" سپین ږیری وویل ، " دانو دبخت خبره ده ، که هوا ښه وه ، لارې پاکې وې ، نو هغوی به چخچران تـه روان شـوي وي او کـه چاورته د ساړو او واورو او جنګونو احوال راوړ نو بیا به لا توره اوبه کـې وي ." ګلاجان خپل پلار ته وکتل او پلاريې پاڅید ، دخدای پامانی په وخت کې یـې وویل ،"توکل خدای ته ، موږ خو به یو وار خوست ته سر ورښکاره کړو چې بیـا څه کیږي." سپین ږیری وویل ، " خیریت خودی؟ په رازیک جـان خـو بـه څه پیښه نه وي شوې ؟" ګلاجان پـه خنـدا وویـل ، " هغـه شـکر رک روغ دی ، څه امانت یې راکړی او تا سید یې کړی چې خامخا به یـې کورنـۍ تـه ور رسـوو ." سپین سرې ګلاجان ته نژدې شوه ، بیایې ځیر ځیر ورته وکتل او کټ کـټ پـه خندا شوه . میره یې په غوسه وویل ، " په دې کې څه خنـدا وه ؟" سـپین سـرې وویل ، " وربه شي خبر به شي " او بیا یې کټ کټ وخندل " نارینه په دې خبرو څه پوهیږي ."

دخوست شمال شرق ته توره اوبه پرته ده .پلار وزوی تر میرامشاه او بیـا تـر ژوره په موټر کې لاړل او بیا یې نودوه یابوان کراه کړل . توره اوبه نیمه دښته، نیمه غونډۍ ده . چې دوی ور ورسیدل هلته هم شپږ اته کیږدۍ لګې وې . یوه ځوانکي کیږدۍ ته بوتلل ، دکوم قسم اغزن بوټي اور په سم مینـځ کـې بـل و، تریخ لوګی ترې خوت .یو بوډا په یوه کونج کې په لیمڅي پروت و او ټوخیده . ددوی په راتګ په ډیر تکلیف کښیناست او هر طرف یې امرونه کول چې هلـئ، میلمه راغلی ، چای راوړئ . ښځې چې مخونه یې په لوګي کې پټ وو په بیـره لرې او برې کیدې ، وتلـې او ننوتلـې ، چـې دوی تـه یـې چـای حـاضر کـړ . محمداجان دټکی په شمله خپلې سترګې چـې دلـوګی دلاسـه اوښکـې تـرې بهیدلې، وچولې . لـه چایـه پـس ،بـوډا عـذر وغـوښت ، " یـو څه ناسازه یم ." پریووت او بیرته یې شړۍ تر زنې پـورې پـه ځان کـش کـړه . ګلاجـان وویـل ، "کاکا، څه مریضی لرې ؟" هغه دټوخی وقفه کې وویل ،" خدازده چې څه بلاده خو زړه مې تیکاکوی او ورسره دا ددووس ټوخې هـم دی !" ګلاجـان وووت او

شیبه پس یې دیابو دبارنه څه شي راوړل ، " هن ، داګولۍ درواخله ، تڼوخي خو به دې نشالا چې غلی کړي. دا لوګی هم تاته ښه نه دی ." بـوډا دبوتـلّ تڼولـې ګولۍ په ورغوی کې تویې کړې ، دچـایو پیالـه یـې راواخیسـته ، خـو ګلاجـان وویل، " هسې مه کوه . دوه ګولۍ اوس وخوره ، دوه سبا ته په همدې وخـت ." بوډا چې ګولۍ وخوړې، نو بیرته پریووت . ځوانکي دمیلمنو پیاله بیا ډکه کړه . دکیږدۍ نه بهر پرخ پرخ باران وریده او بوډا چـې دمحمـدا جـان او ګلاجـان دواړو دراتګ ددلیل تفصیل واورید نو بیا یې یوه خبره کوله او دتڼوخي داوږدې لړۍ دځنډنه وروسته یې هغې ته دوام ورکاوه.

" صفدرخان ښه سړی دی خو خالونه دی. خپل کوشـش کـوي، خـو ملـک خالو بیا نه پیداکیږي .په اوغانستان کې پیړۍ نیمـه ، داسـې یـو هوښیـار سـړی پیداشي چې بسته قام ورپسې روان شـي . بیـانو دهغـه کـول چـې هـر څومـره کوشش وکړي، د نیکه نخښه نشي ویشتلی . هسې مې خبر کوله . صفدرخان هـم دګوتې غمۍ دی اوچې لر اوبر نورو ملکانو سره یې وتلې نو ډیـر پـرې درونـد خیژي ، خو خلک دی دپلا ر سره تلی او بیا نو افسوس کوي چـې یـره دملـک خالو خو دې مرګی نه وای ." بیا نو ډیره شـیبه بـوډا غلـی ستمیده. ګلاجـان خپل پلارته کتل . دکیږدۍ نه بهر چې دماښام تیاره راغله ، ایله بـوډا پـه خـبرو راغی ، "یره ځوانه دې دارو خـودې خـوب را بـاندې راوسـت . دصفدرخـان پوښتنه کوئ ، هغه خو دادوه هفتې کیږي چې ایلبنـد تـه روان شـوی دی. زه هم ورسره تلم ، خو دابدمذهبه مرض راباندې راغی. مزل د خوارۍ مزل دی ، چې کم وی ددوو هفتو لارده ،نو زه ورته اوس خو جوړ نــه یم ، کـه څو ورځې راته ګورئ ، نو چې هوا یو څه ښه شي ،" بیا یې ګلاجان تـه وکتـل ، "او ددغـه زلمي په لاس دې خدای برکت واچوی ،نو ګډ به سره لاړ شو." بیا یـې نـو پـه مهربانه‌لهجه ګلاجان ته وویل ،" ته خوخداکه کوچی یـې ، نـو چـې هیـڅ بـې هیڅه ایلبند ته روان یې. خدازده چې څه پتنه دې جـوړه کـړې او څه ګوړې ماتوې خوبنه ځیرک هلک راته ښکاره شوې. " بیـا یـې ځوانکـي تـه غـږ کـړ ، ږهلکه، نرسولا ، میلمنو ته به په هغه بلـه ، دمیلمنـو پـه کیږدۍ کـې ځای جـوړ کړې، پام چې درنه وږی پاتې نشي . هغه تره خولی سپی بـه نـن شپه زمـا پـه

کیږدي کې وتړې چې میلمانه په عذاب نه کړي " ددې سره ګلاجان د دارو دزوره ، بوډا خوب وړی و .

## ۱۰ وه ویشتم څپرکی

. محمداجان دځانه سره ویل ، دانو ایلبند نه شو دبسوګی واده شو ، هیڅ ختمیدن نه لري . دخوست نه اوله شپه په چارلی ، بله په ترزی ، بله په واخې بچه ، بیا متنه چینه ، المره ، سیدخیل ، دغلجی بیخته ، ددې خوار شوي پکتیا هیڅ خلاصیدن نه و . هر ځای کې یوه شپه کیږدی وهه ، ړنګوه یې ، لکوه یې ړنګوه یې چې ایله دولتخان ته ورسیدل . ګلاجان یوې عجیبې خبرې ته پام شو او هغه دا چې بوډاچې دنورو کیږدیو خلکو تارو اکا بالـه ، رک روغ و او داول اوښ مهار همده نیولی و . هرې خواته یې په داسې شوق کتـل ، یابـه دروسی عسکرو یا مجاهدینو ویره ، خو داسې یې په لیوالتیا هره خواکتل ، تـه بـه وایـې خوند ترې اخلي . یو ځلې خو یې ګلاجان پاس دغـره ډډې تـه دځانـه سره بوته ګلاجان ته دهر قدم اوچتول لوی کړاو و ، خو تارو اکا ، لکه ایله اوس په مستی راغلی وي ، دهوسی په شان په غـره خـوت او ګلاجـان تـه یـې پـه لاس اشاره کوله چې راشه . دغره په سر وختل اوپه هغې بلې خوا یو خو ګامه ورکوز شول . دغره داځای تقریبا هوارو، تارو اکا یو څومتره لرې ، یو داسې ځای .تـه ورغی چې ګڼ بوټی او غنې ونې پکې ګورې وې ، د اغزو په مینځ کې یې یــوه سمڅه رابرسیره کړه . تارو اکا پکې ننووت ، ګلاجان ته یې هـم اشـاره وکـړه . سمڅ تیاره وه، ګلاجان یوه وړه بجلـی چـې دکلـی پـورې یـې نښتـې وه ، ور واچوله ، نری کړه وړه لاروه ، بیانو سمڅ ختمه وه ، اویو دیـوال یـې مخـامخ راغی . ددیوال په اړخ کې یو ، لکه دډیوې دپای په شان رف کیندل شوی و . چې ګلاجان رڼا ورسیخه کړه نو یو بوت ولاړو ، چې ښه ځیر شو ، دوه بوتان وو، یو نر بل ښځه ، غاړې غجی سره تاو شـوي وو، ډیـره شیبه دواړو پـه خاموشـی دبوت ننداره وکړه ، بیانو تارو اکا لاړې ورتوکړې او بیرته دسمڅې نـه ووتـل . تارو اکا دسمڅې تر څنګه په دمه کښیناست . ګلاجان هم دمه وکړه .

کوز یوه شنه دره ، غځیدلې وه ، چې بل سر یې دبـراس لانـدې ورک و او تارو اکا وویل ، ددرې په آخر سرکې دقاری بابا مرکز دی . ګلاجان پـه تعجب

وویل ، " دا بوتان خو عجیبه شی و . دا تاته څه معلوم وو؟" تارو اکا ، کـوز درې ته کتل ، " ماته ددې لارې کاڼی کاڼی معلوم دی . " ګوته یـې دیـوه بـل غـره خواته ونیوله ، " هوغلته دهغه غره شاته ، دسلطان صیب بند دی . چـې چایې ژوروالی تر اوسه نه دی معلوم کړی . خالواکا دې خـدای وبښي ، هغـه ویلـې چې یوه شپانه ورته کیسه کړې وه ، چې دبهسودو دکجاو په میله ځای کې تـرې ډانګ دغره په یوه چینـه کـې ورک شـوی واو چاپیادلتـه مونـدلی و . ګلاجـان وویل، " نو بیا دې لارې ورتوکولې ؟" تارو اکا موسک شو ،" یو خو دکاپـرو بـوت و، بل نو ودې لیدل چې سړی او ښځه څنګه سره جوسر نښتي وو." ګلاجان نـه قانع کیده ، " نو ولې دې مات نه کړ ، یادې ولې راونه ایسته او دکابل خلکوتـه دې ورنه کړ ؟" تارو اکا ، وویل ، " یره دا زما اوخدای ښئلي ملک خالو تـر مینـځ پټ راز دی . زه ورکوټی وم چې ملک بابا په همدې ځای کـې ، همـدا سمڅ راوښوده او بیا به هر کال ، دی له ازرې او زه له خوست نه راتلو او همدلته مـو په دولت شاه کې سره لیدل . دواړه ددې بوت دیدن ته ورتلو . ملک بابا راتـه وویل ، تارو ګیه ، پام چې چاته حال ونه وایې ، که نه بیـا بـه وایـي ، کـوچـان بوت پرستان دي . ملک بابا ویل ، زه ددغه بوت جوړوونکي ته سـودا وړی یم ، چې دایې دخپلې محبوبا دپاره جوړ کړی او که خدازده دلته څوک اوسیدل څه خیل ژوند یې و." تراوسه بل هیچا دابوت نه دی لیدلی اوته به یې هم نه وایې ته مې خوښیږې هم او بې هغې هم دبل ملک مارغه یې ، ماویل چې یـو نـادره سیل خودرباندې وکړم.

په درو ورځو کې دکهنه ده ، خچک ، تل هزار ، شش ګاو له لارې لـه غزنـي نه تیر شول او تارو اکا ویل چې دقاری بابا دمنطقې نه به شپه شپه تیریږو ، چـې دهغه د کوچانو سره جوړه نـه ده او داسـې مـو تلاشـي کـوي چـې دچـاخبره داوښ په پچو کې هـم مخـابرې لـټوي . داوښانـو ګینـګري یـې لـرې کـړل او دسپوږمۍ رڼا ته یې د عبدال بدین ، خل کله له لارې ځان دواغجان بیخ ، تـه ورساوه . هلته یې دوه شپې تیرې کړې او بیا نو د ، هـر کـه دانـی او کجـاو لـه دښتې ځان بهسودو ته ورساوه. البته په هر ځای کې یـې شـپه کولـه . بـادول ، اولیا چې ایله په یوه هفته کې بهسود ته ورسیدل. په ټوله لیار دګلاجـان او پـلار حال درهم برهم و . چـې بـه کیږدۍ لګـې شـوې دواړه بـه پـه کیږدۍ کـې

سرتوپی، بیجاله پریوتل خو کوچان هماغسې تر او تازه لر او بر کیدل او داوښانو سره یې ډوډ وغړپ ، او ددوی خپل دلوړ آواز شوربګت کیږدۍ ته راته .

## اته ویشتم څپرکی

دامیر عبدالرحمن خان دفرمان له مخې کوزه کرونده دهزاره وو او پاس دغره ډډه دکوچانو. نه یوازې داویش و ، بلکه دهرې کورنۍ دکیږدۍ ځای معلوم و چې لکه چې قوا له یې ورسره وي ، هیڅ بل کوچي په هغه ځای کیږدۍ نه لکوله . شین سهار و چې ګلاجان دوریو او میږو بغ بوغ او دپو ندوو درزا راوینښ کړ . سر یې له کیږدۍ وایست، هره خوا ، دکیږدو ترڅنګ میږې پنډې وې او ښځو لوشلې ، وري هرې خواته لوغړیدل او ماشومانو ورسره شوربګت جوړ کړی و او چې به یې مور له کوچۍ خلاصه شوه نو خپل کبلی ته به یې وځغستل . له دښتې دختې بوی راته او دلته هلته ، یو نیم اوښ چو و . نارینه وو دکوځیو( پیځه ول ) سره په خپلو میږو دورې کولې او کله یې یو وری له دوو مخکنیو پښو نیولی ، د ځان پسې څکاوه . یو لوی لکیور سپی ، عاجز عاجز ورپسې روان و .

غرمه مهال تارو اکا چې دورځې دکار نه یو څه سوکه شو ، نو یې خپل زوی، نرسو لاته په غوږ کې څه وویل او هغه دوه نوي کوځي راوړل . تارو اکا هغه په خپل لاس په ګلاجان او محمداجان واچول ، " بس اوس نو کوچان شوئ . بیانو دی مخکې ، محمداجان او ګلاجان ورپسې ، مخ په جګه ، دصفدرخان کیږدۍ ته ور روان شول . تارو اکا په لار کې یو ځای ته ګوته ونیوله، " په اول کې دملک بابا کیږدۍ همدلته کوزې وې خو قوم ورته وویل ، چې دا شرم دی ، چې موږ ستانه بره کیږدۍ لکې کړو ، نو یې همدا ځای ، دغره څوکې ته نژدې ورته جوړ کړ، یوه مسته چینه هم ترې راوتلې ده . لویه حجره لري ." بیا یې نو ګلاجان ته وویل ،" ګوره زلمیه ، احمدزي دپښتنو ستانه دي ، داحمدزو تیږه په ټولو درنه ده . موساخیل بیا په احمدزو کې دسرقام دی، هسې خو عیسی خیل ، علاء الدین خیل او جبارخیل هم شته خو ملک خالو په هغوی کې نه دی پیدا شوی . نن به هغه سړی ووینې چې دملک بابا په ګدۍ ناست دی، نو ګوره چې ستا هر څه په زړه کې وي ." ګلاجان په خندا

وویل ، " بس درازیک جان خط او یو څه نور امانت ..." خو تارو اکا یې خبره غوڅه کړه ، " بس ماسره پنج وشش مه کوه ، هسې مې غاړه خلاصوله ، ځکه هم مې ډانکټر یې او هم مې میلمانه یاستئ !"

محمداجان چې تر اوسه غیر له یوې او شولو بل څه نه وولیدلي او تر اوسه دټوپک په چل نه پوهیده دتارو اکا په خبرو کې یې یو پټ ګواښ او خبر داری نغښتی لیده ، یو څه وویرید خو خپل زوی ته یې کتل چې تارو اکا ته ګوري او ورته موسک دی ، زړه یې یو څه په کرار شو . ګلاجان وویل ، " تارو اکا ، زمونږ نه خو دې لړمون بوټ راوښکه چې څه خونیانوته مو لاس تړلی بیایې :" تارو اکا کټ کټ وخندل ، " چې تارو درسره وي ، که صفدرخان مړ کړې ، مړی خوبه دې په سارا پرې نږدي ." محمداجان هم چې تارویې لیده چې موسک دی یوه وارخطا خندا وکړه .

﴿۲﴾

# لومړی څپرکی

دصفي څلورو خواوته کتونه ایښی وو ، سرې نیالیچې اوله قالینو جوړشوي ، له بوسو ډک شوي بالښتونه ورباندې پراته وو . څوک نه و ، تـارو اکـا میلمنـو تـه دناستې داسې ست وکړ، لکه چې کور دهمده وي . محمداجـان پـه یـوه کـې وغځید تارو اکا مخ په کیږدیو روان شو او ډیر ځنډ پس یې دچـایو چاځوښه او درې ګیلاسونه چې ګوتې یې په کې ننه ایستې وې ، راوړې. محمداجـان چـې دکتغنیانو په دود یې دترخو چایو سره بیحده زیاته مینـه وه ، پـه لیوالتیا خپلـه پیاله ډکه کړه او همداسې سور سور یې سرپاوه . په همدې کې یـو پیـځول والا سړی دکیږدیو نه صفې ته روان ښکاره شو . ګلاجـان چـې پـه بـالښت یـې ډډه وهلې وه ، ځان راټول کړ ، یوه کمکۍ شانې وارخطایي پرې راغلـه . تـارو اکـا اعلان و کړ ، " هغه دی راغی"

صفدر خان په ونه جګ و ، ماش وبرنج لنډه کۍ ږیره یې وه . پـوزه یـې یـو څه جګه وه خو دلوی مخ سره یې جوړېده . چې نژدې شو ، نو پـه خنـدا اول دمیلمنو او بیا دتارو اکا سره ترغاړې ووت اوبیا په څلورم خالي کټ کښیناست . بیا یې نو میلمنو ته له هماغه ځایه بیا سـتړی مشي ورکـړه او تـارو اکـا نـه یـې پوښتنه وکړه ،" ستاراتګ یوزیری ، دمیلمنو لابل زیری ." تارو اکـا پوهیـده چـې داپه حقیقت کې پوښتنه وه ، ویې ویل ، "داهم زما میلمانه دي او هم سـتا ، پـه اصل کې خو زما میلمانه دي ، خوزه چلناک سړی یم ، ستا په حجره مـې سـیخ کړل ." بیا یې نو میلمنو ته وکتـل ، مانـا ستاسـو دځواب وار دی . محمداجـان غاړه صافه کړه ، " صایبه ، موږ دکندوز یو ، دامې زوی دی ، ګلاجان ." خان پـه خندا شو ، " نو ولې دې اول نه ویل ؟ ګلاجان خوزه پیژنم ، په پیښور کې یې یو خط هم رالیږلی و ، ځوانه ته چیرته او بهسود چیرته ؟" ګلاجان وویل ، " په اصل

کې مې دپلار دیدن ته راغلم ، خورازیک جان تاکید راباندې وکړ چې زموږ کورته به خامخا یو ځلې ورځې. هغه چې پېښور ته راغلم نو تاسو کډه کړې وه ، ماویل راځه هم به سیل وشي اوهم به درازیک جان سره خپله وعده پوره کړم." صفدر خان مخ محمداجان ته کړ ، " دا تاسو کتغنیان ، لکه چې په وعدو کې ډیر ټینګ یئ. زه خبر شوی یم چې ګلاجان په امریکا کې هم خپلې وعدې پوره کولې " بیا یې په موسکا تارو اکا ته مخ کړ ، " رغازیک لیکلي چې ګلاجان هلته دځنګلی آسونو دسپرلۍ لوبه دټولو امریکایانو نه ګټلې وه . دایې تاته ویلي؟" تارو اکا په تعجب وویل ، " نه ، داهلک په خبرو کې دومره موزی دی ، لکه سود خور او دراماں . بس غلی ناست وي ، خو خدای دې خیر ورکړي چې داسې دارو یې راکړل چې رک روغ شوم ." صفدر خان وویل ، " ددې بلې نه یې خبر نه یې ، هلک شل زره ډالره په همدې یوې سپرلۍ وګټل ." تارو اکا پوښتنه وکړه ، " دابه نو شل زره افغانۍ شي ؟" صفدرخان وخندل ، " نه بابا ، شل زره ډالره په افغانۍ دومره پیسې دي چې ایله یې ستا اوښ ، مستانه یوړی شي . " تارو اکا ، یو څه غلی و ،بیا یې په شمله خپلې سترګې وچې کړې ، "مستانه دخدای په رضا لاړ." صفدر خان پوښتنه وکړه ،" څنګه ؟ هغه خو رک روغ و ؟" تارو اکا وویل ، بچې مړی وروس په ټول. کې ماینونه شنلی ، موږ خبرنه وو، هلکانو اوښان څرول چې بم زما په پهلوان اوښ برابر شواو دوه غبرګې پښې یې ماتې شوې ، ایله تر چاړه ورسید." دګلاجان په یاد شو چې دملک تارو کورنۍ ده ته څو ځلې داوښ غوښه پخه کړې وه . ملک تارو ده ته حال نه و ویلی . صفدر خان دخواخوږۍ په علامه یو څه غلی و ، " په لارکې خوبه ماینونه نه وو ؟" "موږ چې راتلو ، لارصافه وه ، خو پاس بره ګې ډیرې لرې برې کیدې ، قاری بابا هم ډیرې بیشرمۍ کولې ، خو خدای ترې په لږو روپو خلاص کړو. تاسو څنګه ؟" تارو اکا وویل ، " نه ، په لار کې خیر خیریت و او په غزنی خو شپه په شپه واوښتو ." صفدر خان ګلاجان ته وکتل ، " بس نو بیا ستړی مشې ، خوبه لار کې به ډیر زحمت درباندې تیر شوی وی . څنګه و رازیک ، لا هم هماغه جوار ګری وه ؟" ګلاجان وویل ، " رازیک ښه تکړه و . بیانو له کټ نه کوز شو او خپل بکس ته لاړ، یو پنډوکی یې ترې راوایست ، بکس یې بیرته قلف کړ ، پنډوکی یې دصفدر خان په کټ ، هغه ته مخامخ کیښود. صفدرخان

هغې ته سرسري شان وکتل او بيا يې دتارو اکا سره خبرې شروع کړې . ګلاجان پوه شو چې صفدر خان داحمدزو دمشر په حيث بايد هم په ظاهره کې ځان نانګاره اچولی وای او چا يې ليوالتيا نه وای ليدلی . په امريکا کې به چې خلکو ده ته تحفې ورکولې، ده هم دشرمه نه پرانيستلې،خو هغوی به بېره وربانديې کوله ، "خلاص يې کړه ." په خان آباد کې به چې چا جوړې يا جامې راوړلې نو کور به يا کوربنې به هيڅ ورته کتل نه ، چې ميلمانه به لاړل ، نو کور به يا کوربنې به په بېړه ، مخ ديواله ته واړاوه او غوټه به يې پرانيستله . تارو اکا ګلاجان ته وويل، "هلکه مور خودې په دې دومره کمالاتو نه ووخبر ، وايي چې پوزه يې خاخې ، بلا ترې پاخې. ماته خودې کل هم ونه کړ ، هسې دې ځان راته ساده ګی کاوه ." صفدر خان چې دګلاجان وارخطايې ليده نو خبره يې واړوله ، " سر کال خدازده چې دګوماو او آبول بازارونوته لاړ شو ، بس هر چيرته جنګ تالان روان دي." تارو اکا وويل ، " ګوماو او آبول خو دهزاروو منطقې دي ، داوريدو د قراره په کابل کې سيد رازم ( صدراعظم) کشتن يې بولی که همداسې کومه بله بلا ، خو اصلي نوم يې علی سلطان دی ، کمونس دی ، هزاره دی ، نونه دوی په وروسانو غرض لري او نه وروسان په دوی ." صفدر خان وويل ، " داسې به وي ، خو اوس ايرانيان رابهيدلی دي . چا ويل چې هر چيرته ، داذان په ځای اوردې قولې وباسي ، بس تورې پګړۍ نرۍ عينکې ، خلک په اوغان پسې ورشکاري ، بې هغې هم دهزاره وو ،ان داودرامانخان دوخت نه دکوچانو سره جوړه نه ده ، وايي دموچی خونه بې هغې هم خوساوه چې باران پرې وشو نور بوی يې هم وايست ، نو ويريږم چې مرګ ژوبله رانشي . " محمداجان سوال وکړ ، " دا آبول اوګوما ويې بيا څه شی دی ؟"صفدرخان تارو اکا ته وويل ،" ته خوچاته غر وکره چې دوړی راوړي ، تاسو به وري يئ !" تارواکا پاخيد دصفې دژۍ نه يې چاته نارې کړې " نرسو لا، های نرسولا " بيا يې غږ کړ ، په دريم غږ يې خواب راغی " درخوړسومه !" صفدر خان وويل ، " دادکوچانو بازارونه دي ،دکوچانو هم نه ، دهزاره وو، ترکمنو ، ايماقو او کوچانو لوی بازارونه همدا دي . آبول دهري رود سهيل ته ، دبندبيان کوز اړخ ته ، دچغچران نه ديوې ورځې مزل دی ، ګوماو بيا دهري- رود قطب ته په اجرستان ( غرجستان) کې دی . داستاسو کتغنی کوچان ،

درانی هم هماغلته راځی . زما ورور مامورزا لوغان په همدې دورانیو کې خیښي وکړه او بیا اوس په کندوز کې میشت شو ، کوچانی ژوند یې پریښود، هماغلته مامور دی ، زما زوی رازیک جان او لور دواړه دهماغه په کور کې لوی شوي دي او یو څه لیک لوست یې هماغلته په مکتب کې زده کړی . کله کله زه هم ورځم ، دترکستان پریمانی ماهم لیدلې . " محمداجان وویل ،"نوولې هماغلته زمکه نه اخلې او ده شین کیږې نه ؟" صفدر خان تارو اکا ته وموسل ، " څه وایې؟ " تارو اکا وویل ،" دمړې ګیدې پاړسې ." په همدې کې ډوډۍ راغله دصفې په مینځ کې یې یو لیمځی وغواړوه او تول ورکوز شول . دصفې لاندې د چینې نری لښتی کوز بهیده ، لاسونه یې پکې پریولل . ګلاجان غوښتل دخپل بکس نه صابون واخلې خو په خپل نیت پښیمانه شو . تولو په ګډه په دوو لویو ښانکو کې ډوډۍ وړه کړه ،بیانرسولا دیوې بلې تتۍ نه کورت ورتوی کړل او دیوې ارکارې نه یې غوړي پرې وروجغول . دګلاجان په تالو کې په اول ځل دلس کاله پخوا وطنی خوراک خوند غوتۍ وسپړدې . پس له ډوډۍ دماسپښین داوداسه ، لمانځه وخت شو . امامتی پخپله صفدر خان وکړه . ګلاجان تر اوسه هم نه پوهیده چې هغه به سواد لري او دده خط به یې خپله لوستی وي .

تارو اکا تر لمانځه وروسته لاړ او نرسولا ګلاجان او پلار یې یوې کیږدۍ ته چې صفې ته نژدې وه بوتلل . دشپې ډوډۍ هم پلار او زوی یوازې وخوړه . نرسولا ویل ، صفدر خان کوچانو کوز مرکې ته بیولی دی .

په بله ورځ صفدر خان مخکې ، نرسولا، دچایو دپتنوس سره ورپسې دمیلمنو حجرې ته راغلل.بهر هواله سړه وه ، بیګایو څه باران وریدلی و . دشودو سره پوځه او کوچ هم وو چې دتناره د تاودې ډوډۍ په سر ویلې کیدل . نرسولا یې په سر بوره دوړوله ، اول یې خان ته او بیا میلمنوته ورکړه خوخان خپله ډوډۍ محمداجان ته ورکړه ، " زوروره میلمه او کوربه خو پیژنه کنه !" پس له چایو ، خان وویل ،" نرسولا ، دازلمی درسره میږو ته بوځه ، زړه به یې تنګ وي، زه و محمداجان خان به دلته مرکه وکړو ." ګلاجان خپل پلارته وکتل، هغه ورته په ډاډګیرنه موسک شو ، " خان صیب رښتیا وایې ، څه دبوډاګانو په شان په کیږدۍ کې پروت یې ، ځه ورځه دکوچانو ژوند وګوره." بیا پاڅېداو دنرسولا پسې له کیږدۍ وووت .

# دویم څپرکی

نرسولا او ګلاجان دصندرخان دکیږدیو دپینډې تـر څنګ روان وو . دیـوې کیږدۍ مخې ته یوه نجلۍ ولاړه وه او له لیرې یې دوی ته کتـل ، خوګلاجـان پوهېده دا امریکا نه ده ، نو لاره یې ورکړه نه کړه او همداسې وریـب دنرسـولا پسې ، غره نه کوز دښتې ته ورښوېږده .

شیطان ورته ویلې چې یو ځلې خوشـاته وګوره خـو ګلاجـان پوهیـده چـې دټولو کیږدیو نه خدای بلا سترګې دده څار کوي او دپښتنو هغه دود ور په یـاد شو چې که دې ښځه مخې ته راغله نو هر څومره دې چـې زړه وي نیغ ورتـه کتلی شې ،خو چې ترې تیر شوې او بیا دې شاته ورته وکتل ،خون دې په خپله غاړه . کوز په دښته کې څو سترګې لګیدلې تـورې رمـې وې . ګلاجـان پوښتنـه وکړه ، " داټولې دخان دي ؟" نرسولا وخندل ، " دولس کـوچـان پکـې شـریک دي." ګلاجان وویل ، " ماته ټول یو شان ښکاري ، دا بیا څنګه بیلوئ ؟" نرسـولا وویل ، " هره میږه خپل بچی پیژني او هر کوچی خپله میږه دبینادمانو په شان ، په بوی په رنګ ، په غوږو ، هر مال هم له بله بیل دی ." ګلاجان نه قانع کېده ، " بنیادمان خو نوم لري ، ژبه لري ؟" نرسـولا کـټ کـټ وخنـدل ، " میږه هـم غږیږي ، خوته یې په لوز نه پوهیږې . پاتې شو نـوم ؟ راځه !" یـوه میږه یـې را ایساره کړه ، دغوږ په څوکه یې د چاکونښه وه ، " په دې باندې دتارو اکـا نـوم لیک دی . " ګلاجان یو څه خجالته شو . نرسولا وویل،" هغه سپی وینـې ؟ چـې سترګې پټې ، پروت دی.ته وار وکړه ." بیا یې نو یوه میږه په شا کړه او هلته لرې یې یوې بلې رمې ته یووړه او خوشې یې کړه .ناڅاپه د وریو بغارشـو ، دتارواکـا سپی را پاڅید ، په تراټ ، هغې بلې رمې ته ورغی او خپله میږه یې په منډو منډو تر هغې ځغلوله چې بیرته خپلې رمې ته راغله . سپی بیرته پریووت اوسترګې یې پټې کړې . نرسولا ګلاجان ته وکتل ، "پوه شوې؟" ګلاجـان وویـل ، " بـس منـم دې ." یو وړوکي هلک خپل ډانګ ته تکیه وهلې وه . نرسولا ورغږ کړ ، " هلـه ، خوټې ، منډه کړه ، یو تالی راوړه ." هلک لاړ او دلرې کیږدۍ نه یې دلرګي یوه کاسه راوړه . نرسولاورغی یوه میږه یې په کـې راولوشـله ، دشـودو نـه لابـراس خوټ چې ګلاجان ته یې ونیوله ، ګلاجان هم بې غمـه پـه سـرواړوله ، یـو څه خوږه لوړې لګیده .

ماسپښين مهال چې بيرته پاس وختل ، نرسولا لاړ چې ګلاجان ته ډوډۍ راوړي.محمداجان يوازې په کټ ناست و ، ګلاجان پلارته کتل خو هغه لګياو ، په يوه چاقوېې دپښو نوکان نيول ګوز په دښته باندې دوو ټپوسانو درمو او شنيلو دپاسه دورې کولې، يو کارغه هم ورپسې روان و او کله کله به يې په هغو باندې غوټې کولې ، دګلاجان هم تلوسه وه چې خان به يې پلارته څه ويلي وي او هم ويريده چې کار خراب شوی نه وي . پلار يې وويل ، " لکه چې کار مشکل شو ." ګلاجان چې په عمر کې يې داسې موضوع دپلارسره څه چې دهيڅا سره نه وه برسيره کړې ، دشرمه سور شو خو دزمري زړه يې په ځان کې ځای کړ ، " څنګه؟" محمداجان وويل ،" دخان دبوجه زما پلارهم نشي وتلای" ګلاجان وويل ، " دپيسو خبره ده ؟" محمداجان وويل ، " يوه خو داده ، هغه دوه جريبه زمکه چې ماورته ګرو کړه ، په هغې کارنه کيږي . تاخوبه هم يو څه راوړي وي ، که نه ؟" ګلاجان موسک شو ، " ابا، نو زمکه دې ولې ګرووله ، ماسره پيسې پريمانه دي ." محمداجان وويل ، "څومره؟" ګلاجان وويل ، " بس پريمانه ، ته غم مه کوه ." پلاريې چاقو بيرته بند کړ ، " نو ، بس راويې ګنه !" ګلاجان صفې ته نژدې کيږدی.ته لاړ ، ديو واړه بکس سره بيرته راووت . " هن، شل زره ډالره ." پلار يې چې دلوټونو بنډل ته وکتل نو يو څه په مايوسۍ يې زوی ته وکتل ، "بس همدايو بنډل ؟" ګلاجان کټ کټ وخندل ، "ابا ، دا دامريکا پيسې دي ، ډيرې درنې دي ، خان يې په قدر پوهيږي " محمداجان لا ټکنی و ، " دانوڅو افغانۍ شوې ؟" ګلاجان وخندل ، " څه ورپسې سرخوروې ابا، داسې يې وګڼه چې سل جريبه ځمکه پرې اخيستلی شې ." محمداجان وغوړيد ، "بس نو کاروشو ، خو اوس يې بل دنامسلم باچا شرط ايښی دی . " ګلاجان وويل ، " نور څه غواړي ؟" محمداجان وويل ، " وايي ، نجلۍ دې امريکاته نه بيا يي ، په پيښور کې دې کور واخلي ، په ناصرباغ کې يې کوم لوی سرای ، چار ديوالی مونډلې ده ، وايي هماغه دې واخلي او کور دې پکې آباد کړي ." ګلاجان په فکر کې شو او بيا يې وويل ،" دابه هم خدای آسانه کړي." پلار يې وويل ، " ښه شو، ماناته نور امريکاته نه ځې. " ګلاجان وموسل ، " ابا ، ته نه پوهيږې ، خان داکور دځان دپاره غواړي، بس نور يې غم مه کوه ، ورسره ويې منه !"پلار په مينه وروکتل ، " مردارې ستړګې وخورې!"

خان یو څو ورځې نه و ، نرسو لا ویل ،تللـې دی دګوماو بازارتـه ، خـدای دې خیر کړي چې دهزاره ګانو نه ژوندی راووزی . په هغه شپه تـارو اکـا دوی میلمانـه کـړل . اوس نـو دهغـه مـیرمن ، پدمـه ، دمیلمنـو سـره ښه بلـده وه ، دګلاجان نه یې دکاپروشین سترګو پوښتنې کولې . ګلاجان به هم خپـل ځواب د هغې دسات تیری دپاره نور هم رنګین کړ ، ټولو به وخندل خـو محمداجـان به زوی ته بد بد وکتل . پس له ډوډې پدمې دخپلو پوښتنو لوری بدل کړی و ، "ګلاجانه ، ولې دې هماغلته کومه ببرسرې نه کوله چې اوله دې بسلمانه کـړې وای او بیا دې نکاح ورسره ختلی ." ګلاجان وویل ، "ورکې که دکار شـی پکـې نه و ." پدمې وویل ، روهیلې خو نـورې کیسـې کـوي ." ګلاجـان غلـی شـو ، وایي، دهغه ځای خلک داسـې پیمخـې دي ، لکـه ښاپیرې "ګلاجـان وویـل ، "ښاپیرې نه ، سرې بیزوګې." پدمې خبره نه پریـښوده ، په روهیلـې خوبـه دې سترګې نه وې سرې کړې؟" ګلاجان پلارته وکتل هغه وویل ، "نه بابا ، داحمدزو سیالی څوک پوره کولی شي ؟" پدمې وویل ، "دارښتیا ده خوزړه چې مین شـي بیا سړی اور اوبوته ځان اچوي ." تارو اکا وویل " ته نو زیاتی غلې سه ، میلمانه مه ځوروه ." خوپدمه ابې نه ایساریده ، " ته هسې ځان نـانګاره اچـوې ، ټولـې کیږدې پرې خبرې دي . زه خو پرې خوشاله یم ، خوکه خدای دا ماملـه خرابه نه کړي ." تارو اکا وویل ، " خرابی په څه کې ده ، ګلاجان ښایسته زلمـی دی ، احمدزی به نه وي خو پښتون خو دی ، په امریکا کې به یې کار بار جـوړ وي ، نو خرابی پکې چیرته ده ؟" پدمې ابې وویل ، " هسې ماسره سودا وه چې خـان نور اګر مګر پکې راونه باسي ." تارو اکا پـه خنـدا وویـل ، " نـو تـه ولـې سـودا کوې؟" پدمې ابې ګلاجان ته وکتل ، " داتور سکاڼ داسې راته خـوږ ډی ، لکـه خپل ورور. ګلاجان له شرمه سور شو .

تارو اکـا موضـوع واړولـه ، " هلکـه ګلاجانـه ، راځه چې لاړشـو ، دغـرڅو ښکاردرباندې وکړم." ګلاجان وویل ، " زما دلینـدې سـره ښکـار زده ، دتـوپک ښکار مې نه دی کړی ." تارو اکا په تعجـب وویـل ، " داڅنـګه کیـدای شـي ؟" محمداجان وویل ، "رښتیا چې موږ کتغنیان چندیانې دتوپک شـوق نـه کـوو .زه خپله ، میرګن نه یم خودلقې په جنګ کې یوڅه دتوپک سره اشنا شوی وم، هغه مې هم اوس هیر کړی ، هغه وخت دنباله پورتوپکونه وو چې ازبکو ، ملتیق بالـه

او دابراهیم بیگ نه یې ولجه کړې وو."تاروا کا پوښننه وکړه ،" دابیا څوک و ؟"
محمداجان وویل ،ابراهیم بیگ دازبکو یو مشر و چې یاغي شوی و ، دبلشویک سره یې په جګړه کې ماتې خوړلې وه او په بدخشان افغانستان ته را اوښتی و ، هغه وخت هشت نفری وه ، مانا په اتو کسانو یو عسکر . زه په همدې کې عسکری ته جلب شوی وم او دابراهیم بیگ سره مو جګړه کوله .شاه محمود خان وزیر دحرب و ، لکه چې روسانو ویلي وو چې افغانستان دې ابراهیم بیگ ته پناه نه ورکوي او حکومت هم منلې وه او موږ یې په ابراهیم پسې لیږلی وو. هماغلته مې دټوپک چل زده کړ، خو موږ په کتغن کې چندیانې دتوپک کسب نه کوو او چاچې داصلي ځای نه راوړی وي هغه ټول زنګ وهلی او لوګو تور کړي دچت نه سرپه خیرې خوړند دي ." تاروا کا وویل ، " راځئ یوه تماشه دروښیم !" دوی یې یوې بلې کیږدۍ ته روان کړل . په کیږدۍ کې یې نیالیچو او لیمڅیو دډیرۍ له مینځه یو توپک راوایست ، "داکلاشنیکوف دی ، روسان په همدې جنګ کوي ، دایې چینایي ساخته دی ." یو بل یې راواخیست ، " داشل ډزی دی ، نورخوښه دی خو دروند دی ." همداسې یې پسې تومانچې او نور نوي نوزی توپکونه را ایستل . دیوه بل کونج نه یې له یوې متۍ ، دناک په اندازه تور غونډاري راوایستل " دې ته ګرنیټ وایي ، بس لاسي بم دی ، داکړۍ وینئ ؟ داپه یوې ستنې پورې نښتې ، چې ستنه راوباسئ او داشي اړتاو کړئ نو بیا زورور بم دی ." محمداجان کلا شنیکوف توپک دې خواهاخوا اړاوه ، یوځلې یې دکیږدۍ نه بهر یوه میږه په نښه کړه ، خو بیا یې بیرته توپک تارو اکاته ورکړ ،" داخودې لوی میخزین جوړکړی دی ، په دې څه کوې ؟" تارو اکا وویل ، " وسله ښه ده ، دنارینه وو ګاڼه ده ، ګلاجانه هسې دې عمر بې دتوپک دنیشې تیر کړی دی . داس سپرلي څه کوې ؟ خپل دښمن بوټ راواړوه ."

## دریم څپرکی

یوه هفته تیره شوه خود صفدر خان درک معلوم نه و . ګلاجان ترور و ، ډیر یې زړه کیده چې یو ځلی یې روهیلۍ لیدلې وای ، خو امکان یې نه و . تارو اکا به هره شپه یاد دوی کیږدۍ ته راته اویا به یې دوی وربلل . بده یې لا داچې هره ورځ به بره ګۍ کوز د بهسودو په ښار الوتلې، ددوی دغره په لمنو به

يې هم دورې کولې اوبيا به ورکې شوې. يو سهار وختي ، صفدر خان بيرته راستون شو ، دچاى پهٔ وخت يې ويل ،" دبازارونو خوندهٔ نه وه ، هزاره گان کوچانو ته برگ وو، جاسوسان هم ډير وو ، داسې خلک چې موږ پخوانه ووليدلې ، لرو برکيدل ، بره گي هم ډيرې الوتې ، په دې مو امنا وکړه چې زياتي نو دهزاره گانو خبره ، " او کابل گنده شده .." صفدر خان دتارو اکا نه پوښتنه وکړه ، " ميلمانه خو به نه وي درنه خپه شوي ؟" محمداجان وويل ، " نه، سات موښه تير شو ، دتارو اکا ميخزين مو وکوت ." تارو اکا وخندل ، " د خان چې وگورې ، زما به درته دلانځکو ننداره ښکاره شي . " صفدرخان وويل ، "يره، نور دلته هم گذران مشکل دی ، لکه چې دکوچاني ژوند نه لاس په سرشوو." محمداجان وويل ، " په دې لالهانده ژوندکې مو څه ليدلي ، ما وويل ، په کندوز کې به مسته زمکه درته واخلم ، پاتې عمر به مو اوبه په نس کې تاودې شي . " صفدر خان په جدي‌لهجه وويل ، " محمداجان خانه ، ته دکوچانو دعيش نه څه خبر يې ؟ بس په يوه ځاى ، لکه جاى بند غويان پراته يئ ، هماغلته زرغونيږئ ، هماغلته مرئ . کوچانى ژوند يوازې دشودو او غوړو تنده نه ده ، يو قسم ته آزادي ده ، دخداى دزمکې پيژندل دي . موږ دزمکې سينه نه خيرو ، څه چې خداى دزمکې نه راوباسي ، بس په هماغو شومه کوو . زما ورور اوس دزمکې بنده دی ، سبا به دزمکې بنديوان شي ، زمکه به ميراث خورو ته پاتې شي . زمکه دخداى ده ،بل بنی بشر دهغې مالک نه دی ." محمداجان وويل ، " دا اوښان او ميږې هم دخداى مال دي ، تاسو به ترې ځئ ، دوى به پاتې وي."

صفدر خان وموسل ، " بيغمه اوسه ، که ميږه ده ، که اوښه ټول زموږ پسې راروان دي. خو زمکه به پاتې وي او زميندار به يې په نس کې ننوزي ." گلاجان دبحث داړولو کوشش وکړ ، " نو اوس ، ستاسو فيصله څه ده ؟ بيرته هوارې ته کيږئ او که پاتې اوړى همدلته تيروئ ؟" خان وويل ، " نه ، بلې هفتې ته بيرته ځو . يو څه ميږې مو په آبول کې واخيستې ، هغه چې راورسيږي، بيا نو کوچ دی.

په هغه شپه ، لکه چې دپلان له مخې وي ،گلاجان دتارو اکا سره سم بل کوچي‌کره په ميلمستيا لاړل،او محمداجان د صفدرخان سره پاتې شو . پس له

دوړي خان ووېل ، " دايوه هفته مې په آبول کې ستا په جرګې فکر وکړ . ته خپه نه شې ، ګلاجان ښه سنګين او پوه سړی معلوميږي . مادرته حال نه دی ويلی ، خو رازيک جان هم په خطونو کې دهغه صفت کړی او دخپلوي اشاره يې رسولې وه ، نو ګويا هغه هم راضي دی . روهيلی خو يې نه وايي خو دمور دقراره يې ، لکه چې هغې هم په امريکا کې ورسره ليدل کتل کړي . که دپيسو خبره وي خو زه ښه خبر يم چې ګلاجان دختکو ښه مست تجارت روان کړی دی . خو زه پکې زړه نازړه يم . خپه کيږې به هم نه ! " محمداجان ووېل ، "نو ولې ؟ مور درته سيالان نه ښکارو ؟ بيشکه چې احمدزی زموږ ستانه ، زموږ مشران دي ..." صفدرخان خبره ورغوځه کړه ، " نه ، دسيالی خبره نه ده ، پښتانه ټول يو مني دي ، نيم مني پکې مه غواړه . زما دې ته سودا ده چې نجلی هم درازيک جان په شان رانه ورکه نسي ، بل اولاد خونه لرم ، بله دا چې که خدای دا بلاوې لرې کړې ، نو زموږ ژوند خو تاته معلوم دی ، شپه موپه ميرتون ده . اوس يې پرېښوداى هم نسم ، دملک بابا وصيت و چې قام به سره يو لاس ساتم . خدازده چې زما دلاسه پوره ده که نه ، خو بنده دخپل کوشش پورې ګرم دی . نو نمت مې دادی چې نجلی همدلته په خپل قام کې خوندی کړم ، رازيک جان هم را وغواړم او بس کوچانی ژوند دی ، نن دلته سبا هلته ، تيروو به يې ، قام به هم پيغورونه نه راکوي ، چې نجلی دې هم پردي ته ورکړه او هم دې پردی له لاسه لاړ . که ګلاجان سل وارې وايي چې په پيښور کې پاتې کيږي ،خو زه چې دده دکار و بار نه خبر يم طاقت به ورنسی او ظلم هم دی چې دده کارتيار جوړ دی او زه يې وربانديې ورانه کړم ."

محمداجان ووېل ، " سودا په رضا ده ، خپله لور دې ده ، خپله خوښه دې ده، ماخو خپل زوی درته پيشکش کړ ، ستاټول شرطونه مې ومنل ، چې ته يې نه قبلوې ، نو تيره په خپل ځای درنه ده ، مور ته رخصت راکړه ، سبا درنه روان يو." بيانو ډير وخت خاموشي وه . دواړه په فکر کې وو . په همدې کې ګلاجان او تارو اکا دميلمستيا نه راستانه شول .

په هغه شپه پلاراو زوی تر نيمو شپو دزړه خواله وکړل او په آخر کې ګلاجان ووېل ، "ابا ، نوره نو يوه لويه تيره پرې راواړوه او سبا ته به له خيره پيښور ته روان شو ، بيا به يو څو خورې شپې سره تيرې کړو ، زه به دې کاغذونه سره سم

کړم ، ویزه به درته واخلم او بدر به دې امریکاته بوزم . زه بې هغې هم چندیانې په دهقانۍ نه پوهیږم ، هسې دړندو په ښار کې یو سترګی باچاوي ، ته به هر څه راته سم کړې. دصفدر خان خبره هر ځای دخدای زمکه ده ، بس هماغلته به سره ګډ اوسیږو ، چې ملک ته مو خدای رڼا راوستله ، بیرته ځو او ګروکړې زمکه دې اور واخلي ، د چاخبره نیم کندوز به درته واخلم."
محمداجان وویل ، "سمه ده ، اوس نو بچیه ویده شه چې سبا اوږد مزل لرو، رښتیا دلارې پوښتنه به کوو چې په کومې پوستې برابر نه شو ، خو دسبا کار به سبا کوو ، مالمونځ نه دی کړی، بس ته ویده شه ." چې ګلاجان بړستن په سر راکش کړه ، محمداجان په مینه ورته وکتل ، ورغی او دبړستنې پیڅکې یې دلیمخې لاندې ټینګې کړې او په کرار غږ یې ویل ، " چې بچی مې دییلاق ساړه ونه وهي ." ګلاجان سرله بړستنې وایست او پلارته یې وموسل .

## څلورم څپرکی

بره ګی له لرې ښایسته ، ښویې ښکاري او غږیې هم نرم او یکنواخته وي ، خوله نژدې بیخي بل وړ وي . ټول دا وسپنې سیخونه ، مردار رنګ ، څه دپسرلی دخوشایانو په شان شنه ، څه خیرن تور ، غږ یې یوه بلا ، هغه شمال او سیلۍ چې شاوخوا ترې تاویږي او دوړې په هوا کې هغه یې لا بله بلا . پیلوټ یې ، لکه میږی ، دوسپنې ټوپۍ په سر برګه تنګه کورتۍ ، تور ملاوستنی چې توره تمانچه ترې راځړیده . پلار او زوی دکیږدۍ له وره ورته کتل چې دصفدر خان او تارو اکا سره غږیږي . محمداجان دسفر بکسونه په یوه خره باندې چې دلارښود کوچي سره یې یو ځای کرایه کړي ووټینګول . یوڅه ډوډۍ ، خواړه چې نرسولا بیګا شپه ورته راوړي وو په خره باندې سر باري کیښود ، بیا یې په خریداری نظر ورته له لرې وکتل چې با رټینګ او اندول برابر دی که نه ، یو څو ځلې یې نور هم بکسونه سره ومنجول، پړی یې ټینګ کړ، دکټې پیاړمه او تانګ یې سره راښکل صفدر خان لا هم دهلیکوپټرې دپیلوټ سره په کوم جدي بحث لګیا وخو غږ یې دومره جګ نه و چې دوی ته ورسیږي . محمداجان او ګلاجان یو څه انتظار وایست او خانونه یې دخره او دخپلو دشاپیټو سره مشغلول چې که خان خدای پامانۍ ته وزګار شي .

تارواکا راغی او دوی ته یې دتګ اشاره وکړه ، محمداجان او ګلاجان ورسره روان شول . کوچې ددوی تر شا خر دصفې نه مخ په دښته روان کړ . دوی چې له صفې کوزیدل صفدر خان پرې غږ کړ، " ځنګه بې خدای پامانی روان شوې ؟" بیا یې دپیلوټ سره څه وویل ، او دوی ته راغی . په کراره یې ګلاجان ته وویل ،" زه خودلته په مشالفت اخته سوم، نو دابنه سوه چې تاسو پښې وباسئ ، دروس په بچیانو اتبار نسته ، که خبر سی چې ته دامریکا نه راغلی یې ، تاته به هم بلا بوته کړي ؟" ګلاجان وویل ، " دوی ولې راغلی ؟، ستانه څه غواړي ؟ صفدرخان په ټیټ غږ وویل ، " کابل ته ، که شوروی ته ، که خدازده کوم دکاپر ملک ته مې بیا یی . نجیب رالیږلي دي ." ګلاجان وویل ، " که په زوره دې نه بیا یی ، نو ورسره مه ځه !" خان موسک شو ، " چې دزور خبره نه وای ، نو بیا دهلیکوپترو سره ولې راتلل . نه وینې چې پنځه کسه برچه پک نور لا هماغلته په بره ګی کې دده امر ته تیار ناست دي ؟" ګلاجان تارو اکا ته وکتل او بیایې وویل ،" پنځه توپک والا نوځه دي ؟" مګر خان نور مهلت ورنه کړ، " بس ځئ ، الله مومل ." بیا یې ګلاجان ته وکتل ، غاړه یې ورسره ورکړه ، "ته ښه تکړه ځوان یې ، خوخدای به مودخپلوی نصیب نه وکړی . رازیک جان ته به زموږ ډیر سلام وایې او ورته وایې به چې بخت وشنې ، که پلار دې له دې دړکې ژوندی راووزي ." ګلاجان ، محمداجان او تارو اکا دصفې نه کوز او کوز مخ په دښتې ورشیوه شول .

تارو اکا ډیره لارددوی بدرګه وکړه ، بیا یې کراه کړي کوچې ته هدایت ورکړ چې په کومو لارولاړ شي او چیرته شپه وکړي . دخدای پامانی په وخت کې محمداجان وویل ، " تارو اکا ،د خان ددې ماملې نه خو ماته دوینو بوی راغی ." تارو اکا وویل ، " ښه نو ، خیښې همداسې وې ، کله کیږي اوکله نه کیږي ، تاسو مه خپه کیږئ ، دوینې دبوی خبره مه کوئ ." محمداجان وخندل." دخیښی په خبره خوموږ بیګالویه تیره کیښوده ، هغه مې نه ښودله . زما مطلب ددې هلکوپترې راتګ او ددوی ګواښونه وو. زه په دې کې دحکومت کوم چل وینم ، چې صفدر خان ته کوم ضرر، خدای مه کړه . ونه رسیږی . " تارو اکا وویل ، " نجیب هم ځان په احمدزو کې ورګډوي .ځوځلی نور یې هم په صفدر خان پسې احوالو نه لیږلي وو، خو هغه ډیر سخت ځواب

ورکړی و، ویلي وو چې تا داحمد زو پوزه په روسانو غوڅه کړه ، نورتـه د هیڅـا زوی نه یې . خو داخلي یې وسله وال سړي راليږلی او که بویې تـه والله اعلم که نور دژوند څکه وکړي . دایې تاسو سره پښتو وکړه چې رخصت یې کـړئ او که نه تاسو هم پکې لتاړوئ " ګلاجان وویل ، " هغه بله ورځ دې دوسلې په بـاب څه ویل، " تاروااکا وویـل ، " مـا ویـل دنارینـه ګانه ده ." ګلاجـان وویـل ، " نـو داګانه، داپسول به کومې ورځې ته ساتې ؟" تارو اکا محمداجـان تـه خیر شـو ، "څه بلوارابانديې جوړوې که څه بلا ؟" محمداجان وویل ، " تاسو دپنځو وسـله والو دمقابلې نه یئ ؟" تارو اکا په خپلې سپينې ږيرې لاس تیر کړ . " تر کسـتانیه ، دومره سره یې مه خوره." بیا یې له ډیر ځنډ فکر وروسته وویل ، " بـس چـې یـو ځلې تاسو په خیریت دکنډونه واړوو، یو فلان خو به ورته جوړ کړو." محمداجان خپل زوی ته وکتل چې په تعجب پلارڅاري، بیا یې وویل ، " ګلاجانه ، لکه چې زموږ شپه دهندو لاندې شوه . تارو اکا ، ته خو ، ابی ته وایه چې ترخـې چـایې راجوړې کړي ، ترکستانی خوچای ناخورده جنګ نشي کولی ،نو بیا بـه داسـتا فلان جوړ کړو. خو اول به خان ته احوال کوې چې په هر رقم کیږی، خپل ټګ به تر سبا ځنډوي، که نور نه شو نو پیلوټ اوملکري یې ټول میلمانه وساته . "

## پنځم څپرکی

په همدې وخت کې ،هلته دصفې په سـر ، صفدرخـان او پـرچمـی پـه دوو کټونو څنګ په څنګ ناست ووخو خبرې یې دیارانې نه وې تریخ بحث روان و.

- په دې خونه شو چې نجیب الله به خپـل قومـی بولـې او زمـوږ پـښې بـه وهې.

- مادرته وویل ، چې په هغې ماملې کې زه نـه وم ، هغـه داشـرارو او تاسـو ترمینځ وه او کوم جاسوس به خبر ورکړی وي .

- هو ، زه هم همدا وایم ، خو دا جاسوس ته وې .

- داخودې ډیره سپکه خبره وکړه ، ډیرسور او شین کیږې ، ډیر بربړوایې !

- داخکه چې دخلکو زور راسره دی ، دخلکو زور دخدای زور دی .

- زه دتاسره دبهسودو دنګ نه نه ویریږم، خو وایم دلاس غوټه په غاښوولې خلاصوئ .

- صفدره ، زما سره دومره وخت او دومره حوصله نشته چې دلته درسره پنج وشش وکړم . بس پیګیر صیب غوښتي یې او زه دې بیا یم .

په همدې کې دتارو اکا زوی مختیار ستمیدلی صفې ته راوخوت، دپیلوټ پنځه تنه توپک والا دصفې څلورو خواووته برچه پک ولاړو . خان ته یې پټه اشاره کړه . هغه چې ودرید نو سپایانو برچې ورته نیغې کړې خو منصبدار سروښوراوه او توپک والا توپکونه بیرته اوړو ته کړل . صفدر خان او مختیار له صفې کوز شول اویو څه سره وپسیدل . مختیار روان شو. صفدرخان په بیرته راتګ کمزورې موسکا وکړه ، "زما خیال دی چې دوه اوښان په ماین لګیدلي دي ، نه پوهیږم چې ستاسومایونونه دي او که د اشرار و خو زمااوښان پکې سټ شول ."

پیلوټ وویل ، " چې بدګرځی، بد به پرځی. " صفدرخان په زور وخندل ، "خلقي صیب ، په هر شي لګیږه خوزما داوښانو نه لرې ګرځه ، اوښان خو اشرار نه دي چې ځورلې ورته کوې !" پرچمی په غوسې خبره بل خواته واړوله ، "بس روانیږه چې پیګیر صیب درته منتظر دی ! صفدرخان وویل ، " په تانه پوهیږم خوداحمدزو دود دادی، چې ډوډی دربانده ونه خوري ، دکور نه یې تللی نشي ."

بیا یې مختیار ته چې سپایانو دصفې لاندې کښینولی ورغږ کړ ، " هلکه ته ولې غلی ناست یې ، غرغرې ته خومابیا یې. هله ورځه میلمنو ته ډوډی راوړه !" چې هغه روان شو نو بیا یې ورغږ کړ ،" هغه بل سپایی ته یې هماغلته بره ګی ته یوسئ چې هغه خواره کی ګزمه کوي ." په خپله خان ویالې ته کوز شو او چار اندام یې وکړ ، بیا یې شړی وغوړوله اوپه لمانځه ودرید. سپایانو هم په بیړه اودسونه وکړل او دخان شاته ودریدل . پرچمی په غوسه شو خو سریې ښوراوه او نور یې هیڅ ونه ویل .

## شپږم څپرکی

ګلاجان تارو اکا ته وویل ، " نوره وسله دې ستاوي ، فقط دوه تمانچې او هغه ګرنیټونه راواخله ." پنځه ګرنیټه یې تر ملا وځړول ، " اوس به هغوی په ډوډی لګیا وي ، همدا تره غونی ماښام یې وخت دی . " چې بره ګی ته ورسیدل نو نرسو لاهم هماغلته دسپاهی سره ناست و ، ډوډی یې ورسره

خوړله. تارو اکا په نرسولا په قهر شو ،" هلکه ، دخدای نه نه ډاریږي چې ډوډۍ دې په خاوره ایښې ده ، داځنګه پښتــون یــې ، دمیلمـه سـره سـړی همداسې کوي؟"

سپاهي یې پاخاوه اولړ لړې په یوه جګه یې خپل څادر ورته وغواړاوه ، "بس کښینه او ډوډۍ په کرار وخوره . هغوی خو به خدازده څه پولاوونه خوري خـو ستا په برخه سړې وریژې او مستې رسیدلې دي ، داڅه قسم میلمـه پالنـه ده ؟" سپاهي هم دننګرهار سړی معلومیده ، ویې ویل ، "موږ هم خدای وهـي او هـم موبنده. هم مو اشرار وهي او هم خلقیان، دهیڅ ښې نه شوو. "

تارواکا خوړه مرکه ورسره شروع کړه ، خوپه ترڅ کې یې پـاس د غـره ډډې ته کتل چې دصفې نه څوک راروان دي که نه .

ګلاجان نرسولاته اشاره وکړه او دواړو ځانونه دبره ګۍ شاته ورسول ، هلتـه یې یویودغه پنځه ګرنیټونه دبره ګۍ دوسپنیزو اربو لاندې کیـښودل ، دواړو بـه اربه په اوږو یو څه ښوروله او یوه ښویه ډبره یې تر لاندې کولـه او ګرنیټ به یـې ورباندې کیښوده ، بیا یې بیرته ارابهورباندې راوستله. داکـار سخت و ، ځکـه بره ګۍ درنه وه ، نو دوی مجبور و چې اول دهغې لانـدې ځای یـو څه غـوچ کړي بیا تیره پرې کښیږدي ، ګرنیټ به یې ورباندې کیښود او بیا به یې دتیـږې لاندې نورې ننه ایستې همدومره چې ګرنیټ دتیږې او دبره ګۍ دارابې لاندې ښه مضبوط شي . بیا نو ګلاجان په ځان کلیمه تیره کړه اوپه اتیات یې دګرنیـټ ستنې وښکلې .همداسې په خاپوړو بیرته دبوټو له شاتارو اکا اوسپاهي ـ لمه تـه ورسیدل . تارو اکا وویل ." څنګه شو، کټی مو دمیږې لاندې کیـښود؟" ګلاجـان وخندل ، "کټی نه و ، ډډی و. میږې په اول کې په ښکرواهه خو بیـا مـو یـو څه دمور دپچو غوشایي په ډډې پورې وموښل ، ایله یـې ومانـه ." تـارو اکـا وویـل "دابې پیره شی همداسې تکارې وي ،دبل په بچي پۍ نه راپریږدي ."

هلته دصفې په سر هم د ډوډۍ په سر دپیلوټ او صفدر خان تر منځ موافقـه راغلې وه یو څه یې ډوډۍ مخې ته دریده ، ځکه هغـه هـم پښتـون و اویـوڅه دصفدرخان تجویز ورته معقول ښکاره شو چې دابه کار نه دی چې هغـه لاس ترلی په هلیکوپتر کې بوزی اودتول احمـدزي دښمنـي پـه غـاړه واخلـي . یوڅه دپیکیر سره د خان دپیژندګلو دعوه هم وه . پیلوټ که پرچمی وکه یې په

روسیه کې تحصیل کړی و او د ک ج ب روزنه یې لیدلې وه خـو پښتـون و او پـه دې پوهیده چې دسپین ږیرو اوملکانو سپکاوی ښه نتیجه نه ورکوي . ده تـه دا ارزښتونه مقدس خونه ښکاریدل خو په مارکسستي تحلیـل دهغـو خیـال سـاتلو دده د هدف سره مرسته کوله او هدف تر هرشی مهم و . نویې پس له ډیره فکره وویل ، " خان صیب دخپلو زړو اوسپکو خبرو معـافی غـواړم، هسـې مـې پیشـرو کاوه او که نه ماته خو معلومه ده چې په موږ پښتنو کې ، بیا په تیره په احمـدزو کې چې تیره یې په ټولو درنه خیژی ،دداسې خبرو کول ناروا دي ، خوزه هـم مجبوروم. اوس مې چې ستا نمک وخوړ ، نو همداسې به وکړو .موږ به رخصـت شو ،خوپه دې شرط چې راسره لاس راکړې چې ترسبا غرمـې پـورې بـه ضـرور ولسوالۍ ته حاضریږې . " خان وویل ،" که ژوند و ، نشالا چې همداسې به شی !" پیلوټ پاځید ، په هغه نورو کټونو باندې چـې دده پنځوبـاډی ګارډانـو ډوډۍ خوړله هغوی هم په عسکری بیړه دکټونونه ښکته شول او په داسـې حـال کـې چې دځینو لاسونه لا غوړوو اوځینو شخوندونه وهل ده تـه تیارسئ ودریـدل . پیلوټ ددې دپاره چې خپل جدیت وښیي ، بې له خدای پامانۍ له صفې کـوز شو، یوه سپاهی لاسي برق نیولی سپایان ورپسې ، هلکوپتر ته روان شول . هلتـه محافظ لا دتارو اکا سره په ډوډۍ ناست و ، هغه هم ټوپ کـړ . پیلـوټ وویـل ، "دابوډا څوک دی او چا اجازه ورکړې وه چې هلکوپترې ته نژدې شي ؟" تـارو اکا وویل، " بس ئو یوه مړۍ ډوډۍ مـې راوړه چـې میلمـه وړی لاړ نـه شـي ." ددې سره تارو اکا روان شو ، خو شاته یې میلمه ته وویل ، "بس نـو مـاخو درتـه ست وکړ چې شپه همدلته تیره کړه ، سبا به دې زه پـه اوښ ورسـوم ، خـو ..." پیلوټ خـبر ورغـوځه کـړه ، "بـس نـو ډیرمـه ټتیـره ، سـپاره شـئ ." پـه خپلـه دهلکوپترې چارچاپیره وګرځید اوبیا سپور شو .

ګلاجان اونرسولا لرې په تیاره کې دبـوټی ترشـاپـټ وو، تـارو اکـا چـې ور ورسید نو هغوی کش کړ ، ټول په ګونډو شول .هلکو پتره یو ځلی چالانه شـوه خوبیرته مړه شوه ، بیا چالانـه شـوه او ډیر سـاعت ځای پـه ځای چالانـه وه ، دلوګیو غوړاسکې ترې هره خوا ختلې او پیلوټ ریز ورکاوه چې ماشینونه تـاوده او نلکۍ صافې شی . بیا نو ، داوښ په شان الوتکه سره ومنجیده ، دګلاجان زړه په درزاشو ، هلکوپتره یو څه په هواشوه ،خوبیرته کښیناسته ، بیا جګه شوه ، پـه

همدې کې ګرځ شو .هلکوپتره لږه لرې راپريوته خو ورسره لويه چاودنه وشوه اوټول ملک رڼا شو.

ګلاجان فکر کاوه چې اوس به ټول دکلاشنيکوفونو سره ترې راودانګي اوپه دوی به يې راپريږدي . دوی هم دتارو اکا وسلې تيارې نيولې وې.خو ديوې چاودنې پسې بله هم راغله او دادوسلو د صندوقونو وه ، هرې خواته دمرميو شغهار و. ډيره شيبه پس غږو نه او شغلې غلی شوې، خو هيڅوک راونه وتل ، هماغلته سټ شوی وو. تارو اکا ووېل ، " ارمان مې دمحافظ دی ، ماورته ووېل چې شپه پاتې شی ،خواره کی هسې جلبی عسکر و..." له لرې نږدې کوچان دلالتينونو سره دغره په ډډه راروان وو .تارو اکا ټولوته ويل چې ، نور نه پوهيږو، بره ګی ځنګه اور واخيست ،بس چې په هوا شوه کوم ماشين يې خراب شو که ځنګه خو اور يې واخيست ، البته چې ټانکی به يې اور اخيستی وي." کوچان ژبون وهلی ولاړ وو او دهلکوپترې ننداره يې کوله چې اوس يې هم له ايرو دلته هلته لوګي ختل .

# اووم څپرکی

دصفې په سرتياره کې صفدرخان ، تارو اکا ، ګلاجان ، محمداجان څلور واړه دصفې په دووکټونوچې سره نژدې شوي وو ، مخامخ ناست وو ، دلالټين رڼا يې تته کړې وه . صفدرخان په کرار غږ ووېل ، هلکوتوره خوموکړه ،خوزه مولکه چې په دې قمار کې بايلودم ." تارو اکا ووېل ، " خبره خوورانه ده خو هغوی به داسې ونه ګڼي چې بره ګی موږتباه کړه ، خو بياهم دلته ستا پاتې کيدن نه دی په کار ، همدانن شپه به کډې بارکړو ." خان ووېل ." خطر خوزيات دی ، خوهلته په آبول کې زما تقريباً درې سوه ميږې پاتې دي او که دغو ميلمنو ته نه وي ، تاته خو تارواکا معلومه ده چې کوچي ته ميږې داسې دي ، لکه ناموس ، زه چيرته هغه پريښوداې شم ؟" تارواکا ووېل نو ځنګه چل کوې ؟" دلته خوستاپاتې کيدن ، دچاخبره روانه ځنازه ده ، موږ به هم درسره سټ شو ." صفدرخان ووېل ، " داسې به وکړو چې خدای وکړي. زموږ کډه به دنرسولا،..او ميلمنو سره همدانن شپه رخصت کړو . زه به سبا ته لاړشم ولسوالی ته ، چې هغوی شکمن نه شي ، وبه وايم چې ددوی بره ګی په هوا کې اور واخيست او يا همداسې بله بانه به ورته وکړم، نور نو زما سره څه غرض لري ؟"

محمداجان په اول ځل ځان په خبرو کې شریک کړ، " دانو په لوی لاس ځان لیوه ته ورکول دي ، چې هن دپلار پور دې واخله .دخانصیب پاتې کیدل خوپه هیڅ کتاب کې روا نه دي ." صفدرخان په ټولو نظر تیر کړ او بیا یې وویل، "تاسو زمادپاره توره وکړه ،اوماخوتر اوسه پورې توره نه ده کړې او د خالو بابا پور را باندې دی، که وتښتم نو حکومت تاسو نیسي. "ګلاجان هم زړور شوی و،" خدازده چې نور قام به دې ونیسی که نه ، ځکه دسر سړی ته یې او چې ته وتښتې نو هغوی پوهیږي چې اصلي ګناه ګار ته وې ، په نورو څه غرض لري . خو بیا هم په سلو کې سل سړی دانشي ویلی چې نورو ته به څه ونه وایي.خو که ته پاتې شې نوزما په خیال هم سر لاړ هم سرسر ، ته خولاړې چې لاړې ، دکوچانو نور مشران هم چې دلته پاتې دي خداکه یو هم ورنه خلاص شي . نوزه خو په تاسو کې کشریم ،خو زما په فکر ستا او دکورنۍ دې دلته پاتې کیدل سمه خبره نه ده."

ټول غلي شول . ګلاجان هم فکر کاوه ، شپه په پخیدو وه او که ګلاجان دخانه سره ویل ، " هلکه همدا یې وخت دی ." نو بیا یې وویل ، " زه په تاسو کې هم کشر یم او هم بې تجربې خوکه اجازت وي زه به یو تجویز وکړم. " ټولو ورته وکتل او تارو اکا وویل ، " ډانکټر ګله ته لاورته ګورې؟" ګلاجان غاړه تازه کړه ، " زه وایم خان صیب او تارو اکاو تاسو دکورنۍ سره همدا نن شپه روان شئ ، ابا مې هم دخانه سره روان کړئ پاتې شوه د میږو خبره ، زه به دنرسولا سره لاړشو ، همالته آبول ته ، هماغسې به یې دهر یرود نه واړوو او دګوماو له لارې به د اجرستان نه په غزني او همداسې دقاری بابا په زمکه به خوست ته درواړوو. " پلار یې په تعجب وویل ، " شیطانه ، دانومونه او دا لارې دې له چازده کړې؟" ګلاجان وویل ، " نرسولا ډیر شیان راښودلي دي ." صفدرخ ن سروښوراوه ، " دانو بیغرتی ده چې په میلمه ځان بارکړم. زه پوه شه کارمې ، تاسو همداسې وکړئ ، کورنۍ مې پیښورته ورسوئ ،زه له خیره په میاشت کې ، دمیږو سره در رسیږم ." تارو اکا وویل ، "خان صیب ، راځه چې ددې ځوانکي خبره ومنو، دټولو پکې خیر دی ." بیانو صفدرخان پاڅید او دصفې په سرېې په تورې تیارې کې چکر شروع کړ.ډیر وروسته راغی اوګلاجان ته یې وویل ، " دا دګرنیتو تماشه هم تاجوړه کړې وه . رازیک جان رښتیا ویلي وو ، چې ګلاجان لابله اشا ده !"

﴿۳﴾

# لومړۍ خپرکی

په ایلبند کې سهار اوبه په مخ سرې لګیدې او پیتاوی بدنه لګیده خوږه پیښور کې لا دګرمۍ جوش او دمیاشوبې و . محمداجان دصفدرخان دټینګو ستونو سره سره بیرته دخپلو کتغنی مهاجرو سره په یوه سرای کې دیره شوی و . تارو اکا به ورځ پس ورته راته اوپه هفته کې یو ځل به یې دصفدرخان له لوری ورته ټینګ ست کاوه خو محمداجان یې چندانې پرداخت نه کاوه . نورو ته یې څه نه ویل خو فکر یې کاوه چې ، نور مې څه شیروار درسره دی ؟ په ګلاجان هم په غوسه وچې پوره میاشت لادرکه و . دځان سره به یې خبرې کولې ، "دلوده زویه ، هسې په کلا مکارۍ دې ځان دمرګ کومي ته ورکړی دی . " بیا به یې سرپه پښیمانۍ وښوراوه ، "تو به مې دې وي خدایه ، زما دګلالي زوی او مرګ تر مینځ او ږغرونه ،خوکه نه وایم دغمه یې وایم ، داخه کلا مکاري وه ، هلکه خومیرې دي ، دسرې سرخونه دي چې تابیا دځانه رستم جوړکړ ، هغه هم دداسې سرې دپاره چې زموږ خبره یې سپي ته واچوله . خپل کورته ، خپلو زمکو ته یې بیره وه او هره ورځ یې فکرونه کول چې کوز پټي ته به چاسره ورکړې وي که نه ، چرګی غویی ټوخیده چې اوس به څنګه وي ؟ او دپیښور ګرمۍ هم په مخ سپینکۍ وربانډې خیژولې وې .

# دویم خپرکی

صفدرخان ګلاجان ته ویل ، " کتغنیه تاسو خو پښتانه یئ ، په دې کې هیڅ شک نشته ، او ستا دمیړانې نه نرسولاښه اګاه کړم چې څنګه نژدې وچې دیوې میړې دپاره ځان مرګ ته ورکړې ، خونن به دخالو بابا پښتو او پښتون هو بهو درته.بیان کړم چې سر دې ښه خلاص شي ." ګلاجان او پلار یې په دې سهار

صفدرخان وربللي و ، بلکه یو هفته مخکې یې خبر ورکړی و چې په پلانکی ورځ د خان خاص میلمانه یئ . محمداجان پخوا څوځلې دصفدرخان بلنوته د "نه" ځواب ورکړی و او بهانې یې کولې چې ګلاجان اسلام آباد ته لاړ دی چې دسفر ویزه واخلي ؛ یایې دمریضۍ عذر وړاندې کاوه ، خو داځلې پخپله خان کمپ ته ورپسې ورغی او دوی ته یې بله لار پرې نه ښوده .

پدې ورځ نو دکیږدۍ مخې ته لوی میداني کې څلورو خواووته لیمڅې غوړیدلي وو او چې ګلاجان دغوی ورسیدل نوکوري چې لس شل کسه ، چې ګلاجان پوه شو ، کوچیان دي ، په لیمڅو ناست واوپه جګ آواز یې خبرې او خنداوې کولې. دګلاجان یو اړخ ته په خپله خان او بل اړخ ته یې تارو اکا ناست وو ، پلار یې بیا دتارو اکا بل څنګ ته و .

صفدرخان په لوړ غږ دګلاجان نه پوښتنه وکړه ، "سفر څنګه و ، په لار کې خوبه برګیو اوپاټکونو په عذاب کړی نه وې ؟" ګلاجان وویل ، " نه ، خیر خیریت و ، میړې مې په خوست کې دنرسولا سره پریښودې ، زماتادي وه ، چې بیرته په خیر امریکا ته روان شم ، پیښور ته ستون شوم ..." صفدرخان وویل ، "ښه ،نوته بیرته روان یې ؟"

محمداجان په خبرو کې ودانګل ، " بس نو نور په پیښور موږ څه شنې کرلې؟ زه به خم کندوز ته او دده دې په مخه ښه وي ." صفدرخان وموسل ، " تاسو زوی پلار څومره سره خواږه یئ ، دغږ نه دې پوه شوم چې دګلاجان دبیلتانه ویرکوې ." محمداجان وویل ، " بس نو ژوند دی ، کله ګټه کله بایلات . موږ بله پټپیلې وه ، خدای بله راوکړه ." صفدرخان بیرته ګلاجان ته مخ کړ ، " ښه ځوان یې خو چې احمدزی وای ." محمداجان بیا مداخله وکړه ، " خان صیب ، برخې ازلي دی ، ته احمدزی یې موږ مومند ، ته کوچانی یې موږ ده شین ، ته خان یې موږ خواران . نوره یې ولې دومره شاربې .؟" صفدرخان ، لکه دمحمداجان خبره چې بابیزه ګڼي ، دګلاجان سره مرکې ته دوام ورکړ ، "ګلاجانه تاخوبه زموږ دپلار خالو بابا نوم دتارو اکا نه ډیر اوریدلی وي هغه به تل ویل چې دپښتون په غږو کې یو رګ دی ، په هغې کې کوم قسم شیطان دی که چینجی دی ، هره بلا یې چې بولې خو هلته چیرته پټ دی . دازوی مړی بلا شي په داسې درانه خوب ویده وي چې په آسانه یې څوک ویښولی نه شي .

سلیمان خیل چې په هندوستان کې لرې دې له مخې تې پاکوي ، هم داشیطان نه راوینیږي ، چې پښتون د خوارۍ ژرنده ساتي او دکبره مزدنه اخلي ، هم دازوی مړی ویده وي ، که په جنګ کې یې ګټي او بیا یې هیڅ بې هیڅه بایلی هم ددې چینجي چرت خراب نه وي ، هیڅوک نه پوهیږي چې کله ، خوداسې وخت هم راشي چې داچینجي په غونځیدو شي . خالو بابا خدازده لوستی و که نالوستی خو تل به یې دباباګانو شعرونه ویل او ډیر کله به یې قومی شخړې هم په یوشعر کرارولې . نو یوه ورځ ، دبهسود په ایلبند کې ، چې دهزاره وو او پښتنو جنګ پیښ شوی و ، هغه دهمدې چینجي خبرې په مجلس کې کولې . هغه ویل همدا چینجي په پخوانو بابا ګانو کې - هغه دمیرویس بابا او خوشحال خټک نوم واخیست - په ټولو کې غونځیدلی و. دهغه خبره ده چې چینجي ویده وي ، خیر خیریت وي ، شیرشاه سوری دمغلو ددربار سړی وخو هغه وخت دا چینجي په کې وښورید چې باچا په خپل دربار کې ، په خپلې میلمستیا کې سترګې ورباندې برګې کړې . خوشحال خټک هم د مغلو تنخوا خور وخو چې اورنګ زیب ورته سپک وکتل نو دا چینجي راوکتیده. احمد شاه بابا هم دایران سړی و ، په هغه هم همداکانه وشوه .چې دپښتنو هره کارنامه وګورې دهمدې زوی مړې دکتیدو نتیجه ده . پرنګي دووس بیا په دې رګ خبر و اوتل به یې خپلو خلکو ته ویل ، ویدې بلاوې مه راوینوئ . چې داوشي نو بیا پښتون خامخا وینې تویوي ، خپلې وي که ددښنه ." ګلاجان هم دخان دخبرو دتاثیر لاندې راغلی واو هم حیران و چې داولې کوي ؟ ورو ورو غوړیدلې لیمڅي له خلکو ډکیدل . لرې دغره په ډډه کې دکیږدیو نه دلوګیو غوړاسکی خپریدل . دصفدرخان په اشاره ،ځوانانو دډوډۍ مندې تړړې شروع کړې .دورتو کبابونو او وریجو ښانکونه راشیوه شول ، ځینو میلمنولاسونه لړ لړې په یوه نهر کې پریولل او ځینو هغوی ته انتظار ونه ایښت . ګلاجان دخان ، پلار اوتارو اکا سره په بیل دسترخوان کښیناستل . " خان ویل ،"بسم الله کړئ ، ګلاجانه موږ کوچیان خو دکابلیانو خبره اوغان غول یو، نورپخلی مونه زده ، بس بوتۍ غوښې دې چې سړپوو یې ." محمداجان وویل ، " خان صیب دابیخی پاچایي ډوډۍ ده . "خان ځواب ورنه کړ او ډوډۍ په کراره وخوړله شوه . پس له ډوډۍ دماسپښین دلمانځه اوږدې لیکې جوړې شوې ،بیا په خپله

خان امامتي وکړه . دلمانځه د خلاصیدو سره دمیلمنو بله جوپه تیاره ناسته وه او نور لیمڅي ، په بل میداني کې ورته وغوړول شول . ګلاجان دې ته حیران و چې خان ولې نن یوازې ده سره جمه کوي ، حتی چې دده دپلار په ترخو خبرو خان ناکاره اچوي . د خوراک لړۍ ترلوړ مازیګره روانه وه . لوښی لانه وو ټول شوي چې له لیرې دډول غږ رانږدې کیده . دډول دغږ سره ، همدا میلمانه ، لکه چې بیا لمانځه ته دریږي ، په کراری سره څنګ په څنګ ودریدل، بیا یې کړۍ جوړه کړه ، چې دهر نفردزیاتیدو سره کړۍ لوییده . دکوچانو اتڼ شروع شو .

پاکستانی ملیشه چې چاورته په کوچیانی کمپ کې دبلو او یلي وو دخپلو کوتکو او زړو سرپوښو سره را غلل ، چار چاپیره یې مورچې ونیولې ، په پټه خوله یې ننداره کوله . ډولچي ورو ورو داني ایستلې او په ډیرې لتې یې ورسره قدمونه اخیستل ، کله به یې داتڼ چیانو پښوته کتل او دډول تال به یې ورسره برابراوه . کړۍ به کله په ډولچي را تنګیده ، بیا به بیرته لکه غوټۍ چې وغوړیږي پراخیده .

ګلاجان په حیرانۍ ولیدل چې په پاکستانی ملیشو کې چې تر اوسه لکه وچ لرګی ولاړ وو ،هم خوځیدا پیداکیده . ځینې یې دکوتکو او زړوتوپکو سره داتڼچیانو دپښو دحرکت سره جوخت ځای په ځای منجیدل . ګلاجان فکر کاوه چې دصفدرخان په وینا ددوی په رګونو کې به هم چینجي راغونځیدلي وو . صفدرخان دګلاجان ځیر کیدل ولیدل ، وې ویل : " ماچې درته دچینجي دغونځیدو وویل ، اوس که نور نه وي دپټي سرخوبه وويني . دپټی سور به دې هغه وخت لیدلی و چې داحمدزو برګ اتڼ ، دښځو او نارینه وګداتڼ دې یو وار کتلی وای. دپاکستان په پښتنو کې اتڼ داسې منلی نه دی ، لکه په موږ کې . دلته ځینې قومونه ، لکه ختک ، بنګښ ، وزیر ، مسید ، زموږ په شان په اتڼ مین دي ، خو دانور بیا دپنجاپیانو دتاثیر لاندې دي ، زموږ اتڼ ته بنګړه وايي او په دې شرمیږي چې نارینه بنګړه واچوي ، اکثر دوی داتڼ او دلښتی دنڅا تر مینځ فرق نه ويني ، خوپه دغو ملیشو کې که وزیر یا ختک وي ننداره یې کوه .

بحروبرخان ختک ، دملیشه وومشر ، دخپلو خلکو په دې کړو وړو شرمیده خو پام یې نه و چې په ده هم یو قسم مرموزه سره لړې راتله ، هماغه ویده بلا

يې په ګونو کې راغونځيده ، دزړه په کوم ځای کې يې سوی و ، خو بدنه لګيده . له ليرې ، دوړ کتابه دوخت ، پلرونو دکيسو دوخت چې مور يې ورته دنغرى په خوړلن کولې ، ښکالو راتله .څوپه ځان پوهيده داتې دکړۍ په ژۍ ولاړو ، اول شرم او ډار ، بيانو ، لکه دپياز پوټکی چې يو دبل پسې لرې شي ، دډول غږ او دکوچيانو کرار او حوصله ناکې ټالۍ هر څه ترې هير کړل او ورګډ شو. په همدې کې اتڼ تود شو ، بل ډولچي هم راپيداشو اوداتڼ دايره نوره هم پراخه شوه . سورنۍ اودلاسونو پړقول نه وو کراره کراري وه ، ډول و او داتڼ چيانو ځنې ارتول و ونورو مليشو چې خپل مشر وليد نو هغوی هم ميدان ته ور ودانګل ." صفدرخان له خندا شين و ، " ګلاجانه اوس پکې څه وايې ؟" ګلاجان حياناکه موسکا وکړه او په اول ځل يې په زړه کې دخان سره مينه پيداشوه.نورننداړچيان غلی اوماشومان ژبون وهلي ولاړ وو.دکوچي اوده شين، دمليشه او کوچي فرق نه کيده ، ټول په يوه سور او تال چورليدل. هغه تنظيمی خلک چې د ناصر باغ دکمپ نه دمحفل دخرابولو په نيت رااستول شوی وو ، اوس په دوو کې راګير وو . لويان خوځای په ځای ولاړوو ، خو ځينو ځوانانو يې اتڼ ته ور دانګل .دسپيشل برانچ دپيښور دفتر انچارج چې داسلام آباد د مخابرې په امر دبلوا دختمولو په خاطر په جيب کې راغلی و ، شاوخوا يې وکتل ، بلوا خونه وه خوبده لادا چې هلته په يوه ګوټ کې دمليشې توپک او توپې دلې امباروې ،يکی يو وسله وال يې پيره کوله . دسپيشل برانچ سړی ښنګښ و او دده هم په اوږو خاربښت راغی ،څو ځلې يې زړه ساز کړ چې ورګډ شي ، خو دزړه دبل ګوټ نه به يې ناره شوه ، هلکه پام چې په خوارۍ ګټلی منصب درنه په هيڅ لاړنه شي . په همدې کې دخان سړی راغی او دی يې دميلمنو ځای ته بوته .

دمابنام دلمانځه په وخت اتڼ ختم شو . پس له لمانځه دسپيشل برانچ انچارج صفدرخان ته وويل ، " ماخو دبلوا اوريدلي وو ، دا سينګه خبره شوه چې په بلې بلا واوريدم ؟ "به زورور اتڼ و ، نژدې زه هم پکې کيوتی وم ، خو اوس شپه ده ، تاسو خو به دامحفل نور ختموئ که څنګه ؟" خان ورته وخندل ، "وړيتی صيب ،ختمه يې بوله ، داميله مې ، " بيا يې ګلاجان ته ګوته ونيوله ، " ددغه زلمی دپاره سازه کړې وه . " هغه په تعجب کوز وپاس ګلاجان ته وکتل ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

" نو دازلمی څه کمال لري؟" خان په موسکا وویل ، " هیڅ خو هسې مې ویل یوه ننداره پرې وکړم !" ډپټی لا هم په شک کې و ، " ځوان خوتکړه معلومیږي . خوځنګه دې داسې یو لوی محفل دیوه ، ته وایې بې کماله دی ، دبیکماله دپاره جوړکړ ؟" صفدرخان ، ډپټی هیر کړ ، مخ یې ټولو میلمنو ته چې اوس دپخواپه شان په لیمڅي ناست وو ، وویل، " اې قومه ، زه ددې بې کماله ځوان سره خیښي کوم، تاسو پکې څه وایئ ؟" ټولو غږ کړ "بختور دې شي !" یوه ځوان له شانه وویل ،" خان صیب ، داسې نه شي کیدای . یوځلی به دپهلوان ارسلا سره غیږې نیسي ، که یې لاندې کړنو بیا که ورسره خیښی کوې ، کوه یې او که نه نو ځي دې په خپله مخه ." صفدرخان کټ کټ وخندل ، " هغه دغیږې، دنښې دویشتو او کانې دغورځولو وختونه زیاتیګی تیر دي ." ټولو وخندل او مبارکۍ شروع شوې . ګلاجان ، په خپل عمر کې په اول ځل ترور شو او پلار ته ورغی ، بې هیڅه یې دهغه لاسونه ښکل کړل او هغه هم ډیره شیبه په غیږ کې ونیو ، بیا یې په لوړ غږ وویل ، " دنارینه وو خویوه خبره یو یې لوز دی ،دخان صیب ټول شرطونه چې ماورسره منلی وو ، اوس به ټول پوره کړم ." جیب ته یې لاس ور وړ خو خان وویل ، " محمداجان خانه ، غټه تیره پرې کښیږده ، ما هسې تاسو ازمییلئ" بیا یې ګلاجان ته په مینه وکتل ، " ګلالی ځوان یې خوارمان چې احمدزی وای ! دجازپه ځای به دې په اوښ باندې سپره وړې وه ."

## دریم څپرکی

دجاپان دهوایی کربنې دمیدان عمله ، پاکستانی وو . چې دګلاجان او روهیلی ټکټونه یې وکتل نو په حیرانۍ یې وویل ، " ماخو پخوا هیجیرې اغوان هغه هم بیا مهاجر نه ولیدلی چې دفسټ کلاس ټکټ واخلي ، داسینګه خبره ده ؟" ګلاجان وویل ، " بس نو همداسې خبره ده چې ده ، شابه ټاپه پرې ولګوه. "ستیوارډ ناغیرۍ شروع کوله خو ګلاجان دوخته په پاسپورټ کې دسلو ډالرو شومه ایښې وه ، دهغې په لیدو ستیوارډ ددمه ولوید، دټکټ پارچه یې بیدو په هماغه ځای په پاسپورټ کې کیښوده چې لوټ یې ترې اخیستی و.

په الوتکه کې دروهیلۍ پام شو چې ټول پیټ پوزي دي . ګلاجان ته یې وویل ، " داخوزموږ هزاره ګان نه دي ، د کوم ملک دي ؟" ګلاجان په خندا

وويل ، " دجاپان " روهيلۍ وويل ، " په جاپان کې څه خاورې غواړو ؟" ګلاجان خواب ورنه کړ ، دهغې او خپل کالي او لاسي بکسې يې پاس په رف کې ځای په ځای کړې ، تکيه يې ووهله او ايله يې ددمې اوږده سارابنکله . روهيلۍ هره خواکتل ، تروره وه ،خوبيا يې چې څنګ ته ګلاجان وليد چې پټې سترګې ارام پروت دی ، زړه يې تسل شو ، دګلاجان په اوږه يې سر کيښود ، پرمبنی (پريشانی) يووړه . لوډسپيکر راپاڅوله ، " دهند په سمندر جنوب ته الوزو ،ستاسو دارامۍ اوښه سفر په تمه ، کپتان نيګوسا وا، په خير راغلی وايي." ورسره جاپانی کوربنو( ستيوارډيسانو) په پتنوسونو کې شربتونه راوړل ، چې يې ګلاجان او روهيلۍ په خوب کې وليدل ، ويې موسل،دوه سپين ګلان يې په ارامه دروهيلۍ دلمنې په ځولۍ کيښودل او ترې تيره شوه ."

ډير وروسته ، چې کوربنو ، دالوتکې پردې رابنکلې وې،تول ويده وو ، روهيلۍ ولتيده ، په لمنې کې يې ګلانوته پام شو ، هغه يې په مينه را اوچت کړل ، خوږه ورمه يې راتله . ګلاجان يې چې لاويده و ، په نيغږک وواهه، "داڅه بنګ دې خوړلی چې پرکاله پروت يې ؟" ګلاجان يوه سترګه خلاصه کړه ، او ويې موسل ، "دادرې شپې دواړو بې خوبی تيره نه کړه څه ؟" روهيلۍ په غوسه وويل ، " بې شرمې سترګې وخورې . داګلان تاايښي وو ؟" ګلاجان يوګل ترې واخيست ،بوی يې کړ ، " زه وخدای ، دسنځلې عطر يې پرې وهلي . " روهيلۍ وويل ، " دلته څه سنتيا زهر شته ؟ زه ورې يم ." ګلاجان دسر دپاسه رښاتنۍ کښيکاږله . کوربنه راغله ، "تاسو ويده وئ ، نورو ډوډۍ خوړلې ، تاسو ته به ډوډۍ راوړم ، څه فرمايش لرئ ؟" ګلاجان وويل ، " نه بس دومره پام کوه چې دسور غوښه پکې نه وي ." روهيلۍ په کرکه تندی تريو کړ ، " دخنزير غوښه يياق!" کوربنې وخندل ، " ورته کړي سمندري خواړه څنګه ؟" ګلاجان وويل ، "سمه ده " هغه روانه شوه خو روهيلۍ ورپسې غږ کړ ، " چې اوس کوني کبرانه ورې ؟" ګلاجان وخندل ،" غم مه کوه ، په پښتونه پوهيږي ، نوګوره چې شيژګی به خورو او که چونګښه ." روهيلۍ په اوږه وار ورکړ ، " خوامې مه راهسکوه ، بې هغې مې هم په الوتکه کې سرګرځي ." ګلاجان په مينه ورته کتل ، دروهيلۍ رنګ سور شو ، "داسې راته مه ګوره ، خلک به څه وايي ؟" ګلاجان کټ کټ وخندل ، " ربنتيا چې خلک به راپسې ډيرې بدې خبرې وکړي . وايی به چې ،

په همدې کې لوډسپيکر غږ کړ ، " ميرمنو او ښاغلو، کپتان نيکوساوايو ځل بيا تاسوته هر کلی وايي . داپيرته ، زموږ سپيشل هر کلی زموږ هغو دوو مسافرو ته دی چې درې ورځې دمخه يې په پاکستان کې واده کړی ، ښاغلی ګلاجان او ميرمن يې. دکپتان او دجال هوايي کربنې دا ړخه ، موږ هغوی ته يوه تحفه لرو ، هيله ده چې ميړه اورته کاک پيټ ته تشريف راوړی ." ګلاجان او روهيلۍ يو بل ته وکتل ، روهيلۍ وويل ، " داخه پرتې وايي ؟" په همدې کې کوربنې په يوه لوی پتنوس کې ددوی خواړه راوړل ، سره کړي کبان ، ليمو ، دشنې دنيا او مستو سره . دپتنوس په مينځ کې په يوه ګيلاس کې بيا دوه سپين ګلان ايښي وو. دګلاجان پام شو چې نورې سپرلۍ په غلچکي نظر دوی څاري ، روهيلۍ هم پوهيده چو رت يې نه وخراب ، ګلاجان چې دهغې هرې خبرې او هر حرکت ته پام و ، ليدل چې هغه دخلکو ددې دومره توجه نه خوند اخلي .
پس دډوډۍ چې کوربنې پتنوس وچت کړ ، ګلاجان پاڅيد ، روهيلۍ يې تر لاس ونيوله او دکاکپيټ په لور يې روانه کړه ، په لار کې ، ناستو مسافرانو ورته لاسونه و پړقول او ګلاجان دې ته حيران چې روهيلۍ ترې خوند اخلي او هر مسافر ته، لکه ملکه ، رعيت ته په موسکا د سراشاره کوي .
چې بيرته راغلل نو دروهيلۍ په غيږ کې دګلانو ګيډۍ او دګلاجان په لاس کې دتحفو کڅوړه وه . سيټ ته د رسيدو سره ، ګلاجان روهيلۍ نه غيږ چاپيره کړه او دمچې کوشش يې وکړ ، خو روهيلۍ په داسې قوت پورې واهه چې ګلاجان په سيټ پريووت ، دنورو سيټونو مسافرانو دخندا غريو جوړ کړ او يوه بوډا غږ کړ ، " غم مه کوه ، زه هره ورځ همداسې وهل خورم." بياټولو وخندل.
روهيلۍ لکه ماشوم ، ګلان په غيږ کې نيولي وو ،ناز يې ورکاوه . بيا يې ګلاجان ته وويل ، " ته خودرف نه زما توره بکسه راواخله !" ګلاجان پاڅيد ، دنورو سپرليو نه يې معافي وغوښته ، اوپه احتياط يې بکس راکوز کړ . روهيلۍ يې سر خلاص کړ اويو خيرن کالی يې چې څه پکې نغښتي وو ترې راوچت کړ، ګلاجان ته يې ونيو ، "خلاص يې کړه " ګلاجان خيرن کالی ول په ول ترې لرې کړ ، په تعجب يې وليدل چې هماغه مجسمه ده چې ده په سمڅ کې ليدلې وه، نارينه او ښځه غاړه غړۍ پرله اوښتل . روهيلۍ دشرمه مخ بل پلو نيولی و ، اوبې له دې چې ورته وګورې وويل ، " تارو اکا وَيل چې داګلاجان ته ورکړه . "

ګلاجان مجسمه لره وبره کوله او ځينو سپرليو هم غاړې دزانو په شان اوږدولې چې داتماشه ووينی . ګلاجـان روهيلـی تـه وويـل ، "يـو خوبـه شـانه رااړوې ، مجسمه ده ، ژوندی شی خونه دی ، ولې شرميږې ؟ زه خبرنه وم چې تارو اکـا لوی غل دی ، داخود اوغانستان دارایی ده ، ماته يـې څنـګه راکـړه ، زه ورتـه قاچاقبر ښکاره شوم که څنګه ؟" روهيلی په ملنډو وويل ، "رنـګ خـو دې دغلـه دی ، خوچې هير مې نشی، تارو اکا دادين هم په تا ايښی و چې دا امـانت بـه داسې ساتې ، لکه ، هغه زمانوم ياد کړ ، لکـه روهيلـی !" ګلاجـان وويـل، " دتـا دامانت ساتلو خو څه نه شم ويلی . خو دابوت چې امـانت وسـاتم نـو بيـا يـې څنګه کړم ؟"روهيلی وويل ، "تارو اکا ويـل چـې افغانسـتان خـدای ددې غمـه خلاص کړي بيايې بيرته په خپل ځای کښيږده . هغه ويل چې روسان او ځينـې قوماندانان اوس داسې دي ، لکه ګور ګوتي ، بس سمڅې را سـپړي اوخزانـې ترې لوټوي . ويل يې ددغه بوت آوازه هم ، لکه چې حکومت تـه رسـيدلې وه او دغلا ويره وه ." ګلاجان مجسمه بيرته په زړوکې کې تاو کړه ، روهيلی تـه يـې ورکړه چې په بکس کې يې کښيږدي . روهيلی وويل ، يوه پوښتنـه درنـه کـوم ، پوښتنه هم نه ده ، هسې سودا ده چې ووزي ، هغه داچې ، بيا يې ګلاجان تـه په ځير وکتل ، هغه دپوښتنې په انتظار ، شاته ډډه ووهله ، سترګې يې پټې کـړې او روهيلی وويل ، "ته ليونی نه يې ؟ ګلاجان يـوه سـترګه خلاصـه کـړه، ويـې رپوله او بيرته يې پټه کړه ، "په تاسو احمدزو کې ، لکه چـې دامتـل نشـته چـې کورته کيږدی.مه وايه ، ميړه ته ليونی ." روهيلی په غوسه وويل ، "متل دې هـم غلط تير کړ ، زه درنه پوښتنه کوم او ته لکه چار تراش بيغمه پروت يې."ګلاجـان وويل ، " بيغمه نه يم ، هسې خوبيولی يم ." روهيلی وويـل ، " زمـا پوښتنـه داوه چې ته خوبه ليونی نه يې ؟" ګلاجان همداسې پـه پټـو سـترګو ځواب ورکړ ، اوس کار دکاره تير دی ، ليونی که په سد ، راسره کيوتې . که ډيره دې تلوسـه وي ، پيلوټ ته به ووايم ، چې ور درته پرانيزي ، پاراشوټ خونشته ، ايسته به پـه خوا کې هوا ګير چکرونه وهې . چې به پـه سـری خـوروپيښه شـې او کـه بـه دنهنګانو شومه ." روهيلی نوره هم په غوسه شوه ، " ګلاجانه ستاسـره ټوکـې نـه جوړيږي ، هسې ا دليونتوب خبره مې کوله ." ګلاجان وويل ، " زه يې ليونـی سهي ، نورڅه ، يې ؟" خوروهيلی اوښتونې نه وه ، " که مې خبروته غوږ نه نيسې

تر اریزوناپورې به خولې ته جنډره واچوم ، درته ګورم به لانه ." ددې سره یې مخ بلې خواته واړاوه او دویښتو په چوټي کولو لګیا شوه . ګلاجان یې په اوږه لاس کیښوداوبیرته یې ځانته راښکله ، هغې سترګې ټیټې اچولې وې . ګلاجان یې دخوشالولو دپاره بدله سرکړه ، "سامې په ختو وای خوچې تاراته کتلی زه دې لیونی وای خوچې تاراته خندلی." روهیلۍ له خندا شنه شوه او دواړه لاسه یې دګلاجان له غاړې چاپیر کړل ، دکوریدو ور په منځ لار کې بیادخوراک ریړه روانه وه . کوربنې هرې خواته سپرلیو ته وړوکي پتنوسونه ورکول . ګلاجان هم لاس ور اوږد کړ،خوروهیلۍ ، یې لاس بیرته په خپلو زنګنو کیښود ، کوربنې ته یې دتګ اشاره وکړه . بیا یې ګلاجان ته په سره سینه وویل ، " ماتوکې نه کولې، زه خپله خبره سمه کولی نه شم ، خو یوه پوښتنه لرم ، اجازه شته ؟" ګلاجان بیرته تکیه وکړه، دهغې سرې په خپل ټټر پورې ونښلاوه او ویې ویل ، "شل پوښتنې خووکړه !"روهیلۍ وویل ، ته یو عجیبه غوندې بنیادم یې !" ګلاجان وویل ، " داخوپوښتنه نه شوه ." روهیلۍ لکه چې دده خبره یې چې نه وي اوریدلې خپلې خبرې کولې ،" هسې خوپه ظاهره جټ ، شډل ښکارې ، خوهسې نه یې لکه چې ښکارې ." ګلاجان بیا خبر وته ورودانګل خو روهیلۍ یې پخوا تر پخوا په خوله لاس کیښودل. تیار دشیعه قبر یې چې خلک وایي دبهر نه ښکلی او صفا ښکاري او دننه اور پکې بل وي . خبره مې مه غوځوه ماچې ته پیژندلی یې هسې دبهرنه دې پیژنم ،خو دبهر نه دې چې ګورم هم ، بس کانې پاس ارتوې او سرتر لاندې نیسې ، لکه دسر دماتیدو نه چې خوند اخلې.دالیونتوب نه دی ؟" ګلاجان لا ځان خوبیولی نیولی و ، د ماشوم په ژړه غونی غږ یې وویل ،" روهیلو ببو ، منت درته کومه ، هغې کوربنې ته وایه چې څه زهر ومرګ را وړی ، کولمې مې کورت شوې ." روهیلۍ وویل ، " ولې ځان نانګاره اچوې، ولې خبرې مروړې ، ځواب ووایه !" ګلاجان وویل ، " نوڅه ووایم روهیلو ببو ، ببو نانداني ، ستاسو خبر، بو څه سه خوله راکه . روهیلو ببو ، بنیادمان یو شان نه دي . زه خدای همداسې کړی یم ." روهیلۍ وویل،"هغه دآس سپرلو دې په یاد ده ؟ ګلاجان وویل ، د کوم آس ؟" روهیلۍ وویل ،" په اریزونا کې ." ګلاجان ، لکه ایله یې چې پام شوی وي ، " هغه درودیو سپرلۍ نښې؟هو هغه مې په یاد ده ، چې نږدې دې ښکل کړی وم ." روهیلۍ په

ګاروویل ، " ډیر ځانته خامتمایې ، خداکه مې چورت دربانډې خراب و ، هسې مې سټا په لیونتوب زړه سوځیده ."ګلاجان وویل ، " خبره دې دآس دسپرلو کوله ، په یاد مې ده ، نوڅه ؟" روهیلۍ وویل ، "بیا دې په بهسودو کې خپله کلانکاري په یاد ده چې ځان دې مرګ ته ورکړ ؟" ګلاجان په خندا ځان پاځیدو ته جوړکړ ، "نجلۍ ، کوربنې ته زنګ وهې او که زه په خپله ورپسې لاړشم ؟" روهیلۍ وویل ، "اول ځواب راکړه ، بیا به کوربنې ته ووایو چې دواړو ته ډوډۍ راوړي ." ګلاجان نا چاره په خپل ځای کښیناست ، " زوره وره یې نو زه څه ووایم. زه په خپله دپښو پسې نه یم ورغلی ، دوی په ما راپیښېږي .بیا نو دمجبورۍ ورځې ، چې دبلانه تیښته نه وي ، نو مخامخ پرې ورځم ." روهیلۍ وویل، "پلارمې تل دکوم قسم شي چې دی یې چینجی بولي ذهغې خبره کوي چې وایی دپښتنو په ماغزو اویا کوم بل ځای."

ګلاجان خبره ورپرې کړه ، "همدابل ځای یې صحیح دی ، چې سړی سابه ناوللي وخوري ، دننه چینجی پرې لګیږي ." روهیلۍ بې حوصلې شوه ، " ته خوپخوا دومره نخره ګر نه وې ، داځنګه اوس دطوطی په شان په خبرو راغلې؟ خبره مې کوله ، پلارمې وایي چې دلویو پینو ، دمقابلې او لویو آفتونو په وخت کې دا چینجی غونځیږي." ګلاجان وویل ، " دواده په شپه هم خان صیب همدا خبره کوله خو بې غمه اوسه په ماکې چینجی مینجی نشته ، دامریکا ډاکترانو معاینه کړی یم." روهیلۍ خپله خبره کوله ، " خوزه وایم که په پښتنو کې په رښتیا چینجی وي نو په تاکې تور غاړي" بیانو دواړو کټ کټ وخندل ، ګلاجان وویل ، " دهمدغو چینجو بړکت و چې تاغوندې ښاپیری مې سرپه سینه ایښی دی ." روهیلۍ دشرمه سره شوه خود خبرونه اوښتونې نه وه ، " ځواب غواړم." ګلاجان وویل ، " خیر اول خولګۍ راکړه !" روهیلۍ په مینه ناک غږ وویل ، « بیشرمه سترګې دې وخورې ." دواړه په فکر کې ډوب شول ، ډیر وروسته ، ګلاجان په سیټ بانډې نیغ کښیناست او وې ویل ، " روهیلو ، خداکه خوزه پخپله هم پرې پوه یم چې ولې ، خویو وخت زماتوږ پوستي ملګری ، کره کولي دیوه پرنګی کیسه راته کوله چې خدازده څه نومیده خودهمالیا دغره په دنګه څوکه چې ایوریسټ نومیږي ختلی و . کره کولي ویل چې تر هغه وخته نو دبنی بشر پښه دې څوکې ته نه وه رسیدلې ، نوبیا لکه چې چاددغه غره

ختونکی نه پوښتنه کړې وه چې ولې ، څه ضرور و، څه بلا پسې اخیستې وې چې دادې دځان سره وپتیله چې په دې څوکې بـه خامخا خیژې؟ پوهیږې دهغه ځواب څه و ؟" روهیلی هم تعجب اخیستې وه ، ویې ویل ، "نـه ، تـه یـې راته ووایه !" ګلاجان په نرۍ موسکا سروښوراوه ، " هغه ویل داځکه چې غرمـې مخې ته ولاړو ، خوزه وایم په دې پرنګې ، کې به هم دېښتنو کـوم رګ هماغه چینجن رګ پروت و . چې داغر یې لیدلی چې دنـګه غـرۍ ،پـه ځان غـره ولاړ دی،کوزټول دخـاورو بنیادمـان وینـي نوهـر یـوه تـه پټـون وهـی ، چـې داګز دامیدان .

زه هـم کلـه دځان سـره وایم ، هلکـه مـهاجرخدای کـړې ، کـاپـر چاکړې.دادناممکن خبره چاراایستې ده .دتیرې دیوال که هـم وي ،نوخـدای تندی درکړی دی ، که هغه مات نشي ، ستاسو خوبه مات شـي ، تاخوبـه خپلـه وسه کړې وي. بنده دخپلې وسې پورې پړ دی . چې وایې نه زمیبې څنـګه بـه پرې پوه شې ، خپل چینجی به څنګه بیرته ویده کړې ، زه یې هم نه شم ویلـی خو چې مې ځان ازمیبلی نه وي خوب نه راځې اوس خوبه خوله راکړې ؟"

روهیلی وویل ، لکه ده چې هیڅ نـه وي ویلـي خپلـه خـبره ونیولـه ، "کلـه داسې وخت هم دربانډې راغلی چې ته مقابله کوې اوپه همـدې وخـت کـې دناکامه کیدو ویره دربانډې راشي ؟" ګلاجان ، لکـه دځانـه سـره چـې غږیـږي وویل ، " هو ، یو ځلې ، دغزني اوخوست په لارکې ، چې پاس بره ګی راغلې او کوز قوه راختله ، زه اونرسولا د میږو درمـې سـره دغـره پـه ډډه روان وو ، کـه ځانله موږ وای ورځه ځانونه به مودکوم ګټ شاته پنا کړی وو،خو میـږې وې او په هغوی بیړه هم نه کیده ، بیغمه یې هرې ونې غنې ته کپونـه اچـول او چـې سپي به یې یوه خواراټوله کړه ، بله خوابه وشړیده. هماغلتـه فکـر راغـی چـې داهوډ، لکه چې ابتـه شـو ." روهیلـی وویـل ، " کـوم هـوډ ، دمیـږو د سـلامت رسولو؟" ګلاجان موسک شـو ، " سـتا دخپلولـو هـوډ." روهیلـی وویـل ، " تـاخو داکیسه زما پلارته تیره نه کړه !" ګلاجان وویل ، "نرسولا ته مې هـم قسـم ورکـړ چې خان صیب خبرنه کړي ." روهیلی وویل ، "که خدای مه کړه تـه مـړوای ؟" ګلاجان سر وښوراوه " مرګ داجله پورې دی خوبده به داوه چې ماهوډ نه وای پوره کړی. بیا یې وویل ، " یره کوچی ، زما په ژبه خوبـه دیـرې زارۍ وژغونـي

شنه شول ، چې یوه خوله دې راکړې وای ؟" روهیلۍ په خندا او تعجب ورته وکتل ، "همدلته ، په هواکې ؟" ګلاجان ورته ویل ، " مادې خدای بیصبره نه کړي ، همدلته په هوا کې یې غواړم ." روهیلۍ سروښوراوه ، " بیړه ولې کوې ، چې کورته ورسیږو ، هغه لنډۍ څنګه ده ؟" ګلاجان وویل ، " بیا یې لیمڅی کړه پرې کوه دناز خوبونه ، همدالنډۍ ښیې ؟" روهیلۍ دتسلیمۍ په خندا وویل ، "ډیر شیطان یې ، خلک ټول راته ځیر دي ." ، ګلاجان دروهیلۍ پړونۍ دسیټ مخې ته پرده کړ ، ویې ویل ، " اوس مې ځوځ ماځوخ دکوه قاف نه واړول ، بله بانه خوبه نه لری ؟"

PROPERTY OF ACKU 10809

PROPERTY OF ARIC Established 1989

(c) Ketabton.com: The Digital Library

دانش خپرندویه ټولنه
+۹۲-۹۱-۲۵۶۴۵۱۳ ☎

چاپ: دانش کتابخانه، قصه‌خوانی بازار- پېښور

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**